
تعبیر کائنات
میاں نثار علی

ب

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

ت

د لیکوال پېژندګلو

نوم	میاں نثار علی
د پلار نوم	میاں سید عثمان
کلے او علاقه	ګلیګرام مرغزار سوات
د زېږون ځائې	ګلیګرام مرغزار سوات
د زېږون نېټه	ړومبی جنوری کال ۱۹۷۴ ء
تعلیم	بی۔ایس۔سی ‹بیالوجیکل سائنس›
	ایم۔اے ‹انټرنیشنل ریلیشنز›
هلې ځلې	مرکزی صدر
	پاکستان رائټرز کلب ریاض۔سعودی عرب
پوره درک	کلے ګلیګرام۔ډاکخانه سېدو شریف تحصیل بابوزی
	ضلع سوات۔صوبه سرحد۔پاکستان
ای۔میل	Nisar712@hotmail.com
	Nisar 712@yahoo.com

ددې کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم	تعبیرکائنات
د لیکوال نوم	میاں نثار علی
د چاپ کال	۲۰۰۶ء
کمپوزنګ	ولی خان بونیری
ایډیټنګ	صابر حجازی
سرپاڼه (ټائټل)	صابر حجازی
د چاپ وار	ړومبے ځل
شمیر	یو زر (۱۰۰۰)

تړون

د خپل خُدائې بخښلي پلار په نوم

چا چې د ژوند په هر موړ ماته لارښودنه
کړې ده او ماته ئې ډاډ راکړے دے۔

د خپلې خوږې مور په نوم

د چا د دُعاګانو په سپوری کښې چې د ژوند
په کړنو لارو په کامیابی سره تګ کؤوم۔

میاں نثار علی

فهرست مضامين

شمېره	سرلیک	مخ
	سريزه	
	د کائنات پهٔ لټون کښې	
	روح الامين نایاب	
	د رڼا پهٔ لوری	
	صابر حجازی	
	پېرزوئنې	
	ميان نثار علی	
1-	اول ټوک	
1-1-	خدائې پاک	31
1-2-	کائنات	37
1-3-	زمکه	43
1-4-	اسمانونه	48
1-5-	نمر	52
1-6-	سپوږمۍ	55
1-7-	فرښتې	56
1-8-	پېريان (جنات)	59

شمېره	سرلیک	مخ
1-9-	انسان	65
2-دوئم ټوک		
2-1-	د حضرت ادم نه تر د حضرت ابراهیم پورې دور	71
2-2-	حضرت نوح او غټ طوفان	73
2-3-	د ډاروین نظریه	79
2-4-	په دنیا کښې مختلف مذهبونه او د هغې سرپرستان	82
2-4-1-	جوډئېزم (Judaism) - یهودیت	83
2-4-2-	حضرت موسی علېه السلام	85
2-5-	هندوئېزم (Hinduism) – هندومت	97
2-6-1-	بدهئېزم (Budhism) - بدمت	100
2-6-2-	سدهار تها ګوتما بدهه (Siddhartha Gutama Buddah)	103
2-7-1-	عیسائیت (Christianity)	110
2-7-2-	حضرت عیسی علېه السلام	113

2-8-1-	اسلام	117

شمېره	سرليک	مخ
2-8-2-	پهٔ اسلام کښې د عبادت قسمونه	120
2-8-3-	اهل حديث او اهل سنت	123
2-8-4-	سنی او شيعه	127
2-8-5-	حضرت محمد صلی الله عليه وسلم	132
	درېم توک	
3-1-	پهٔ دنيا کښې د انسان پهٔ مختلف برخو کښې وېش	143
3-2-	براعظم ايشياء	145
3-3-	براعظم افريقه	146
3-4-	براعظم شمالی امريکه	148
3-5-	براعظم جنوبی امريکه	150
3-6-	براعظم انټارکټيکا	151
3-7-	براعظم يورپ	152
3-8-	براعظم اسټرېليا	153

شمېره	سرلیک	مخ
4-ځلورم ټوک		
4-1-	د انسان او دنیا د ختمېدو نخښې (د قیامت نخښې)	154
4-2-	د امام مهدي راتګ (ظهور)	158
4-3-	د دجال راتلل	170
4-4-	د حضرت عیسی علیه السلام بیا دنیا ته راتلل	179
4-5-	یاجوج ماجوج	183
4-6-	دنمر د مغرب اړخ نه راختل	190
4-7-	د لوګي راتلل	191
4-8-	د زمکې چاؤدل	192
5- پنځم ټوک		
5-1-	د قیامت ورځ	194
5-2-	د حساب کتاب ورځ	201
5-3-	جنت	208
5-4-	دوزخ	218

د کائنات پۀ لټون کښې

د انسان او د کائنات اړیکې د ډېر پخوا راسې رارواني دی . انسان تل د کائنات متعلق پۀ تجسس کښې راغلے دے . اسمانونو ،ستورو، نمر او سپوږمۍ ته ئې د شوق پۀ نظرونو کتلي دي . د عیسی علیه السلام نه خواوشا شپږ سوه (600) کاله پخوا یونانی فلسفی ثالیس پۀ رومبی ځل د کائنات متعلق سوالونه اوچت کړل . د ثالیس عظمت او لوئی د هغۀ د کائناتو د فلسفې متعلق نۀ دے بلکې د هغۀ اهمیت د هغۀ د کائناتو متعلق سوالونو کښې دے چې هغه د کائناتو متعلق د سوال کولو جرأت اوکړو . اګر چې هغۀ دنیا پلنه او د اوبو پۀ سر لامبوزنه ګرځولې وه خو هغه ډېر غټ ستاره شناس (ستوری پېژندونکے) وو. هغه د نمر د تندر یو نیم سل (150) کاله اګاهو پېشنګوئی کړې وه او هغه پېشنګوئی پۀ خپل وخت صحیح ثابته شوه .
پۀ قران شریف کښې د کائناتو متعلق ډېر ښکاره ایاتونه راغلي دي او انسانانو ته بیا بیا بلنه ورکړے شوې ده چې

غور پرې اوکړي اود ځان د فائدې دپاره ترې حکمت حاصل کړي خو افسوس مونږ مسلمانان په دې حقله ډېر وروستو یو۔

په موجوده مادی دور کښې او جهالت په دې تیارو کښې د میان نثار علی د کائنات په حقله په پښتو ژبه کښې کتاب د علم پلوشه لری۔ په پښتو کښې لیک هسې هم کم دے۔ پښتو زمونږ مورنۍ ژبه ده ځکه پښتانۀ ئې وئېلے شی۔ خو لوستل او لیکل نۀ شي کولے۔ پکار ده چې پښتانۀ د پښتو ژبې د لیک او لوست احساس په ځان کښې پېدا کړي۔ پښتانۀ د پښتو په کتاب ، رساله او اخبار پېسې ورکول ناروا ګڼي۔

میان نثار علی یو تعلیم یافته او حوصله مند شاه زلمے دے۔ هغه په وادی سوات د ښکلې او ښائسته سیمې مرغزار کښې د یو تاریخی کلی ګلیګرام اوسېدونکے دے۔ د سوات زمکه د شنو باغونو ، چینو ، چنارونو او دریابونو زمکه ده۔ او په ښائست کښې په ایشیاء کښې ثانی نۀ لری۔ او ځکه خو وادی سوات ته د (ایشیاء سوئټزرلېنډ) وائی۔ خو دا زمکه په ادب کښې هم خېرازه ده ۔ دې زمکې ښکلې

لیکوال او شاعران پیدا کړي دي. دا د لائق زاده او پروېش شاهین زمکه ده.

میان نثار علی پهٔ انټر نېشنل ریلېشنز کښې د پېښور یونیورسټۍ نه ایم. اے کړے دے. هغه بی ایس سی (بیالوجیکل سائنس) هم کړے دے. پهٔ پښتو ، اردو ، انګریزۍ ، فارسۍ او عربۍ ژبو باندې عبور لری. یو سوشل زلمے دے. د ادب سره مینه لری. پهٔ ریاض سعودی عرب کښې د (پاکستان رائټرز کلب) مرکزی صدر دے. پهٔ ادبی غونډو کښې ناست پاست دے او خپل ځان ته یوه حلقه لری. د ملکی او بین الاقوامی روانو حالاتو هر وخت معلومات لری ، په خصوصه توګه پهٔ معاشیاتو هم پوره پوهه لری.

د میان نثار علی سره زما د ډېر وخت نه تعلقات راروا ن دي. هغه چې کله ماته پهٔ دې سر لیک (موضوع) باندې د څهٔ لیکلو وېنا اوکړه نو اول خو زما دا یقین نهٔ راتلو. زما دا خیال وو چې نثار صبب هسې خبره کوی ، ولې چې پهٔ دې عمل کول ډېر ګران کار دے. لېکن زهٔ د هغه محنت او کړاؤ ته حېران شوم. ولې چې هغهٔ پهٔ ورځو او شپو د مختلفو کتابونو مطالعه کړې ده. ددې حده پورې چې هره

ورځ به ماښام کتابتون (لائبریرۍ) ته تلو او د معلوماتو حاصلولو دپاره ئې هلې ځلې کولې.
دا د هغهٔ کمال دے چې د کائناتو متعلق مختلف مذهبی او سائنسی معلومات ئې ډېر په ښکلی او لنډه طریقه راغونډ کړي دي او يوه موضوع ئې هم ترې نهٔ ده پرېخودې. زما دا خیال دے چې د ادب په دنیا کښې دا ډېره ګرانه موضوع ده. زهٔ د نثار صېب جرأت ، مړانې او حوصلې ته داد ورکوم چې هغه دې ګرانې موضوع ته ملا اوتړله او د شواخون او ځیګرخون کړاوونو نه پس ئې کتاب پائې ته اورسولو او اوس "تعبیر کائنات " د هر پښتون ځوان په لاس کښې دے منم چې کتاب کښې به کمے وی. غلطیانې به وي خو کمے او غلطیانې په مسلسل عمل کولو سره صحیح کېږی. د هغه غټه مړانه لکه د "ثالیس" فلسفی په یو موضوع باندې قلم پورته کول دی. د غلطیانو نه د صحیح نتیجو راویستل د تاریخ د ارتقائی عمل کار دے.
میان نثار علی صرف په کائناتو بحث نهٔ دے کړے بلکې په کائنات کښې د انسان د سفر او منزل تابیا ئې هم کړې ده. ورسره ئې په ټولو تخلیقی فلسفو او الهی مذهبونو هم قلم اوچت کړے دے. کهٔ هغه بدها دے او کهٔ هغه هندومت ،

يهودا او عيسى علېه السلام او کۀ اخرى پېغمبر محمد صلى الله علېه وسلم او د هغۀ مذهب اسلام دے.
هغه د ټولو مذهبونو پۀ لنډه توگه سره خو جامع غېر جانبدارانه جائزه اخستې ده. نثار صېب پۀ خپل لوستونکی څۀ بوجهـ نۀ دے غورځولے او نۀ ئې څۀ د خپلو خيالاتو د منلو دپاره مجبوره کړے دے. هغه خو هر څۀ صفا لکه پۀ مېدان خوارۀ کړي دي. د حق ، انصاف او برابرتيا پۀ تله ئې هر څۀ تول کړي دي او خوښه ئې خپل لوستونکو ته پرېښودې ده چې هغه څۀ خوښوي او څۀ غوره کوي او دغه د يو غېر جانبداره محقق نخښه ده چې هغه د خپلو خيالاتو پۀ زولنو کښې د انسان ذهن نۀ بنديوان کوى او پۀ دې تجربه او امتحان کښې نثار صيب پوره پوره بريالے شوے دے.
(تعبير كائنات) يو وړوکے ولې جامع کتاب دے او پۀ هره موضوع چې د انسان سره تعلق لرى لنډه تبصره شوې ده.
زۀ د ميان نثار على دې کامياب زيار ته د تحسين او تعريف پۀ سترگه گورم او هغه د ډاډ او ستائنې جوگه گڼم. هغه له دې الله نور همت او حوصله ورکړى چې قلم ئې روان وى. کۀ يو پښتون ځلمے هم دا کتاب پۀ غور سره اوگورى

او څۀ زدۀ کړه ترې او کړی نو زۀ به دا وایئم چې د نثار صیب کوششونه او کړاؤنه به ځائې اونیسي او هغه ته به د خپل کړاؤ انعام مېلاؤ شی۔ پښتنو له پکار دي چې علم ته توجه ورکړي کۀ جائېداد ، کالي پتري ، کورونه خرڅ کړي خو چې علم حاصل کړي نو لکه چې دنیا پۀ ښېعه واخلي۔ انسان کۀ هر څۀ اوبائېلی خو چې علم اوګټی نو هېڅ ئې هم نۀ دی بائېللی۔ ولې چې د ټولو نه غټ دولت د علم دولت دے۔ الله تعالی دې اوکړی چې ټول پۀ دې دولت دولتمند شي۔
امین !

روح الامین نایاب
صدر
پښتو ادبی غورځنګ ریاض – سعودی عرب

د رڼا په لوری

د الله تعالی په خوره او پراخه دنیا کښې چې د انسان د عقل او فکر نیلے تر کومه حده زغل کولے شی نو دغه انسان ته د نظر په هر پړاؤ د الله تعالی د وحدانیت او لوئې والی نخښې نخښانې په ډاګه برېښی ـ دغه وجه ده چې کۀ چرې څوک د الله تعالی د لوئې والی ننداره کول غواړی نو هغه له د څۀ وخت دپاره د ځان نه د چاپېره په خور کائنات غور اوفکر کول پکار دی او دا یوه داسې یواځینۍ فلسفه ده چې هغه ټول رازونه برسېره کولے شی د کوم دپاره چې الله تعالی دنیا ته د انسان راوستل د خپل عبادت دپاره مقصودګڼل او انسان له ئې په دې لړ کښې د خپل نائب (خلیفه) درجه ورکړه ـ په دې لړ کښې د یو انسان دپاره د الله تعالی عبادت او حکمونه منل ددۀ د روح او وجود یو فطری عمل دے ـ خو ولې ددې سره سره الله تعالی د انسان د فائدې هم پوره پوره خیال ساتلے دے او د انسان دپاره ئې

ټول کائنات مسخر کړي دي ـ اوس دا د انسان د کړاؤ او پوهې پورې ده چې د ے د الله تعالی د اړخه د ورکړے شوې پېرزوئنې نه څومره فائده اخستے شی۔
کائنات څۀ د ے ؟
دا یو داسې څېړنیز سوال د ے چې ددې د ځواب پۀ لټون پسې د هر دور سترګه ورو د عقل او پوهې نیلي زغلولي دي خو ولې د خپل تګ تر پائې نۀ دي رسېدلي۔
هر څېړن کار او پوهاند ددې سوال ځواب د خپل عقل او فکر تر حده پورې ورکړے د ے او دا سر لیک (موضوع) نن هم د نوې ژورې څېړنې پامته داره د ے۔
د کائنات پۀ وجود د غور او فکرکولو سره د وخت د همهٔ سترګه ورو د نظر زاویې په یوه سر چینه اودرېدلې دي کومه چې د الله تعالی د ذات د یو والی سر چینه ده ـ هُم پۀ دغه ډګر د هر وخت پوهانو بغېر څۀ د وېرې ترخې نه د الله تعالی د یو والی او لوئې والی اقرار کړے د ے۔
د کائنات سرلیک (مو ضوع) دومره لویه پراختیا لری چې د وخت لویو لویو نوموړو پوهانو او څېړنکارانو پۀ دغه مېدان کښې عاجزی سرګنده کړې ده ـ ولې د خپلې بشپړه څېړنې پۀ دوران کښې هغوئ ته د رازونو یوه داسې خزانه

برسېره شوې ده چې د هغوئ روح ته ترې سکون او ارام مېلاؤ شوے دے او هغوئ د خپل ژوند د مرام پۀ لورې لاره بیاموندې ده.

د کا ئنات ددغه بشپړه څېړنې په نتیجه کښې د (وحدت الوجود) او (وحدت الشهود) غوندې دوۀ غټې نظریې وړاندې راغلي دي کومې چې پۀ نړۍ کښې خپل پۀ لکونو منونکي لري.

د کائنات پۀ پراخه او خوره لمن د الله تعالی د لوئې والی ټولې نخښې نخښانې سرګندې دي. ډېر څۀ هغۀ دي چې مونږ ته پۀ نظر راځي او ځینې حقیقتونه هاغه دي چې هغې ته زمونږ د عقل و فکراو نظر رسد نۀ کېږی.

زمونږ موجوده دنیا ددغه خور او پراخه کائنات یوه وړوکې برخه ده. د نمر ،ستورو ،سپوږمۍ ،غرونو ،دریابونو ،ونو بوټو او ددې نه پۀ اخوا د کهکشانونو پرتې لړئ ددې خبرې غټ دلیل دے چې د کائنات د پراختیا حد د انسان د محدود عقل نه ډېر لرې دے.

د هر دور پوهانو او د علم خاوندانو د کائنات دننه پۀ هر اړخیز توګه بحث کړے دے. سائنسدانانو د خپلو تجربو او مشاهدو په مرسته د کائنات پۀ مخ خوره پړده څۀ لږه

ډېره لرې کړې ده . ددینې علمونو پوهانو او عالمانو د عقلی دلیلونو پۀ مرسته سره د کائنات د وجود د ځینې اړخونو نه پرده اوچته کړې ده او د څېړنې دغه کار تر ننه پورې رارواں دے چې د موجوده دور د سائنسی الاتو پۀ جوړېدو سره ډېرې ا فسانې پۀ حقیقت کښې بدلې شوې او ډېر رازونه رازونه پاتې نۀ شو.

د کائنات پۀ سر لیک ددنیا د مختلفو ژبو پوهانو کار کړے دے . پښتو ژبه او ددې ویونکې هم پۀ دې مېدان کښې د چا نه روستو نۀ دی.

پښتو ژبه پۀ دې لړ کښې ښۀ غنی ژبه ده او د سائنس او کائنات پۀ حقله پکښې ډېر لیک شوے دے چې د پښتو ژبې کتابتونونه ترې نه ډک دي. ولې د ټولو نه د بد مرغۍ خبره داده چې پۀ پښتون قام کښې ددینی او عصری علمونو د کمی پۀ وجه تر دغه مرامه څوک نۀ دی رسېدلي چې ددغه نایابه ملغلرو نه فائده پورته کړي.

پۀ موجوده دور کښې پۀ پښتون قام کښې یوه نوې جذبه اوذهنی وېښوالے راپېدا شوے دے . پۀ دې لړ کښې پښتنو لیکوالو او پوهانو او د خپرندویه ذریعو (مېډیا) واکمنو هم پوره لاس کړے دے.

د ژبې او ادب ،فلسفې ،سائنس اوڅېړنې ،مذهب ،معاشيات او پهٔ نورو ډېرو سرخطونو باندې ډېر د قدر وړ کتابونه چاپ شوي دي او دا لړۍ جاري ده.

تعبير کائنات ددغه لړۍ يوه ځانګړې برخه ده.

تعبير کائنات د نوموړي ،ځوان څېړنکار ښاغلى ميان نثارعلى ړومبے قلمي زيار دے چې د قدر او ستائنې وړ دے.

پهٔ پنځه ټوکه باندې اړه لرونکې پهٔ دې کتاب کښې ښاغلى څېړنکار يوه نوې لار خپله کړې ده. تعبير کائنات د سائنس او قران و حديث تر مېنځه پهٔ کوټلې توګه موازنه کړې ده او پهٔ ډېر مدلل انداز سره ئې د مروجه سائنس ځينې نظريې او مفروضې رد کړې دي او ځينې نظريې ئې د قران و حديث پهٔ مستند و حوالو سره صحيح ثابتې کړې دي او د مغربي سائنسدانانو او مفکرينو د غرور ملا ئې ماته کړې ده.

ښاغلى ميان نثار على د خپل قلم پهٔ جادو سره د کائنات پهٔ سر ليک باندې داسې زړهٔ راښکونکے ليک کړے دے چې لوستونکي پهٔ دې مجبوروي چې هغوئ دا کتاب پهٔ يو ځل د سر نه واخله تر پائې اولولي.

د تعبير کائنات پهٔ ړومبي ټوک کښې ښاغلى ليکوال د توحيد د بنيادي نکتې نه پېل کړے دے او ړومبے سرخط ئې د خُدائې

پاک (الله) نه شروع کړے دے ۔ ددې سر خط لاندې هغه پۀ کائنات او بیا په کائنات کښې د زمکې ،اسمانونو ،نمر ،سپوږمۍ ،فرښتو ،پېریانو ،انسانانو او شېطانانو پۀ حقله پۀ بشپړه توګه بحث کړے دے اوددې دپاره ئې د قران و حدیث د مستندو حوالو سره سره د موجوده مروجه سائنسی څېړنو د حوالو نه هُم پوره پوره مرسته اخستې ده ۔ هغه ډېر پۀ زړورتیا سره د مروجه سائنس ځینې نظریې رد کړي دي او د قران و حدیث پۀ رڼا کښې ئې د سائنس یوه داسې جائزه اخستې ده چې موجوده سائنس د کائنات د معجزو یوه ډېره وړه برخه سرګندیږی۔

د تعبیر کائنات پۀ دوېم ټوک کښې ښاغلی لیکوال پۀ دُنیا کښې د حضرت ادم علیه السلام د دور نه واخله تر د حضرت ابراهیم علیه السلام د دور پورې تفصیلی بحث کړے دے۔ پۀ دې ټوک کښې د حضرت نوح علیه السلام او د غټ طوفان ذکر ډېر پۀ زړۀ راښکونکی انداز کښې شوے دے۔

هغه پۀ دې ټوک کښې د مشهورې سائنسی نظریې (ډاروېن تهیوری) پۀ تفصیل سره تنقیدی جاج اخستے دے او د قران و حدیث پۀ مستندو دلیلونو او عقلی دلیلونو سره ئې دغه نظریه دروغ ثابته کړې ده کومه چې د ښاغلی لیکوال یوه نۀ هېرېدونکې کارنامه ده۔

ددې سره سره هغه پۀ دُنیا کښې د مختلفو مذهبونو او د هغې د سرپرستانو تقابلی جائزه اخستې ده ۔ د دُنیا پۀ مخ د پاتې شؤ انسانی تخلیق شؤ مذهبونو او د اسمانی مذهبونو غټې غټې خبرې ئې پۀ تاریخی حوالو سره لیکلې دي چې پۀ هغې کښې یهودیت ،هندوایئزم ،بُدمت او عیسائیت د ذکر وړ دي۔ ددې نه علاوه ئې د کامل مذهب اسلام پۀ حقله ډېر خوندور او پۀ زړۀ پورې تفصیل لیکلے دے ۔ د اخری پېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د ژوند پۀ حقله ېې هُم پۀ ډېر تفصیل سره لیک کړے دے ۔ ددې سره سره ئې د نۀ رد کېدونکو دلیلونو پۀ مرسته سره اسلام د ټولودینونو نه غوره دین ثابت کړے دے ۔ پۀ اسلام کښې د عبادت قسمونه او د ځینې اسلامی ډلو لکه اهل حدیث او اهل سنت ،او سنی او شیعه ذکر هُم په دې ټوک کښې موجود دے خو ددې سره د موضوع پۀ مناسبت سره هغه د طرفدارۍ ښکار شوے نۀ دے۔

پۀ دریم ټوک کښې ښاغلی لیکوال پۀ دُنیا کښې د انسانانو پۀ مختلفو برخو کښې د وېش پۀ حقله پۀ تفصیل سره بحث کړے دے او د کوټلی حسابی شمېر پۀ مرسته سره ئې پۀ دغه برخو کښې د مختلفو مذهبونو منونکو خلقو د اوسېدو شمېر ښودلے دے ۔ پۀ دې اړوند هغه د نړیواله جغرافیائی وېش نه پوره پوره مدد اخستے دے او د اووۀ براعظمونو پۀ حواله ئې د خپلې موضوع تر باورتیا ځان تر مرامه رسولے دے۔

د تعبیر کائنات پۀ څلورم ټوک کښې ښاغلی لیکوال پۀ یوه ډېره مهمه سرخط قلم پورته کړے دے۔ پۀ دغه سرلیک د ټولې دُنیا د انسانیت د اعمالو دارومدار دے۔ پۀ دې ټوک کښې هغه د انسان او د دُنیا د ختمېدو نخښې د قران و حدث پۀ رڼا کښې پۀ کوټلی دلیلونو سره په ګوته کړې دي۔ د امام مهدی راتګ ،ددجال راتلل ،د حضرت عیسی علېه السلام بیا دُنیا ته راتلل ،یاجوج ماجوج ، د نمر د مغرب اړخ نه راختل ،د لوګی راتلل او د زمکې چاؤدل تر سر خطونو لاندې د انسانی ژوند د مرحله وار ختمېدو بحث د یو لوئې وعظ کوونکی پۀ حېث کړے دے۔
پۀ پنځم او اخری ټوک کښې ښاغلی لیکوال د قیامت د ورځې ،د حساب کتاب د ورځې او د جنت او دوزخ په حقله بحث کړے دے چې مدلل هُم دے او اثر لرونکے هُم دے۔ پۀ دې ټوک کښې هغه د انسان دُنیا ته د راتلو او دهغه د تخلیق د اصلی سبب طرف ته اشاره کړې ده او د فانی ژوند د جزا او سزا د نظریې ئې پۀ کامیابۍ سره اثبات کړے دے تعبیر کائنات د موضوع پۀ اړوند یو علمی او مذهبی کتاب دے ولې دا کتاب خپل ګڼ اړخیزمقاصد لري۔ دا کتاب د پښتو ژبې او ادب یوه غوره نمونه هُم ده۔ ښاغلی

لیکوال ددې د لیک پۀ وخت کښې د پښتنو عمومی لهجه استعمال کړې ده ۔ یو معمولی لوستونکے هُم دا کتاب پۀ اسانه سره لوستے شی ۔ لیک ئې روان او د ادبی رنګونو نه ډک دے ۔ وښا ئې پۀ فنی لحاظ سره هُم پوره او زړۀ راښکونکې ده ۔ د پښتنو پۀ نوې متفقه او مروجه لیک دود سره ئې د کتاب ښکلا او اهمیت ته دوام بخښلے دے ۔

ددې نه علاوه د سائنس د طالب علمانو دپاره دا یوه نایابه پنګه ده ۔ ډېر هغه سوالونه او رازونه چې د سائنس د یو طالب علم پۀ دماغو کښې انګۍ کوي ددې کتاب پۀ لوستو سره هغه دغه مقاصد تر لاسه کولے شي ۔

تعبیر کائنات پۀ ننني وخت کښې د خپل سر لیک پۀ حواله یوډېر لوئې ضرورت دے ۔ ددې پۀ لوستو سره یو عام پښتون وګړے که یو اړخ ته د سائنسی علمونو د اهمیت نه خبرېدے شی نو بل اړخ ته هغه د قران و حدیث د اهمیت نه هُم خبرېږی او د الله تعالی د یو والی پۀ حقله د هغه پۀ ذهن کښې پوخوالےراځی او د اسلام تعلیماتو اړخ ته زیاته رجوع کوی ۔ ددې سره د موجوده مادی دور پۀ تیارو کښې د هغه ذهن د روحانیت پۀ نُور منور کېږی چې ورسره دهغه ذهن او زړۀ ته ارام او اطمینان بخښلے کېږی ۔

زۀ طمعه لرم چې ښاغلے میان نثار علی به پۀ راتلونکی وخت کښې پۀ نوو سر لیکونو قلم پورته کوی او پښتون قام ته به د هغوئ پۀ مورنئ ژبه پښتو کښې د علم او پوهې اوذهنی وېښوالی سبق ورکوی او د علم او پوهې د رڼا دا سفر به جاری ساتی۔

(په درنه مینه)

صابر حجازی

چیف ایډیټر

اُردو پښتو مېګزین **حصار** صوبه سرحد پاکستان

پېرزوئنه

نن صبا هر سړے پۀ ځان ځان دے۔د هر مذهب منونکي خپل ځان تـه ښـۀ وائـي ۔د هر قـوم پوهـان ، قلم کـاران او لیکوال د خپلې پوهې او قلم پـۀ وسیلې سره د خپل قوم د بیدارۍ دپاره مختلفې هلې ځلې کوي۔ څۀ قومونه تردې حده پورې رسېدلي دي چې ځان د ټولې دنیا واکداران ګڼي پـۀ سائنس او ټېکنالوجۍ کښـې د پرمختـګ سره سره د خپل مذهب پۀ باره کښې ډېره پوهه لرونکي دغه کسان ځان پۀ مذهبی توګه باندې هم د نورو قامونو نه لوړ ګڼي۔
پښتون قام کوم چې د "بنی پخت" قبیلې پېداوار دے او د سلېمان علیه السلام پۀ وخت کښې پۀ ټوله دنیا کښې د پوهې او بهادرۍ پـۀ مېدان کښې یو نوموړے قام وو، د سلېمان علیه السلام پۀ حکومت کښې د ټول فوځ او خزانې واکداران د بنی پخت قبیلې خلق (پښتانۀ) وو۔
د وخت پـۀ تېرېدو سره د نـورو قـامونو پـۀ مقابلـه کښـې پښتون قام پۀ تعلیمی مېدان کښې وروستو پاتې شو،خو پۀ پوره دنیا کښې پښتون قام ځانګړے قام دے کوم چې

پۀ هر وخت ، هر حالت ، هر صورت او هر مېدان کښې پۀ دین اسلام باندې کلک ولاړ راروان دے او هم دغه وجه ده چې خاتم النبیین حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پښتون قام ته د خپل دین اسلام د کشتۍ "بطان" وئیلی وو (بطان پۀ عربۍ ژبه کښې د کشتۍ هغه برخې ته وائی کومه چې پۀ اوبو کښې ډوبه وی او د ټولې کشتۍ انحصار پۀ هغې باندې وی)

پښتون قام پۀ صلاحیت کښې د دنیا د یو قام نه هم وروستو نۀ دے خو پۀ بد قسمتۍ سره د ځینې نامناسبو حالاتو او د ځینې مشرانو د غلطو فېصلو د لاسه د پښتون قام پۀ تعلیمی مېدان کښې ښۀ پرمختګ نۀ دے شوے.

ددې کتاب بنیادی مقصد پښتون قام ته د قران ، حدیث او سائنس پۀ رڼا کښې د کائنات ، خالق کائنات او پۀ کائنات کښې د انسان د حقیقی منزل پۀ حقله د اګاهۍ ورکولو سره سره د ځینې انسانانو پۀ خپله جوړ کړے شوي مذهبونو پۀ باره کښې بېداری ورکول او د هغې نه خپل ځان او خپل پښتانۀ وروڼه بچ ساتل دي.

ددې کتاب د لیک شروع کولو پۀ وخت کښې زما ځینې ملګرو ماته مشوره راکړه چې دا کتاب پۀ اردو یا انګرېزۍ

ژبه کښې ا ولیکه ځکه چې پهٔ دې ژبو ډېر خلق سره د ځینې پښتنو پوهېږي خو زما ډېرو پهٔ پښتو ادب مئېن ملګرو ماته د پښتون قام دپاره پهٔ پښتو ژبه کښې ددې کتاب د لیکلو مشوره راکړه او زما خپل هم دا ذاتی خواهش وو چې د خپل پښتون قام د پښتنو ورونړو دپاره پهٔ پښتو ژبه کښې لیکل اوکړم۔

بېشکه پهٔ سعودی عرب کښې د ډېرو زیاتو مصروفیاتو سره سره یو کتاب لیکلو له وخت ویستل ډېر د محنت او صبر کار دے ۔ددې کتاب سر ته پهٔ رسولو باندې ډېر محنت کړے شوے دے ۔دا کتاب زما د ملګرو د قېمتی مشورو او د هغوئ د خلوص ، مینې او محبت د اجتماعی کوششونو پهٔ نتیجه کښې پائې ته رسېدلے دے ۔پهٔ دې کتاب کښې ما پهٔ ډېره اسانه طریقه سره خپلو لوستونکو ته د معلوماتو ورکولو کوشش کړے دے ۔زهٔ امېد لرم چې ددې کتاب هر لوستونکے به پهٔ ځان باندې څه بوجهـ محسوس نهٔ کړی او د هغه تنده به پهٔ اسانه سره ماته شی۔

ددې کتاب سر ته پهٔ رسؤلو کښې زما سره ډېرو کسانو مرسته کړې ده کهٔ چرې زهٔ د هغوئ ذکر اونهٔ کړم نو دا به مناسب نهٔ وی۔

د ټولو نه وړاندې خو زۀ د خپل مشر ورور میان افسر علی (کاکاجی) ډېره ډېره مننه کووم چا چې ددې کتاب د شروع نه تر اخره پورې ماته ډېرې ښې ښې او ګټه ورې مشورې راکړې او پۀ هر موړ کښې ئې زما ډېره حوصله افزائی اوکړه پۀ سعودی عرب کښې د پښتو ژبې د ادب او شاعرۍ ستر شخصیت ، نوموړی صحافی ، تجزیه نګار او د پښتو ادبی غورځنګ ریاض سعودی عرب صدر ښاغلے روح الامین نایاب یو داسې شخصیت دے چا چې ددې کتاب د لیکلو پۀ هر موړ باندې زما سره ډېره مرسته اوکړه .زۀ د زړۀ د کومی نه د ښاغلی روح الامین نایاب ډېره ډېره مننه کوم۔

ښاغلے ولی خان بونیری چا چې ددې کتاب کمپوزنګ کړے دے . ددې کتاب پۀ چاپ کولو کښې زۀ د هغه د قېمتی مشورو راکولو او ددې کتاب د کمپوزنګ دپاره پۀ خپلو ډېرو مصروفیاتو کښې پۀ وخت ویستلو باندې د هغۀ د زړۀ د کومی نه ډېره ډېره مننه کووم۔

پۀ ریاض – سعودی عرب کښې د ښاغلی صابر حجازی ځوک چې یو نوموړے صحافی ، شاعر او ادیب او د اُردو ،پښتو درې میاشتینۍ مجلې (حصار) صوبه سر حد

پاکستان چیف ایډیټر دے ، هم زما سره ډېره مرسته کړې ده .ددې کتاب د ایډیټنګ کولو پټکے د ښاغلی صابر حجازی پۀ سر دے .ددې کتاب پۀ سر پاڼه "ټائټل پېج" جوړولو کښې د هغه د فن او هنر زۀ هغه ته داد ورکوم او د هغه د خلوص ، مینې او محبت نه د ډکې مرستې ډېره مننه کووم.

ز ۀ د نو موړی شاعر او لیکوال ښاغلی عبد القادر صیاد ، د ښاغلی شهر یار خان ، د ښاغلی ظهور احمد ،د ښا غلی شاکر او د ښاغلی منیر حسېن بونیری ډېره ډېره مننه کووم چا چې ددې کتاب پۀ چاپ کولو کښې زما ډاډ ګېرنه کړې ده.

ددې نه علاوه زۀ د هغۀ ټولو ملګرو ډېره ډېره مننه کووم چا چې ددې کتاب سر ته پۀ رسولو کښې زما سره مرسته او زما حوصله افزائی کړې ده.

میان نثار علی

مرکزی صدر پاکستان رائټرز کلب ریاض - سعودی عرب

اول ټوک

1-1-1: خدائې پاک (الله)

ان الهکم لواحد "یقینا اله ستاسو یو دے."

قرآن۔ سورة الصف (**37** : **04**)

کله ورځ راولې رڼا شی کله شپه جوړه کړې
ستورې پرقیرې په تیارو کښې نظاره جوړه کړې
عظیمه خدایه دومره لوئې ئې قدردان مالک ئې
په هریو څیز لرې اختیار د کل جهان مالک ئې

دا یو منلے شوے حقیقت دے۔ چې دهرې ژبې یو یا دیو نه ډېر لفظونه الله ته د حوالې په توګه باندې استعمالیږي۔ لفظ الله د هغه حقیقی ذات ذاتی نوم دے کوم چې دپوره کائنات خالق یعنې پیدا کوونکے دے۔ دهغه عظیم ذات نه علاوه بل هیڅ څیزته الله نۀ شی وئیلے کېدے۔

الله دټول کائنات پالونکے او په دې قابو لرونکے دے۔ هیڅ څیزدالله سره برابری کوونکے یا مقابله کوونکے نشته۔ لفظ الله دعربۍ ژبې لفظ (تورے) دے او په دې کښې ډېر ژور مذهبی پېغام موجوددے۔ دا لفظ (تورے) دعربۍ ژبې دیو فعل (verb) اِله نه جوړ شوے دے۔ دکوم معنی چې

دعبادت لائق د ه . پۀ عربۍ ژبه کښې دالله معنى ده هغه هستى کوم چې دټول عبادت لائق يامستحق وى . دالله نۀ جمع شته اونۀ ئې جنس.
دډېرو نورو مذهبونو دخلقو دا عقيده ده چې مسلمانان دعيسايانو او يهوديانو دخدائې نه دمختلف خدائې عبادت کوي . دا بالکل يوه غلطه عقيده ده . مسلمانان دهغه خدائې عبادت کوي کوم چې د نوح(علېه السلام)، ابراهيم (علېه السلام)، موسى (علېه السلام)، داؤد (علېه السلام) او عيسى (علېه السلام) خدائې وو. البته يهوديان، عيسايان، او مسلمانان دالله دذات پۀ باره کښې مختلف خيالات لري. د انسان ذهن پۀ دې خبره د خيالاتو د سرګندولو هېڅ طاقت نۀ لرى چې دکائنات د پېدا کولو نه مخکښې خدائې پاک څۀ کول.
دخدائې پاک پۀ نظر کښې هېڅ وخت نشته او نۀ د هغه دپاره مخکښې يا وروستو شته د ے. هغه ذات کن فيکون د ے.
د حضرت محمد(صلى الله علېه وسلم) نه يو ځل د مکې مشرکانو دخدائې پاک د نسب پۀ باره کښې تپوس اوکړو

نو د هغې په ځواب کښې خدائې پاک سورة الاخلاص نازل کړو
"او وایه (اے نبی (علیه السلام) زما چې) الله یو دے۔ الله بې نیازه دے۔ نۀ دے د چانه پیدا دے او نۀ د دۀ نه څوک پیدا دي۔ او نشته دۀ لره سیال هیڅ یو کس.
(قرآن. سورة الاخلاص . 112)
بعضې غیر مسلمه خلق وائي چې په اسلام کښې خدائې پاک سخت او ظالم دے۔ ځکه چې هغه مطالبه کوی چې دهغه دې مکمل اطاعت اوشی. ځنې غیر مسلمه خلق دا هم وائي چې په اسلام کښي هغه (الله) مینه کونکے او مهربانی کونکے نۀ دے.
د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یو حدیث مبارک دے چې:
"خدائې پاک د انسان سره د خپلې مور نه زیاته مینه کوونکے او مهربانی کوونکے دے."
خدائې پاک انصاف کوونکے هم دے. هغه خلق څوک چې ګناهونه او په نورو خلقو ظلم کوي او د الله د حقونو او د هغه د بندیانو د حقونو خیال نۀ ساتي هغوئ ته به ضرور سزا میلاویږی. بل طرف ته هغه خلق کوم چې

نېک کارونه کوي او د الله حکمونه، دهغه دپېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پۀ سنت طريقې سره پوره کوي نو هغوئ ته به بې شکه جزا مېلاو ېږي.

"يقيناً پرهېزګارانو لره پۀ نزدد رب ددوئ جنتونه دنعمتونو دي .آيا اوبه ګرځوو مونږ مسلمانان پشان دګنهګارانو. څۀ دي تاسو لره. څۀ رنګ حکم کوئ تاسو."

قرآن – سورة القلم (36-34:68)

اسلام د انسانانو د هغو د قوم، دولت، طاقت، او نسب پۀ بنياد سره د خدائې پاک د طرف داری درجه بندی مکمل رد کوی. خدائې پاک ټول انسانان برابر پېدا کړي دي. هغه انسانان کوم چې دخدائې پاک اطاعت کوي او دهغه حکمونه د هغه دپېغمبر (صلی الله علیه وسلم) پۀ طريقې سره مني نو هغوئ د نورو انسانانو نه ځان بدلولے شي او د خدائې پاک نزدې والے او طرف داری حاصلولے شي.

خدائې پاک پۀ هر څيز کښې پۀ ځان پوره دے يعنې پۀ هر څيز باندې پوره دے. د خدائې پاک پۀ يو کم سل(99) نومونو کښې يو نوم (القيوم) دے چې دهغې معنی خود کفيل ده.

خدائې پاک په کائنات کښې ټول څیزونه نه صرف پیدا کړي دي بلکې د هغې د شروع نه د آخره پورې ساتنه هم هغه کوی او د هغې د فنا کېدو اسباب جوړوونکے او ختموونکے صرف او صرف د الله ذات دے.

"ده لره دي چابیانې د اسمانونو او زمکې او هغه کسان چې کافران دي په ایاتونو د الله، دغه کسان دي زیان کاران. اووایه تهٔ اے بغیر د الله تعالی نه حکم کوئ تاسو ماته چې عبادت دې اوکړم زهٔ (د بل چا) اے جاهلانو."

قرآن- سورة الزمر (39: 62.63)

د لوئې طاقت او د انسان په ذهن کښې چې څومره د خاصیتونو د سوچ طاقت کېدے شی د هغې ټولو مستحق صرف د الله ذات دے. او صرف هغه د عبادت لائق دے.

"کهٔ چرته وے په دې زمکه اسمان نور خدایان سیوا د الله نه نو خامخا به وران شوے وے دواړه."

قرآن: سورة الانبیاء (21: 22)

قران شریف مونږ ته د هغه فرضی او غیر مناسب خدایانو کوم چې انسان په خپلو لاسونو جوړ کړي وي او د هغې عبادت کوي په ډیر وښکاره لفظونو سره سر ګندونه کوی.

"اووایه ایا عبادت کوئ تاسو د هغه څۀ چې تاسو ئې پۀ خپله توګئ."

قرآن- سورة الصفت (37 :95)

دکائنات د خالق (الله) دموجودګی (شتۀ والی) دومره ثبوتونه دي چې کۀ چرې پۀ هغو پۀ یو یو باندې بحث کول شروع کړے شی نو د هغې دپاره ډېر زیات وخت پکار دے.

دا یو حقیقت دے چې انسان پېدا کېدل نۀ یوه حادثه وه اونۀ د انسان وجود د شادو د وجود نه د بدلون پۀ نتیجه کښې جوړ شوے دے.

"ایا پېدا کړے شوي دي دوئي بې د پېدا کوونکی نه یا دوئي پۀخپله پېدا کوونکي دي. ایا دوئي پېدا کړي اسمانونه او زمکه بلکې دوئي یقین نۀ کوي."

قرآن- سورة الطور (52 :35-36)

د انسان ذهن د کائنات د شروع د عمل وخت او تاریخ پۀ باره کښې د څۀ دلیل ورکولو نه لاچاره دے او ددې د اختتام پۀ باره کښې د یو خاصې نېټې او وخت وضاحت کولو طاقت هم نۀ لری. پۀ دې کښې ډېر زیات څیزونه پېدا شوي دي او ډېر زیات څیزونه فنا شوي دي او هره ورځ ډېر

زيات پېدا کېږي او فنا کېږي. دانسان ذهن دا خبره نهٔ منی چې دا ټول ځيزونه ديوې حادثې پهٔ نتيجه کښې پېدا شوي دي.

دا ټول کارونه بغېر د يو خالق نه ،ديو قابو کوونکي نه، د يو معمور نه او د يو حکمران نه، ناممکن دي. هغه ذات کوم چې دا ټول خاصيتونهٔ لري صرف د الله ذات دے.

هغه د ټولو اقا دے. ډېر زيات طاقتور، ليدونکے، کتونکے او اورېدونکے دے. صرف او صرف د الله ذات د ټول کائنات پېدا کوونکے، ددې ساتندويه، پهٔ دې باچائي کوونکے، دا برقرار ساتونکے او ددې د اختتام د وخت پهٔ باره کښې علم لرونکے دے.

1-2: کائنات

ټول ساه لرونکي او بې ساه ځيزونه چې پکښې ستوري، سيارې، نمر، اسمانونه، انسانان، ځناور، ونې بوټي او ټول مخلوقات شامل دي ، د کائنات پهٔ دائره کښې راځي.

د مېکملن انسائیکلو پېډیاترمخه:. کائنات د پېژندګلو قابل څیزونو باندې مشتمل دے. لکه نمر، نظام شمسی، ستوري، اودګلکسي (دستورو یو ګروپ) نور ممبران، دنیا، غرونه، دریابونه، ګېسونه، ځناور، خلق او ټول ساه لرونکي او بې سا ه څیزونه شامل دي.

د کائنات غټ والے دومره دے چې نمر، دنیا او سیارې پکښې د یو نقطې برابر دي. نمر پۀ ګلکسی(دستورو یو ګروپ) کښې یو اځینے ستورے دے. او دے پۀ 100000 ملین(یولاکه ملین) ستورو باندې مشتمل دے. دنیا او نورې سیارې د نمر نه پۀ خپل خپل یو خاص مدار کښې چورلي. ددنیا او نمر پۀ مېنځ کښې فاصله 93 ملین میله ده د کائنات د پېدائش پۀ حقله ډېرې نظریې پېش کړے شوي دي. د ټولو نه نوې نظریه پکښې "بیګ بېنګ" (غټه دهماکه) ده. دا نظریه پۀ کال 1920ء کښې جورج لمایيټر پېش کړې وه.

ددې نظریې مطابق د کائنات پۀ وجود کښې راتلل د یوې غټې دهماکې(بیګ بېنګ) پۀ وجه سره شوی دی. ددې پۀ وجه سره پۀ کائنات کښې خورېدل او غټ والے هم شروع شو او تراوسه پورې جاری دے.

دا دهماکــه(بيگ بينــگ) تقريبــا 10-20 زره ملــين کالــه مخکښې شوې وه.

قــران بيــگ بينــگ نظريــه بالکــل رد کــوی او د زمکــې او اسمانونو د پېدا کولو په باره کښې وائی.

"اے نۀ گورئ هغه کسان چې کافران دي چې بې شک اسمانونه او زمکه وو دواړه پېوست. پس جدا کړه مونږ دوئ، او گرځولے دے مونږ د اوبو نه هر څيز ژوندے. اے پس دوئ ايمان نۀ راوړي."

قرآن. سورة الانبياء (21 :30)

ددې غټې چاودنې يعنې د زمکې او اسمانونو د يو بل نه د جدا کولو نه وروستو الله تعالی پۀ قران کښې فرمائی.

"بيائې اراده اوکړه اسمان ته او هغه لوگے ووپس وئې وئېل ده ته اوزمکې ته. راشئ دواړه پۀ خوښه او يا پۀ زور اووئيل دواړو راځو مونږ پۀ خوښه."

قرآن. سورة حمّ سجده (41-11)

دغه شان ټول عنصرونه او هغه څيزونه د چانه چې سيارې جوړېدې او ستورې ترې نه جوړېدل رو رو يخ شول او يو بل ته نزدې شول او هغه شکلونه ترې جوړ شول کوم چې خدائې پاک مقرر کړي وو. دې ټولو څيزونو د الله پاک د

هغه قانونو تابعداري شروع کړه کوم چې ددوئ دپاره په کائنات کښې تیار کړے شوي وو. لکه څنګه چې د نوی ګاډی د جوړولو یا د اخستو نه مخکښې د هغې دپاره د سړک یا د لارې بندوبست کېدے شی په کوم سړک یا لاره چې به دے چلېږی . هم دغه شان د نمر، سپوږمۍ او سیارو د پېدا کولونه مخکښې خدائې پاک د هغو د چورلېدلو دپاره د لارو بندوبست کړے وو. الله تعالی په قرآن کښې فرمائی.

"او الله هغه ذات دے چې پېدا کړې ئې ده شپه او ورځ، او نمراو سپوږمۍ. هر یو په آسمان کښې لامبو وهی"

قرآن. سورة الانبیاء (21 :33)

قرآن پاک د کائنات د خوروالی په حقله ډېرپه ښکاره ډول سرګندونه کوی.

"اواسمان جوړکړے دے مونږ په لاسونو خپلو سره او یقینا مونږ خامخا قدرت والا یو.

قرآن. سورة الذاریت (51 :47)

د کائنات د غټ والی په حقله قرآن پاک لفظ"العالمین" (دنیاګانې) استعمالوی . د لفظ العالمین ډېرې پېرې په

قرآن کښې ذکرکړے شوے دے . د"العالمین" پۀ باره کښې تفسیر ابن کثیر ددې خبرې مرسته کوی چې دنیا یوه نۀ بلکې ډېرې دي . ځنې علماء وائي چې ددې شمېر لس زره دے چې پکښې زمونږ دا دنیا هم شامله ده.

قرآن د زمکې اوآسمانونو د پېدا کولوحقله وائي.

"بېشکه چې رب ستاسو الله دے . هغه الله چې پېدا کړي ئې دي آسمانونه او زمکه، پۀ مقدار د شپږو ورځو کښې. بیا ئې برابرتیا اوکړه پۀ عرش باندې. پټوی دے شپه پۀ ورځ باندې. راغواړی هره یوه بلې لره پۀ تادۍ سره او پېدا کړي ئې دي نمر او سپوږمۍ او ستوري چې تابع شوي دي پۀ حکم دده سره. خبردار! هغه لره دي پېدا کول د هر څیز. او حکم کوی دے. ډېر برکت والا الله دے چې پالونکے د ټول عالم دے."

قرآن. سورة الاعراب (07 :54)

هغه آیاتونه کوم چې شپږ ورځې بیانوی پۀ هغې کښې د ورځ دپاره لفظ پۀ قرآن کښې پۀ نورو ډېرو موقعو باندې د وخت د مختلف ناپ د سرګندولو دپاره استعمال شوے دے. پۀ یوه موقع باندې یوه ورځ د پنځوس زرو (50000) کالو برابر بیان کړے شوې ده.

"ورخېژي ملائک او روح طرف د الله تعالی ته پـهٔ هغـه ورځ چې مقدار د هغې پنځوس(50) زره کاله دے.
قرآن- سورة النساء(70 :4)
د قرآن شریف یو بل آیت وائي:
"او زر غواړی ستانه (دا کافران) عـذاب او هرګز مخالفت نهٔ کوی الله تعالی د وعدې خپلې او یقینا (چې دا) یـوه ورځ ده پـهٔ نـزد د رب ستـا د زرو (1000) کلونو- د هغـې کلونـو نـه چې تاسوئې شمارئ."
قرآن- سورة الحج (22 :47)
د لفظ یوم نه یو اوږد وخت یا یوه زمانه معنی اغستے شی. مسلمانان پهٔ دې بنیاد سره د شپږو ورځو وضاحت شپږ غټ یا اوږد وختونه یا زمانې کوي.
د کائنات د پېدا کولو د عمل د مکمل کېدو نه وروستو خدائې پاک خپل ځان پهٔ تخت باندې برابر کړو لکه څنګه چې خدائې پاک پهٔ قرآن شریف کښې فرمائي:
"الله تعالی هغه ذات دے چې پېدا کړې ئې دي آسمانونه او زمکه پهٔ شپږو ورځو کښې. بیا قائم شو پهٔ عرش باندې. پوهېږي پهٔ هغه څهٔ چې ننوځي پهٔ زمکه کښې او پهٔ هغه څهٔ چې راوځي له دې نه او پهٔ هغه څهٔ چې نازېلیږي د آسمان نه

او پۀ هغه څۀ چې خېژي آسمان ته او الله تعالی ستاسو سره دے پۀ هر ځائې کښې چې يئ تاسو. الله تعالی پۀ هغه څۀ چې کوئ تاسو ليدونکے دے.

قرآن - سورة الحديد (57 :04)

"او يقينا پېدا کړې دي مونږ آسمانونه او زمکه او هغه څۀ چې پۀ مېنځ ددې دواړو کښې دي پۀ شپږو ورځو کښې او نۀ ده رسيدلې مونږ ته هېڅ ستومانی."

قرآن - سورة ق (50 :38)

د خدائې پاک د تخليق عمل تراوسه پورې جارى دے هرنوے ماشوم چې پېدا کېږى، هر تخم چې زرغونېږى او هر نوے ساه لرونکے څيز چې راښکاره کېږى نو دا د هغۀ روان عمل حصه ده.

1-3: زمکه

د زمکې د پېدائش (زېږون) پۀ حقله ډېرې نظريې پېش کړے شوي دي. اوډېرو سائېنسدانانو پۀ دې باندې تحقيق (څېړنه) کړے دے خو تراوسه پورې يو سائېنسدان هم د مضبوط ثبوت سره د زمکې د پېدائېش صحيح نېټه نۀ ده ښودلې.

د نوی سائنس د تحقیقاتو(څېړنې) او تجربو مطابق د زمکې او نظام شمسی عمر تقریبا 4.6 ارب کاله دے. د سائنسدانانو مطابق 4.6 ارب کاله پۀ زمکه باندې دژوندون بالکل هېڅ آثار نۀ وو. دوئ دا هم د تجربو پۀ بنیاد سره وائي چې دنیا د اګۍ پۀ شکل باندې جوړه ده او لکه څنګه چې د اګۍ درې لهرونه وي هم دغه شان د زمکې درې لهرونه دي.

دزمکې اولنی لهر ته "کرسټ" وئېلے شی. او ددې ژور والے پۀ سمندرونو کښې د 0-10 کلومیټر پورې، او پۀ وچوبه باندې د 0-50 کلومیټر پورې وی. دوېم لهر ته "مېنټل" وئېلے شی. اوددې ژور والےد 2890 کلومیټر پورې وی. درېم لهر کوم چې د ټولو دننه لهر دےهغې ته "کور" وئېلے شی او ددې ژور والے6370 کلومیټر پورې وی.

د زمکې د پېدائش پۀ حقله قرآن وائی.

"الله هغه ذات دے چې غوړولې ئې ده زمکه، او پېدا کړي ئې دي پۀ کښې غرونه او ولې او د هر قسم مېوۀ نه، پېدا کړي ئې دي پۀ دې کښې جوړې دوه. پټوی الله تعالی شپې لره پۀ ورځ کښې. یقینا چې پۀ دې کار کښې خامخا نخښې د قدرت دي د هغه قوم دپاره چې فکر کوي.

قرآن۔ سورة الرعد (3:13)

خدائې پاک ډېر غټ قابلیت او بې حده اختیار والا ذات دےاو بې شکه هغې ذات پۀ خپل حکم سره بې ستنو آسمانونه ودرولي دي۔ هغه پۀ خپل حکم او طاقت سره د موجوده دنیا د زمکې دپاسه ډېر اوچت آسمانونه ودرولي دي ۔ کوم آسمان چې د موجوده دنیا زمکې ته د نورو آسمانونو نه نزدې دے۔ هغه ددې دنیا زمکه دهر طرف نه پټه کړې ده. د اولنی آسمان او د زمکې پۀ مېنځ کښې فاصله پنځه سوه (500) کاله ده. د اولنی آسمان پېړ والے (ډبل والے) پنځه سوه (500) کاله دے۔

د زمکې د نوی سائنس د تحقیق (څېړنې) مطابق د غرونو زېلې پۀ زمکه کښې د ډېر ژورې پورې تلې وي۔

د نوی تحقیق (څېړنې) پۀ نتیجه کښې دا خبره هم وئېلے شی چې غرونه چې څومره د زمکې نه بهر وي کوم چې انسان ته پۀ نظر راځی د هغې نه ډېر پۀ زمکه کښې دننه پټ وي۔

ددې تحقیق (څېړنې) د نتیجې پۀ بنیاد سره د غر دپاره مناسب لفظ "مېخ" استعمالېدے شی۔

جیالوجستانو(د زمکې ماهرانو) دا هم دریافت کړی دي چې کوم غرونه چې د زمکې پهٔ سر پهٔ نظر راځي ددې د لس (10)، پنځلس (15) هومره پهٔ زمکه کښې دننه وي۔

مثلاً کهٔ چرې یو غر څلور زره (4000) فټه دنګ وی نو دے به پهٔ زمکه کښې د څلویښتو زرو(40000) نه د شپېته ؤ زرو(60000) فټه پورې دننه خور شوے وی۔

پهٔ زمکه کښې دننه د غرونو دومره خورېدل دې لره مضبوط ساتی او هر کله چې دا پهٔ خپل مدار کښې د خپل ځان نه چورلی نو ددې توازن نهٔ متاثره کېږی۔

کهٔ چرې پهٔ زمکه باندې غرونه نهٔ وے نو دا چې پهٔ کوم رفتار سره چورلی د هغې پهٔ نتیجه کښې به زمونږ د ژوند پهٔ هر منټ کښې زلزلې کېدې۔

دا څومره زړهٔ راښکونکې خبره ده چې کوم معلومات چې مونږ ته خدائې پاک پهٔ خپل قرآن پاک کښې څوارلس سوه (1400) کاله مخکښې راکړي دي د هغې عملی نمونې مونږ نن دتحقیقاتو(څېړنې) او تجربو پهٔ نتیجه کښې ګورو۔

"اے نهٔ ده ګرځولې مونږ زمکه فرش او غرونه مېخونه"

قرآن۔ سورة النبا (78 :6۔7)

پهٔ بل ځائې کښې الله تعالی فرمائي

"او غوزولي دي دۀ (الله) پۀ زمکه کښې غرونه چې ا ونۀ خوزېږي پۀ تاسو باندې او ولې او لارې دې دپاره چې تاسو لار بيا مومئ. او پېدا کړي ئې دي نخښې او پۀ ستورو سره دوئي لار بيا مومي."

قرآن. سورة النحل (16: 15.16)

د قرآن پۀ نزد زمکه د نمر نه نۀ بلکې نمر د زمکې نه گېر چاپېره چورلی.

" الله هغه ذات دے چې پورته کړي ئې دي آسمانونه بغېر د ستنو نه چې گورئ تاسو بيائې برابر تيا کړې ده پۀ عرش باندې او تابع کړي ئې دي نمر او سپوږمۍ. دا ټول گرځي د يوې نېټې معلومې پورې. تدبير کوي د ټولو کارونو. پۀ تفصيل بيانوي آياتونه خپل ددې دپاره چې تاسو پۀ ملاقات د رب خپل يقين اوکړئ."

قرآن. سورة الرعد (13: 02)

د حضرت ابوهرېره (رضی الله تعالی عنه) نه روايت دے چې حضور صلی الله عليه وسلم يو وارې اوفرمائېل چې "خدائې پاک اول قلم پېدا کړو. بيائې ن (دسياهۍ يو کوهے) او هغه قلم ته ئې اووئېل چې ا وليکه نو هغه اوليکل او تر قيامت پورې به ليکی."



د زمکې مختلف لهرونه

4-1: آسمانونه

خدائې پاک پۀ خپل طاقت او حکم سره پۀ زمکه د پاسه ډېر زيات اوچت بې ستنو آسمانونه اودرولي دي . پۀ کائنات کښې خدائې پاک د زمکې د پېدا کولو نه پس آسمانونو طرف ته رجوع اوکړه يعنې خدائې پاک اول زمکه پېدا کړه او بيائې آسمانونه پېدا کړل.

د موجـوده دنيا زمکې ته چې کـوم آسمان نزدې دے (يعنې اولنے آسـمان) هغه ددې نه د پنځه سوه (500) کالونو پۀ فاصله باندې دے او دۀ دنيا د هر طرف نه پټه کړې ده. د اولنی آسمان پېړ والے هم پنځه سوه (500) کاله دے . دغه

شان دوېم آسمان کوم چې اولنے آسمان د هر طرف نه پټ کړے دے. دهغه فاصله د اولنی آسمان نه پنځه سوه (500) کاله ده او دهغه پېړ والے هم پنځه سوه (500) کاله دے.

هم پۀ دې ترتيب سره د درئيم، څلورم، پنځم، شپږم او اووم آسمان د يو بل نه فاصله پنځه پنځه سوه کاله ده او د هر يو پېړ والے هم پنځه پنځه سوه کاله دے.

"آيا نه ګوري دوئي طرف د آسمان ته چې دپاسه ددوئ دے . څۀ رنګ جوړ کړے دے مونږ هغې لره او ښائسته کړےدے. مونږ هغې لره او نشته دۀ لره چاودونه او نازل کړي دي مونږ د آسمان نه اوبۀ برکتناکې پس زرغون کړو مونږ دې سره باغونه او دانې د ريبلو."

قرآن. سورة ق (50 : 06 . 09)

قرآن شريف وائي چې هر کله خدائې پاک د آسمان جوړښت طرف ته رجوع اوکړه نو پۀ دغه وخت کـښې کائنات د لوګی

پۀ شکل کښې وو. د کوم دپاره چې د عربی لفظ "دخان" (لوګے) استعمال شوے دے.

"بیائې اراده اوکړه آسمان ته او هغه لوګے وو. پس وئې وئېل دۀ او زمکې ته راشئ دواړه پۀ خوښه او یا پۀ زور. اووئېل دواړو راغو مونږ پۀ خوښه."

قرآن. سورة حم السجدة (14 :11)

د ننۍ زمانې سائېنسدانان دا خبره پۀ ډېره کلکه سره وائي چې پۀ حقیقت کښې دکائنات دجوړښت پۀاول کښې دګېسونو پۀ شکل وو. پۀ دې کښې د هائېډروجن او هېلئېم ګېسونو نه علاوه پۀ ډېره غټه پیمانه سره نور ګرم ګېسونه هم موجود وو.

قرآن شریف ددې ګېسونو دپاره لفظ "دخان" (لوګے) استعمالوی او د ننۍ زمانې سائېنسدانان چې پکښې (مارټن ریس-Martin Ress) هم شامل دے وائی چې پۀ ړومبی کښې کائنات "فوګ" (لړه) وه. د سائنسدانانو دا بیان بالکل غلط ثابتېږي ولې چې پۀ لوګی او لړه کښې ډېر فرق دے.

سائنسدانانو دا دریافت هم کړےدے چې پۀ آسمان کښې تور سوري (بلېک هولز-Black Holes) موجود دي. او پۀ دې سورو کښې آسمان ته د داخلېدو لارې موجود ي دي. پۀ آسمان کښې هغه ځائې کوم ځائې چې تور سوري موجود

وي هغې ته دوئی(ایوینټ هورائېزن. Event Horizon) نوم ورکړے دے.

هر هغه څيز کوم چې يو واري ددې ځائې نه تېروځی نو هغه بيا هېڅ کله هم واپس نه شی راتلے.

قرآن شريف د تورو سورو (بليک هولز) پۀ ځائې "ابواب السماء"(دآسمان دروازې) استعمالوي.

"يقينا هغه کسان چې نسبت د دروغو کوي آياتونو زمونږ ته او ځان لوئې ګڼي له هغې نه نو ببرته به نه شي دوئي ته دروازې د آسمان او نۀ به داخل شي دوئي جنت ته تر هغې پورې چې ننوځي اوښ پۀ سوری د ستن کښې او دا رنګ سزا ورکوو مونږ مجرمانو ته.

قرآن. سورة الاعراف (07 :40)

پہ آسمان کښې تور سوري (بلېک هولز)

5-1 (نمر)

نمر پۀ نظام شمسی کښې ډېر زیات اهمیت لرونکے یو ستورے دے کوم چې تقریبا پۀ سل ارب (سل بلین) نورو ستورو باندې مشتمل دے.
دنظام شمسی دټول کېمیت تقریبا 98٪ نمر ګېر کړي دي.
سائنسدانانو د پوهې دپاره نمر پۀ درېو (3) برخو کښې وېشلے دے.

1- کنوېکشن زون (Convection Zone)

2- رېډیېشن زون (Radiation Zone)

3- کور (Core)

د نمر د ټولو نه بهرنۍ برخې ته کومه چې پۀ کنوېکشن زون کښې وی فوټو سپئر (Photo Spare) وئېلے شی. او ددې ټمپرېچر(تودوالے) , (6000C . 1100u0F) وي. دټولو د ننۍ برخې ته ئې کور(Core) وئېلے شی کوم ځائې چې شمسی توانائی پېدا کېږي. او ددې برخې ټمپرېچر 15000000C (27000000F) وي. او د هوا دباؤ 340 ارب چنده پۀ دنیا کښې پۀ سمندرونو کښې د هوا د دباؤ نه زیات وی.

شمسي توانائی پۀ کور (Core) کښې جوړېږي او ریډیشن زون (Radaition Zone) طرف ته تګ کوی ـ دکور نه ریډیشن زون ته توانائی د رڼا ذرې فوټونز (Photons) پۀ لکونو کلونو کښې وړي ـ

د ریډیشن زون نه کنوېکشن زون ته توانائی نسبتا پۀ تېزۍ سره رسی او دکنوېکشن زون نه توانائی د رڼا او حرارت پۀ شکل کښې راووځی ـ پۀ یو سېکنډ کښې 700 سو ملین ټن هائیډروجن پۀ هېلئېم ایشز(Helium Ashes) کښې بدلیږي ـ پۀ دې عمل کښې 5 ملین ټن توانائی خارجولے شي ـ دا عمل مسلسل جاری وی او ددې عمل پۀ نتیجه کښې څومره چې وخت تېرېږی نو د نمر رڼا رو رو کمېږی ـ

سائنسدانان وائي چې د نمر دا عمل تقریبا د 4.6 ارب (بلین) کالو نه جاری دے ـ او د راتلونکو 5 ارب (بلین) کلونو پورې دا عمل جاری پاتې کېدے شی ـ

د ناسا(NASA) نه جاری شوی د یو رپورټ مطابق د نمر قطر 1.4 ملین کلومیټر (870000) میل دے ـ ددۀ عمر 4.6 ارب کاله دے ـ ددۀ د زمکې نه فاصله 149.6 ملین کلومیټر ده ـ

قرآن شریف د (نمر) پۀ حقله وائی

"او الله هغه ذات دے چې پېدا كړې ئې ده شپۀ او ورځ او (نمر) او سپوږمۍ - هر يو پۀ آسمان كښې لامبو وهی -"

قرآن - سورة الانبياء (21 : 33)

"او (نمر) روان دے هغه ځائې د قرارګاه ددۀ تـه - دا حكم دے د غالب ذات دے پوهه."

قرآن - سورة يس (36 : 38)

"مستقر" (ځائې د قرارګاه) نه مراد پۀ خلاء كښې هغه ځائې يا هغه خاص لاره پۀ كومه چې (نمر) چورلی - پوهان وائې چې نمر نه صرف پۀ يو خاص طرف باندې چورلی بلكې پۀ كائنات كښې يوې خاص نقطې ته تګ كوی -



د(نمر) دننئے جوړښت

6-1: سپوږمۍ

سپوږمۍ ته پۀ عربۍ ژبه کښې قمر وئيلے شی او د (نمر) او د نمر نه چې کومه رڼا ددې نه تمبک کيږي او دنيا ته راځی هغې ته "منير" يا نمر وئيلے شی.

د سپوږمۍ د زمکې نه فاصله **384400** کلوميټر ده . ددې قطر **1737.4** کلوميټر او حجم ئې **21970000** مکعب کلوميټر دے.

د سپوږمۍ کېميت (وزن) **73483000000000000000000** کلوګرام دے. سپوږمۍ پخپله د رڼا جوړولو توان نۀ لری او د نمر رڼا زمکې ته تيمبک کوی.

"او سپوږمۍ لره پۀ اندازه کړي مونږ منزلونه تر هغې چې راوګرځی پۀ شان دخانګې د خرما زړي."

قرآن- سورة يس (36 :29)

"او برکتناک دے هغه ذات چې ګرځولي ئې دي پۀ آسمان کښې برجونه او ګرځولې ئې ده پۀ دې کښې رڼا ډېره او سپوږمۍ روښانه."

قرآن- سورة الفرقان (25 :61)

د سپوږمۍ مختلف حالتونه

1-7: فرښتې

فرښتې انسان ته پهٔ نظر نهٔ راتلونکے د خدائې پاک نورانی مخلوق دے. د وئ خدائې پاک انسان ته پهٔ نظر راتلونکې دنیا کښې اوسېدونکوخلقو سره د رابطې کار کوي. پهٔ فرښتو باندې ایمان لرل د ایمان یوه برخه ده.

فرښتې ته پهٔ عربۍ ژبه کښې "ملک" وئیلے شی. د لفظ ملک بنیادی معنی د پېغام وړونکی ده. دا لفظ پهٔ قرآن شریف کښې د اتیاؤ 80 پېرو نه زیات استعمال شوے دے. د حضور صلی الله علیه وسلم پهٔ حدیثونو کښې ددې ډېر ذکر راغلے دے.

پهٔ اسلام کښې د یو څیز پېدائش، دنیا، عبادت، بدلون، روحانی ژوند، مرګ، بیا ژوندی کېدل وغېره د فرښتو د حوالې نه بغېر نهٔ شی پېژندے کېدے.

"او یقین کړے دے رسول پهٔ هغه څهٔ چې رالېږلے شوي دي دهٔ ته د طرف د رب ددهٔ نه او مومنانو هم یقین کړے دے. ټولو یقین کړے پهٔ الله او پهٔ ملائکو ددهٔ او پهٔ کتابونو ددهٔ او پهٔ رسولانو ددهٔ او وائي دوئي چې واورېدو مونږ او تابعداری کوو مونږ او غواړو مونږ بخښنه ستا. اے ربه زمونږ او تاته دي بېرته درتلل زمونږ."

قرآن۔ سورة البقرة (02 :285)

د فرښتو تعلق د نهٔ لیدلے شوې دنیا "عالم الغېب" سره دے. هر کله چې یقین نهٔ لرونکو تپوس اوکړو چې الله د حضور صلی الله علېه وسلم سره دنیا ته فرښتې راکوځې ولې نهٔ کړې. ددې پهٔ جواب کښې خدائې پاک اووئېل.

"او کهٔ ګرځولے وے مونږ دا رسول ملائک نو خامخا به ګرځؤ مونږ دے پهٔ شکل د انسان او خامخا ګډ وډ کړے به وو مونږ پهٔ دوئي باندې هغه چې دوئي ګډوډ کوي پهٔ ځان خپل."

قرآن۔ سورة الانعام (06 :09)

د ایمان پۀ شپږ(6) ستنو کښې یوه پۀ فرښتو باندې یقین لرل هم ده . هر هغه کس څوک چې د ایمان پۀ شپږ (6) بنیادی ستنو باندې پۀ یوې هم یقین نۀ لری نو هغه ته مومن نۀ شی وئیلے کیدے.

د ایمان شپږ ستنې دادې چې "پۀ الله باندې یقین کول، د هغه پۀ فرښتو باندې یقین کول، د هغه پۀ کتابونو باندې یقین کول، دهغه پۀ رسولانو باندې یقین کول، د قیامت پۀ ورځ باندې یقین کول، پۀ دې خبره باندې یقین کول چې ښۀ او بد د الله د طرف نه دي."

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وائی چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیل "چې فرښتې د رڼا نه جوړې کړے شوي دي. لکه څنګه چې پیریان د بې لوګی اور نه او انسان جوړ کړے شوے د هغه څیز نه د څۀ پۀ باره کښې چې تاته وئیلے شوی دی."

(مسلم. نمبر2996)

د فرښتو د پیدائش پۀ حقله داسې څۀ مثبت ثبوت نشته چې دوئي کله پیدا شوي دي. البته دا پۀ ډاګه ده چې دوئي د انسان نه مخکښې پیدا شوي دي.

"او یاد کړه هغه چې اووئېل رب ستا ملائکو ته چې بېشکه زۀ پېدا کوونکے یمه پۀ زمکه کښې یو حاکم او بادشاه. (نو) اووئېل هغوئي (چې) پېدا کوې تۀ پۀ زمکه کښې هغه څوک چې فساد به کوي پۀ دې کښې. او تویوي به وینې. او مونږ یو تسبیح ویونکی سره د ثنا ستا. او پاکی بیانوؤ تا لره. اووئېل خدائې پاک چې بېشکه زۀ پوهېږم پۀ هغې چې تاسو پرې نۀ پوهېږئ.

قرآن. سورة البقره (02 :30)

1-8: پېریان (جنات)

پېریان د خدائې پاک پۀ مخلوقاتو کښې یو مخلوق دے. خدائې پاک اول فرښتې، بیا پېریان، بیا انسانان، بیا ځناور، ونې بوټي او نور مخلوقات پېدا کړي دي.
پېریان خدائې پاک د بې لوګی اور نه پېدا کړي دي. او بیا ئې دوئي له هغه شکلونه ورکړي دي کوم چې خدائې پاک غوښتل. د پېریانو پۀ شکلونو کښې د خدائې پاک کړے شوی بدلون پۀ وجه سره دوئي د اور خاصیتونه نۀ لري.
چونکې پېریان انسان ته پۀ نظر نۀ راتلونکے مخلوق دے. پۀ دې وجه ددوئي د بدن پۀ کېمیاوی لحاظ سره څۀ وضاحت نه شی کېدے.

" او پېرے مو پیدا کړے دے مخکښې (د انسان نه) د اور گرم نه۔"

قرآن۔ سورة الحجر (15 :27)

پېریان پۀ دنیا کښې د انسان سره برابر اوسي ۔ پۀ عربي ژبه کښې پېرې ته "جن" وائی او لفظ جن د فعل "جنا" نه جوړ شوے دے او ددې معنی پټول ده۔
چونکې پېریان پټ اوسېږي او انسان ته پۀ نظر نه راځي پۀ دې وجه ډېر خلق پۀ دنیا کښې ددوئي موجودگی (شته والے)نۀ مني۔
پۀ پېریانو کښې مسلمانان او غېر مسلمه هم وي۔ پۀ دوئي کښې اکثریت د غېر مسلمو دے۔ ټول غېر مسلمه پېریان د مشهور پېرې ابلیس (شېطان) د فوځ یوه برخه جوړوي۔
ټولو غېر مسلمه پېریانو ته شیطانان هم وئیلے شي۔ د پېرې او انسان دژوندون ډېر اړخونه برابر دي لکه پېریان خوراک کوي، څښاک کوي، ودونه کوي، بچي راوړي او مري۔ د انسان پۀ شان د پېریانو سره به هم خدائې پاک حساب کتاب کوی۔ او د قیامت پۀ ورځ به دوئي د انسانانو سره موجود وي۔ دوئي به هم جنت ته یا دوزخ ته ځي۔ پۀ پېریانو او انسانانو کښې فرق دا دے چې خدائې پاک پېریانو ته د

انسان نه زيات طاقت او خاصيتونه ورکړي دي ـ خدائې
پاک پېريانو ته د انسانانو نه زيات طاقت او خاصيتونه
ددوئ د ازمېښت دپاره ورکړي دي ـ د پېريانو پۀ طاقتونو
کښې يو طاقت دا هم دے چې دوئ چې د کوم څيز شکل
اختيارول غواړي نو اختيارولے شي ـ لکه انسان، ځناور،
ونې، بوټي وغېره ـ
پېريان د انسان بدن ته د داخلېدو او د هغه د دماغو د قابو
کولو طاقت هم لری ـ د ډېرې مودې نه پېريان د بعضې
انسانانوبدن ته داخلېږي او هغوئي قابو کوي او څۀ چې
ورسره کول غواړي کوي ـ
د پېری د انسان بدن ته د داخلېدو ډېرې وجې کېدے شي ـ
لکه دا وجه هم کېدے شی چې چا پۀ خطا باندې د هغوئ د
خاندان څوک زخمی کړے وی ـ بله دا وجه هم کېدے شی
چې د پېريانو نه څوک د انسان سره مينه کوی ـ
ددې نه علاوه چونکې پېريان پۀ اصل کښې ډېر ظالمانان
او کلک زړۀ لرونکي دي ـ پۀ دې وجه د انسان دبدن ته
ننوځی او هغه ته تکليف رسوی ـ
حضور صلی الله علېه وسلم فرمائېلی دی "تاسو پۀ هغه
ځايونو کښې ډېر مۀ اودرېږئ کوم ځائې کښې چې پېريان

اوسېږي . لکه کنډرونه، صحراګانې، زاړۀ بازارونه او مقبرې وغېره.

غېرمسلمه پېريان نۀ صرف د انسان بلکې د ځناورو، ونو،بوټو او نورو څيزونوبدن ته ننوځي . او دا کوشش کوي چې دوئ د خدائې پاک د عبادت نه منع کړي.

پېريان پۀ هوا کښې د الوتو طاقت هم لري. ددوئ پۀ هوا کښې الوتل او پۀ نظر نه راتلل د جادو ګرانو پۀ جادو کولو کښې ډېره مرسته کوي . کوم غېر مسلمه پېريان چې د جادوګرانو دپاره کار کوي هغوئ د هغې پۀ بدله کښې د جادوګرانو نه د هغوئ روحونه پۀ خپله قبضه (واک)کښې اخلي او هم دا وجه ده چې جادوګران د خدائې پاک پۀ ځائې پېريان خپل خدايان ګڼي.

غېر مسلمه پېريان د قسمت د حال وئېلو پۀ لړ کښې هم ډېر مشهور دي.

د حضـــور صلی الله علېـه وسـلم دې دنيا ته د راتلو نه وړاندې پېـريان د قسمت پۀ حـال وئېـلو کښې پۀ ټوله دنيا کښې ډېر شـــهرت لرونکي مخـــلوق وو. پۀ هغه زمانه کښې به جادوګرانو پېريان خپل ملګـري جوړ کړل او ددوئ پۀ ذريعه سره به ئې خلقو ته د هغوئ د قـــسمت

حالونه وئېل. د قسمت پهٔ حقله د دوئ وئېلے شــوې خبرې به ډېرې صحيح ختلې . د هغــه زمـــانې د جادوګـــرانو به د جادو کولو طريقه کار داســـې وو چــې هــر کله به دوئ يو پېرے ملګرے جوړ کړو نو هغه به ئې نزدې آسمان ته ا ولېږلو. هغه پېرى به هغه خبرې واورېدې کومې چې به خدائې پاک د انسان پهٔ حقله کړې وې او فرښتو به پهٔ هغې باندې پهٔ خپل مېنځ کښې خبرې اترې کولې . هغه ټولې خبــرې کومې چې به پېرى د فرښتو نه د انسان پهٔ حقله واورېدې نو ډېر پهٔ تېزئ سره به ئې د قسمت حال ويونکى جادوګر له راوړې.

هر کله چې حضور صلى الله علېه وسلم دې دنيا ته تشريف راوړو نو خدائې پاک د ټولو آسمانونو دپاره څوکيدارې فرښتې مقرر کړې او هر هغه پېرے کوم چې به آسمان ته نزدې کېدو نو پهٔ ويشتونکو ستورو باندې به ويشتلے کېدو او دا سلسله تر ننه پورې جارى ده.

"هغــه څــوک چې غــلا ســره اوکړى اورېــدل نــو وريســې شــى لمبه ښکاره."

قرآن. سورة الحجر (15: 18)

د قسمت حال ويونكي جادوګران د قرين مدد هم اخلي. قرين د پېريانو ملګرے دے او د هر انسان سره موجود وی. قرين د انسان پۀ ذهن کښې مختلفې وسوسې اچوی او د ښو کارونو نه د منع کولو خپل ډېر کوششونه کوي او بد کارونو طرف ته د انسان ذهن د راوړلو کوشش کوی. د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دے.

"پۀ تاسو کښې د هر يو تن سره د پېريانو يو ملګرے پېرے مقرر کړے شوے دے." صحابيانو تپوس اوکړوچې ستاسو سره هم اے د الله رسوله! حضور جواب ورکړو "نزدې چې زما سره هم خوخدائې پاک د هغه خلاف زما سره مدد کړے دے او هغه پۀ قابو کښې دے. اوس ماته هغه صرف د ښۀ کارونو کولو وائی."

خدائې پاک پېريانو ته د پېريانو نه رسولان د هغوئ د اصلاح دپاره رالېږلي دي او حضور صلی الله علیه وسلم ئې د انسانانو، پېريانو، او د ټول مخلوق دپاره رسول رالیږلے دے.

"اے ډلې د پېريانو او انسانانو! نۀ وو راغلي تاسو ته رسولان زمونږ له تاسونه چې بيانول به ئې پۀ تاسو باندې

آياتونه زما او وېرولئ ئې تاسو د ملاقات ددې ورځې
ستاسو د ګناه خپلې او دهوکه کړې وو دوئ لره ژوند د دنيا
او شاهدی به کوي دوئ کافران۔"

قرآن۔ سورة الانعام (06: 130)

1-9: انسان (آدم او حوا ابی)

په دې دنيا کښې د انسانانو شروع د آدم علیه السلام او
حوا علیها السلام نه شوې ده۔ آدم په جنت کښې پېدا کړے
شوے وو او بيا خدائې پاک په خپل حکم سره دې دنيا ته
راکوز کړے وو۔

خدائې پاک په جنت کښې آدم د خټې نه جوړ کړے وو۔
اسلام مونږ ته ددې خبرې پوهه راکو ی چې د انسان د ژوند
يو خاص حالت دے او د هغه ژوند خاص حالت خدائې
پاک په يو خاص طريقه باندې جوړ کړے دے۔

د نور مخلوق په مقابله کښې خدائې پاک انسان له ډېرې
خوبيانې ورکړې دي لکه روح، اخلاق او علم وغېره۔ د آدم
د پېدا کولو په حقله خدائې پاک په قرآن کښې فرمائی

"چې ښائسته کړے ئې دے هر هغه څیز چې پېدا کړي دي دۀ او شروع ئې اوکړه د پېدائېش د انسان د خټې نه بیائې پېدا کړو نسل ددۀ د راښکلې شوې اوبو د اوبو سپکو نه."

قرآن۔ سورۃ السجدۃ (32 :7۔8)

پۀ اسلام کښې آدم نۀ صرف د خدائې پاک پېدا کړے شوے اولنے انسان وو۔ بلکې هغه پۀ تقریبا 124000 پېغمبرانو کښې اولنے پېغمبر وو او پۀ هغه کسانو کښې شامل دے چا چې د خدائې پاک سره خبرې کړي دي.

حوا ابۍ خدائې پاک پۀ خپل حکم سره د آدم نه پېدا کړې وه۔ حوا ابۍ پۀ کائنات کښې پېدا کړے شوې اولنۍ ښځه وه چا چې د ښځې ټول خاصیتونه لرل او هغه یواځینۍ ښځه وه کومه چې د سړی نه پېدا شوې وه.

د آدم او د حوا ابۍ پۀ حقله خدائې پاک پۀ قرآن کښې فرمائی:

"اے خلقو وېرېږئ د رب خپل نه چې پېدا کړي ئې یئ تاسو د نفس یو نه (یعنې آدم) او پېدا کړې ئې ده لۀ دغه نفس نه بی بی ددۀ او خوارۀ ئې کړل لۀ دې دواړو نه سړي ډېر او ښځې او اوېرېږئ د هغه خدائې نه چې سوال کوئ پۀ نامه د

هغه او وېره اوکړئ د قطع کولو د خپلولۍ نه. بېشکه الله تعالی دے پۀ تاسو باندې نگهبان.

قرآن. سورة النساء (04 : 01)

حضرت ابوهرېره رضی الله عنه د حضور صلی الله علېه وسلم یو حدیث مبارک رانقل کړے دے . هغه وائی چې حضور یو وارې اوفرمائېل.

"چې د ښځو سره پۀ مهربانۍ سره سلوک کوئ. ښځې د پختۍ نه جوړې کړے شوي دي او د پختۍ د ټولو نه کږهبرخه د ټولو برنۍ برخه ده کۀ تاسو ددې د نېغولو کوشش کوئ نو دا به ما ته کړئ او کۀ چرې دا تاسو یواځې یواځې پرېږدئ نو دا به کږه پاتې شی. پس د ښځو سره پۀ مهربانۍ سره سلوک کوئ."

(بخاری/مسلم)

هر کله چې د خدائې پاک پۀ حکم سره د آدم او حوا ابۍ تخلیق مکمل شو نو دوئ پۀ جنت کښې اوسېدل شروع کړل . خدائې پاک د امتحان پۀ غرض دوئ د یوې خاصې ونې د مېوې خوړلو نه منع کړي وو.

شېطان څوک چې د شروع نه ددوئ خلاف وو او ددوئ دښمن وو ددوئې پۀ زړونو کښې وسوسې واچولې او د

هغې پۀ نتيجه کښې آدم او حوا ابۍ دواړو د هغه ونې مېوه اوخوړه.

"پس راکوز ئې کړل دواړه پۀ فرېب (ټګۍ) سره. پس هر کله چې اوڅښله دواړو هغه ونه نو ښکاره شو دواړو ته عورتونه د دوئ او شروع اوکړه دواړو چې پېوندولې ئې پۀ ځان خپل باندې لۀ پاڼو د ونو د جنت نه او آواز ا وکړو دواړو ته رب د دوئي چې اے ما نۀ وئ منع کړي لۀ دې ونې نه او نۀ وو وئېلی ما تاسو ته چې ببشکه شبطان تاسو دواړو لره دښمن دے ښکاره."

قرآن- سورة الاعراف (07 :22)

ددې خطا پۀ نتيجه کښې خدائې پاک دوئي زمکې ته د راکوزولو فېصله اوکړه.

"اووئېل الله تعالی کوز شئ بعضې ستاسو نه به د بعضې نورو دپاره دښمنان وي. او ستاسو دپاره پۀ زمکه کښې ځائې د آرام او د نفع دے تر يو وخت پورې. اووئېل الله تعالی چې پۀ دې زمکه کښې ژوند تېروئ تاسو. او پۀ دې کښې به مرئ. او لۀ دې نه به (بيا) راويستے شئ."

قرآن- سورة الاعراف (07 :24-25)

خدائې پاک پۀ خپل حکم سره حضرت آدم علیه السلام د سعودی عرب د یو ښار (مکه شریفه) پۀ خوا کښې د عرفات پۀ ډهېرۍ باندې راکوز کړے وو. د حوا ابۍ پۀ باره کښې پۀ بعضې کتابونو کښې لیکلے شوي دي چې هغه د سری لنکا د غرونو چې کومه سلسله ده پۀ هغې کښې پۀ یو غر باندې راکوزه کړے شوې وه.

پۀ بعضو کتابونو کښې لیکلے شوي دي چې هغه د هندوستان د غرونو پۀ سلسله کښې پۀ یو غر باندې راکوزه کړے شوې وه. ډېره موده دوئي د یوبل پۀ لټون کښې وو. د ډېرو کوششونو نه وروستو خدائې پاک دوئي د یو بل سره پۀ مکه شریفه کښې مېلاؤ کړل.

د حضرت آدم او د حوا ابۍ د ملاقات نه وروستو پۀ دې دنیا کښې د انسان د نسل خورېدل ډېر پۀ تېزۍ سره شروع شول.

د خدائې پاک پۀ حکم سره د حوا ابۍ نر او ماده بچي پۀ جوړه جوړه کښې پېدا کېدل شروع شول. یو نر او ماده (هلک او جینۍ) پۀ سحر کښې او یو نر او ماده پۀ ماښام کښې دوئي له به خدائې پاک ورکول.

پۀ سحر کښې پېدا شوی نر (هلک) به پۀ ماښام کښې پېدا شوی مادې (جینۍ) سره وادۀ کولو. او پۀ سحر کښې پېدا شوې مادې به پۀ ماښام کښې پېدا شوی نر سره وادۀ کولو. پۀ دې ترتیب سره دا سلسله روانه وه. او د انسان پۀ دنیا کښې خورېدل ورځ پۀ ورځ زیاتېدل روان شول.

دلته ددې خبرې وضاحت مناسب ګڼم چې مونږ د نن‌ۍ زمانې سحر او ماښام سره نۀ شو مقابله کولے. مونږه د نن‌ۍ زمانې دانسان وجود او د هغې خوبیانې د هغه زمانې د انسان د وجود او د هغې د خوبیانو سره برابر نۀ شؤ ګرځولے

.

2- دوئیم ټوک

2-1: د حضرت آدم علیه السلام نه د حضرت ابراهیم علیه السلام پورې دور.

د حضرت آدم علیه السلام شجره نسب تر ابراهیم علیه السلام پورې په کتاب پیدائش کښې ډېر په تفصیل سره ذکر کړے شوے دے. په دې شجره کښې ورکړے شوي تاریخونه او عمرونه ددې خبرې ډېر ښهٔ وضاحت کوی چې هغه سړے تر څومره وخت پورې ژوندے وو. د څوی د پیدائش په وخت د هغه د پلار د عمر پته په دې شجره نسب کښې لګی.

په لاندینی جدول کښې چې کوم عددونه استعمال شوي دي دا د کتاب پیدائش نه حاصل کړے شوي دي. د بائیبل

مطابق حضرت ابراهیم علیه السلام د حضرت آدم علیه السلام نه 1984 کاله وروستو پیدا شوے وو.

د حضرت ابراهیم علیه السلام نسب نامه

شمار	نوم	د آدم نه وروستو پیدائش	عمر	وفات
1	آدم	-	930	930
2	شیث	130	912	1042
3	انوس	235	905	1140
4	قینان	325	910	1235
5	محلل ایل	395	895	1290
6	یارد	460	962	1422
7	یونس	622	365	987
8	متوسلح	687	969	1656
9	لمک	874	777	1651
10	نوح	1056	950	2006
11	سام	1556	600	2156
12	ارفکسد	1658	438	2096

13	سلح	1693	433	2122
14	عبر	1723	464	2187
15	فلج	1757	239	1996
16	رعو	1787	239	2026
17	سروج	1819	230	2049
18	نحور	1849	148	1997
19	تارح	1878	205	2083
20	ابراهیم	1948	175	2123

2-2: حضرت نوح علیه السلام او غټ طوفان

حضرت نوح (علیه السلام) د حضرت آدم (علیه السلام) نه 1056 کاله وروستو پیدا شوے وو. د "کتاب پیدائش" مطابق پهٔ هغه زمانه کښې د حضرت آدم (علیه السلام) نسل تر حضرت نوح (علیه السلام) پورې صرف پهٔ دجله او فرات علاقو باندې خور شوےوو. پهٔ ډېرو کتابونو کښې ددې خبرې ذکر کړے شوے دے چې د حضرت نوح (علیه السلام) پهٔ بددعا سره د هغه پهٔ وخت کښې سېوا د هغه کسانو نه کوم چې د هغه سره پهٔ کشتۍ کښې سوارهٔ شوي وو. باقی د دنیا ټول انسانان او ځناور خدائې پاک د

یو غټ طوفان پهٔ ذریعه سره تباه کړي وو. دلته د دنیا نه مراد ټوله دنیا نهٔ ده بلکې هغه مخصوص علاقې دي کوم ځائې کښې چې انسانان اوسېدل.

د حضرت نوح (علیه السلام) پهٔ قوم کښې غلط کارونه ډېر زیات شوي وو. د خدائې پاک ذات او د هغه حکمونه نهٔ منونکي هم ډېر زیات شوي وو. پهٔ دې وجه خدائې پاک پهٔ دنیا کښې د انسانی آبادۍ د ختمولو اراده اوکړه.

هر کله چې نوح (علیه السلام) د خپل قوم نه مایوس شو او دا ورته معلومه شوه چې دا قوم اوس پهٔ قابو کښې د راتلو نهٔ دے نو خدائې پاک ته دست پهٔ دعا شو او عرض ئې اوکړو چې اے ربه زما دا قوم زما ایمان نهٔ راوړي دا هلاک کړې. او داسې ئې هلاک کړې چې یو کور هم پهٔ مخ د زمکې پاتې نهٔ شي. الله تعالی د نوح دعا قبوله کړه. او نوح (علیه السلام) ته ئې حکم اوکړو چې کشتۍ جوړه کړه. نو نوح (علیه السلام) کشتۍ جوړول شروع کړل.

د بائبل ترمخه د کشتۍ پهٔ جوړولو باندې 120 کاله لګېدلي وو او پهٔ دې 120 کاله کښې نوح (علیه السلام) د کشتۍ جوړولو سره سره د خپل قوم د اصلاح کوشش هم کولو. خو هغه خلق ډېر سخت زړهٔ لرونکے وو. او نوح (علیه السلام)

چې کشتۍ جوړوله نو دوئي به تله او راتله او ټوقې به ئې ورپورې کولې. او وئېل به ئې چې دې لېونی ته ګوره دلته کوم درياب او سمندر دے چې دے پۀ دې وچه زمکه کښې کشتۍ جوړوی.
نوح (عليه السلام) اوفرمائيل چې ښۀ ده تاسو خو مونږ پورې ټوقې کوئ خو لږ انتظار اوکړئ. مونږ به تاسو پورې ټوقې اوکړو يعنې کله چې تاسو عذاب درپۀ در کړئ. نو خود به د ټوقو لائق اوګرځئ.
هر کله چې نوح (عليه السلام) کشتۍ جوړه کړه نو خدائې پاک نوح (عليه السلام) ته اوښودل چې پۀ دې کشتۍ کښې به څوک سورېږي.
"تر هغې چې کله راغے حکم زما او جوش ا وکړو تنور(پۀ اوبو سره). نو اووئېل مونږ چې سوارۀ کړه پۀ دې خپل مګر هغه څوک چې وړومبۍ شوې ده پۀ هغه باندې وېنا د عذاب. او هغه څوک چې ايمان ئې راوړے. او ايمان نۀ وو راوړے له ده سره مګر لږو کسانو. او اووئېل دۀ چې سواره شئ پۀ دې کښې پۀ نامه د الله تعالی سره دی روانېدل ددې او اودرېدل ددې. يقينا رب زما خامخا بخښونکے مهربانه دے."

قرآن - سورة هود (11 :40. 41)

د نوح (علیه السلام) درې ځامن وو. چې په هغې کښې د یو نوم کنعان وو. کنعان د نوح (علیه السلام) د خاندان نه د هغه د ګمراهۍ په وجه ویستلے شوے وو. د نوح (علیه السلام) د ښځې د نوم په باره کښې په قرآن او بائبل کښې څه ذکر نۀ دے کړے شوے. البته د یهودیانو په تاریخی کتابونو کښې د هغې "نامه " ذکر کړے شوې ده.

"او آواز اوکړو نوح (علیه السلام) رب خپل ته. پس اووئیل دۀ چې اے ربه زما! یقینًا چې ځوئې زما د اهل نه وو. او یقینًا چې وعده ستا حق ده. او تۀ ئې غوره د حکم کونکو نه. اووئیل الله تعالی چې اے نوح (علیه السلام)! یقینًا چې دے نۀ دے د اهل ستا نه. یقینا دا چې دے خاوند د عمل بد دے. پس غوښتنه مۀ کوه زما نه د هغه شی چې نشته تا لره په هغې باندې علم. بیشک چې زۀ نصیحت کووم تا ته چې نۀ شې تۀ د ناپوهو نه."

قرآن - سورة هود (11 :45. 46)

نوح (علیه السلام) خپل ځوئې کنعان ته آواز اوکړو چې کشتۍ ته راسور شه. لیکن هغه بد نصیبه وو ایمان ئې نۀ وو راوړے او د الله تعالی قانون دے چې نوح (علیه

السلام) پېغمبر وو او ځوئې ئې کافر. لوط (علېه السلام)
پېغمبر وو او ښځه ئې کافره وه.
هر کله چې د طوفان آثار ښکاره شؤ. او د زمکې نه اوبه پۀ
راخوټکېدو شوې او نوح (علېه السلام) خپله عمله کومو
چې ایمان راوړے وو کشتۍ کښې سوروله نو خپل ځوئی
کنعان ته ئې حکم اوکړوچې کشتۍ ته سورېږه. خو هغه
انکار اوکړو چې ستا کشتۍ ته زما ضرورت نشته. زۀ به
دې غر ته اوخېژم او د اوبو نه به بچ شم. نوح (علېه السلام
) ډېر د شفقت پۀ انداز کښې اوفرمائېل چې زما ځویه سور
شه دې کشتۍ کښې. د کافرانو سره مۀ ملګرے کېږه. لیکن
کنعان اونۀ منله.
د کتاب پېدائش ترمخه د آسمان نه ډېر زیات باران
راووربېدلو او د زمکې نه پۀ چینو کښې ډېرې اوبه راووتې.
او صورت حال دا شو چې غټې غټې چپې جوړې شوې.
د اوبو هغه چپو کنعان د خپل پلار نوح (علېه السلام) نه
جدا کړو او همېشه د پاره پۀ عذاب کښې ګېر شو. دې
طوفان هغه ټول کسان کوم چې پۀ کشتۍ کښې سواره نۀ
وو تباه کړل. او همېشه دپاره ددې دنیا نه فنا شول. او د

عذابونو دنیا ته داخل شول. قرآن شریف ددې طوفان د زمانې او ددې د جاری اوسېدو وخت نهٔ ښائی.
البته بائېبل ددې طوفان د جاری اوسېدو وخت 150 کاله او د یهودیانو د تاریخ کتابونه 40 ورځې ښائي.
د قرآن ترمخه هغه ځائې کوم ځائې چې د نوح (علیه السلام) کشتۍ اودرېدلې وه د هغې نوم(جودی) دے.
(جودی) د غرهٔ یوه ډېرکۍ وه. او هر کله چې د طوفان اوبه وچې شوې نو خدائې پاک د نوح (علیه السلام) کشتۍ پهٔ جودی مقام باندې اودروله. او پهٔ دې کشتۍ کښې سوارهٔ د هغه د خاندان خلق او ایمان راوړے خلق او نور ځناور او مارغان بچ پاتې شوي وو.
دنوح (علیه السلام) عمر 950 کاله وو. او پهٔ کوم وخت کښې چې هغه غټ طوفان راغلے وو د کتاب پېدائش ترمخه پهٔ هغه وخت کښې د هغه عمر 600 کاله وو.
د هغه غټ طوفان نه وروستو د نوح (علیه السلام) او د هغه سره پهٔ کشتۍ کښې د بچ شوي انسانانو چې پکښې د هغهٔ ښځه ، ځامن او اواینګوریانې او نور ځناور او مارغان شامل وو. یو ځل بیا پهٔ دنیا کښې اوسېدل شروع کړل. د دوئي نه پهٔ ټوله دنیا کښې چې 71٪ وچوبه او 29٪ اوبه لری

د انسانانو، څناورو او مارغانو وغېره خورېدل شروع شول.
تر نن زمانې پورې پۀ ټوله دنیا کښې پۀ 29٪ وچوبه د کومې ټوله علاقه چې 148.94 ملین مربع کلومیټر ده. تقریبا 5850000000 (پنځه ارب او پنځه اتیا کروړه) خلق اوسیږي.
پۀ دې خلقو کښې 2015 ملین عیسایان، 1215 ملین مسلمانان، 925 ملین هغه کسان چې د چا چې هېڅ مذهب هم نشته، 786 ملین هندوان، 362 ملین بدمت او باقی د نورو مذهبونو خلق دي.
د نوح سره د بچ شوي څناورو او مارغانو نه تر نن زمانې پورې بې حسابه څناور او مارغان وغېره پۀ ټوله دنیا کښې خواره شوي دي.

3-2: د ډاروین (Darwin) نظریه او د هغې ترمخه د انسان جوړښت.

ډاروین پۀ 12 فروری 1809ء کښې پۀ انګلیستان (انګلېنډ) کښې پېدا شوے وو. د هغه پوره نوم چارلس رابرټ ډاروین (Charles Robert Darwin) وو. ډاروین پۀ کال 1871 ء کښې یوه نظریه وړاندې کړې وه. د هغه نظرئې مطابق پۀ دې دنیا کښې د اولنی انسان پېدائش د شادو پۀ بدن کښې

د بدلون په نتیجه کښې شوے دے. ډېر غېر مسلمه په دې نظریه باندې یقین لري. البته مسلمانان د ډاروین نظریه بالکل نۀ منی. لکه څنګه چې اسلام دا نظریه بالکل رد کوی.

د ډاروین د نظرئې ترمخه ډېره موده وړاندې په دې دنیا کښې سل فیصد (100٪) اوبه وې. یو وارې په هغه اوبو کښې آسمانی تندر راارتاؤ شوے وو. او د هغې په نتیجه کښې په هغه اوبو کښې ساه لرونکي څیزونه پېدا شوي وو. د وخت په تېرودو سره هغه ساه لرونکي څیزونو کښې وخت په وخت د بدلون (Evalution) عمل جاری وو. او د هغوئ نه سمندری چینجی شان جوړ شول. په هغه چینجو کښې د بدلون د عمل په نتیجه کښې مهیان جوړ شول. د بدلون دا عمل په مهیانو کښې هم رو رو جاری وو. او د هغې په نتیجه کښې په اوبو او په وچوبه دواړو باندې د اوسېدو قابل څناور جوړ شول. او صرف په وچوبه اوسېدونکي څناور جوړ شول. په وچوبه باندې اوسېدونکو څناورو کښې د بدلون په نتیجه کښې مارغان او نور څناور جوړ شول. چې پکښې ډائېناسور او پۓ ورکونکي څناور شامل وو.

پۀ هغه ځناورو کښې د نمر، هواګانو او اوبو د اثر پـۀ وجه بدلون اوشو او د شادوګانو یو قسم چیمپینزي ځناور جوړ شول.د چیمپینزي پۀ بدن کښې بدلون اوشو او پـۀ نتیجه کښې ئې انسان جوړ شو.

قرآن شریف د ډاروین نظریه بالکل رد کوی. د ټول کائنات خـالق الله تعـالی پـۀ قـرآن کښـې وائـی چـې اولـنے انسـان حضرت آدم پۀ جنت کښې جوړ کړے شوے وو.

د ډاروین نظریه



1- اسمانی تندر
2- ساه لرونکي خيزونه
3- د مهو پهٔ شان ساه لرونکي
4- د مهو او لنے نسل
5- مهي
6- مهي او نور ساه لرونکي ځناور
7- پهٔ اوبو کښې او پهٔ وچوبه اوسېدونکي ځناور
8- ډائناسار
9- چيمپينزي (د شادو يو نسل)
10- انسان

2-4: پـهٔ دنيـا کښـې مختلـف مذهبونـه او دهغـې سرپرستان

ترنن وخته پورې پهٔ دنيا کښې تقريبا 5850000000 خلق پهٔ اووه (7) براعظمونو کښې اوسېږي. ددې خلقو ژوندژواک، ژبه، جامې، کلتور، مذهب، رنګ او د بدن قد د يو بل نه مختلف دي.

د یو بل سره د رابطې(تماس) او د مذهبی احکامونو پهٔ صحیح طریقې سره پوره کولو پهٔ لړ کښې ژبه بنیادی حیثیت لری. پهٔ دنیا کښې تر ننه پورې 6800 ژبې وئیلے کیږي. پهٔ دې ژبو کښې 2261 ژبې پهٔ لیکلی شکل کښې موجودې دي او باقی نورې ژبې صرف وئیلے کېدے شي.

پهٔ دنیا کښې وړاندې ذکر کړےشوي خلق د مختلفو مذهبونو منونکي دي. چې پکښې اسلام، عیسائیت، یهودیت، او تقریبا پنځلس (15) نور غټ مذهبونه شامل دي.

2-4-1: جوډئیزم (judaism) یهودیت

د یهودیانو د تاریخ د کتابونو مطابق پهٔ کال 1301/1290 (قبل مسیح) کښې خدائې پاک حضرت موسی علیه السلام ته یو مذهب ورکړے وو چې پهٔ جوډئیزم (یهودیت) باندې نومیږی. ددې مذهب منونکو ته یهودیان وئیلے شي.

یهودیت د مختلفو خیالونو یوه داسې ټوله ده کومه چې دنیا او پهٔ دې کښې د ژوند تیر ولو لارې ښائي.

پهٔ یهودیت کښې د عقیدې څهٔ نظام نشته۔ پهٔ کوم چې یو کس کهٔ یهودی وی نو خامخا به پرې یقین لری. البته د څهٔ حده پورې پهٔ دې کښې د عقیدې ځائې شته دے.

د يهوديانو د عقيدې ديارلس (13) بنيادى اصول دي.

1- خدائې هر وخت موجود دے.

2- خدائې پاک يو دے.

3- د خدائې پاک وجود مادى نۀ بلکې روحانى دے.

4- خدائې پاک نه ختمېدونکے ذات دے.

5- دعا صرف د خدائې پاک نه غوښتے شى او د بل هېڅ چا نه دعا نۀ شى غوښتلے کېدے.

6- د پېغمبرانو خبرې رښتيا دي.

7- د موسى علېه السلام د راتلونکى وخت پۀ باره کښې کړے شوې خبرې رښتيا دي. او دا چې موسى د ټولو پېغمبرانو نه لوئې پېغمبر دے.

8- ليکلے شوے (تورات) موسى ته ورکړے شوے وو.

9- بل تورات به بالکل نۀ راځى.

10- خدائې پاک د انسان خيالات او عملونه پېژنى.

11- خدائې پاک به د ښۀ کارونو جزا او د بدو کارونو سزا ورکوى.

12- عيسى علېه السلام به بيا دنيا ته راځى.

13- مړي به بيا ژوندي کولے شي.



یهودیت

2-4-2: حضرت موسی علیه السلام

پۀ یوه زمانه کښې د مصر پۀ زمکه باندې د حضرت ابراهیم علیه السلام، حضرت یعقوب علیه السلام او د حضرت یوسف علیه السلام اولاد اوسېدو. پۀ هغه زمانه کښې د مصر پۀ علاقه باندې د یو ظالم او جابر حکمران فرعون بادشاهی وه. هغه پۀ دنیا کښې د خدائې دعوی هم کوله. هغه به پۀ ډېر کم اجرت پۀ خلقو باندې کارونه کول او هغه علاقې کومې چې د هغه د حکومت پۀ دائره کښې وې د هغې پۀ اوسېدونکو باندې ئې دنیا تنګه کړې وه او وئېل به ئې چې هغوئې دې صرف او صرف د هغه (فرعون) عبادت کوي. ځکه چې د هغه نه سېوا بل خدائې نشته. ډېرو خلقو د

مجبو دی۔ لۀ کبله د هغه دا حکمونه پۀ ښکاره باندې منل خو پۀ اصل کښې هغوئي فرعون بالکل خدائې نۀ منلو. چونکې یوسف علیه السلام ته خدائې پاک ډېر حسن او پوهه ورکړې وه او داسې وئېلے شی چې هر کله به یوسف د هغه ځائې نه تېرېدو چرته چې به زنانه وې نو هغه به خپل مخ پټۀ.

فرعون ددې خبرې نه ډېرو ېرېدو چې کۀ چرې د یوسف او د یعقوب علیه السلام نسل ډېر زیات شي نو د هغه بادشاهۍ ته خطره جوړېدے شی.لۀ دې کبله هغه حکم ورکړو چې د یوسف او د یعقوب علیهم السلام چې څومره هلکان وارثان پېدا کېږي نو هغه مړۀ کوئ.

د فرعون د حکم منل شروع شول او څومره هلکان ماشومانان چې به پېدا کېدل نو مړۀ کولے به شۀ. هر کله چې د فرعون مالی مشیرانو پۀ دې خبره غور اوکړو نو فرعون ته ئې اووئېل چې د اسرائیلو واړه هلکان مړۀ کولے شي او لوئې هلکان ئې پۀ خپل مرګ مري. کۀ چرې دا سلسله دغه شان جاری وی نو ددې پۀ نتیجه کښې به دوئي ټول ختم شي. هغوئ فرعون ته دا هم اووئېل چې پۀ دې کښې به هغه کسان هم ختم شي چا چې به د هغه دپاره کار کولو.

د فرعون مالی مشیرانو هغه ته یوه نوې پالیسی وړاندې کړه او هغه دا چې پهٔ یو کال کښې پېدا شوي هلکان ماشومان به مړهٔ کولے شي او پهٔ بل کال کښې پېدا شوي ماشومان به نهٔ شي مړهٔ کولے.

فرعون ته دا مشوره خوښه شوه او پهٔ دې ئې د عمل کولو حکم نامه جاری کړه.

پهٔ کوم کال کښې چې د پېدا شوي هلکانو ماشومانو د مړهٔ کولو حکم وو پهٔ هغه کال کښې موسی علیه السلام پېدا شو. د هغه مور ډېره خفه وه چې هغه به مړ کړے شی. لهٔ دې کبله هغې د هغه د پېدائش خبر پټ اوساتو. او پهٔ پټه ئې د موسی علیه السلام پالنه شروع کړه.

خدائې پاک د موسی علیه السلام مور ته د فرښتې پهٔ ذریعه یو پېغام راولېږلو چې موسی علیه السلام پهٔ یوه ټوکرۍ کښې واچوه او پهٔ دریاب کښې ئې پرېږده. پهٔ دې طریقې سره به موسی علیه السلام د فرعون د حکم نه بچ شی.

"او وحې اوکړه مونږ مور د موسی علیه السلام ته د دې (خبرې) چې تے ورکړه دهٔ لره ـ پس هر کله چې وېرېدې تهٔ پهٔ دې باندې پس اوغورځوه دے پهٔ دریاب کښې. او مهٔ

وېرېږه او مهٔ خفه کېږه. یقینا چې مونږ به راولو دے تاتـه او گرځـونکي یـو مـونږ دهٔ لـره د ډلـې د پېغمبرانـو نـه. پـس راپورته کړه دے ال د فرعون (دې دپاره) چې شی دے دوئي لره دښمن او غم یقینا فرعـون او هامـان او لښـکرې د دوئـي وو دوئي خطا کونکي."

قرآن - سورة القصص (28 :07)

پـهٔ کـوم دریـاب کښـې چې موسی علیـه السـلام پـهٔ ټـوکرۍ کښې غورځولے شوے وو د هغه دریاب نه نهر(وله یا لختے) د فرعون کور ته تلے وو. هغه ټوکرۍ سره د ماشوم د فرعـون د ښځې پهٔ لاس ورغله. هغه ډېره نرم زړهٔ لرونکې او مهربانه ښځه وه. هغې موسی علیه السلام خپل محل ته د ځان سره یوړو. یو کس ته هم پته نهٔ وه چې د هغه ماشوم مور او پـلار څوک دي. چونکې د فرعون ښځې چې د هغـه (موسی علیـه السلام) دې پهٔ ښهٔ طریقې سره پالنه اوشی پهٔ دې وجه هغې خپلو نوکرانو ته اووئېل چې یوه ښهٔ نوکره اوګورئ چې ددهٔ پالنه اوکړی. د فرعـون د ښـځې نوکرانو اعـلان اوکړو چې ملکې سـلامتې تـه د یـوې ښـې او قـابلې نـوکرې ضـرورت دے.

ډېرې ښځې د ملکې سلامتې پهٔ خدمت کښې د نوکرۍ پهٔ غرض حاضرې شوې. خدائې پاک د موسی علیه السلام خپلې مور له هم داسې اسباب جوړ کړل چې هغه هم د فرعون د ښځې پهٔ خدمت کښې د نوکرۍ دپاره حاضره شوه. د فرعون ښځې پهٔ ډېرو ښځو کښې د موسی علیه السلام خپله مور د هغه دپاره نوکره غوره کړه. د فرعون ښځې ته بالکل پته نهٔ وه چې کومه نوکره چې د موسی علیه السلام د خدمت دپاره غوره کړے شوې ده هغه د هغه خپله مور ده. دا ټول کار خدائې پاک پهٔ خپل حکم سره کړے وو. موسی علیه السلام د فرعون پهٔ محل(ماڼۍ) کښې لوئې شو. او د هغه د تعلیم او تربیت دپاره ښهٔ ښهٔ استاذان مقرر کړے شوي وو.

خدائې پاک موسی علیه السلام له ښهٔ صحت، طاقت، علم، او عقل ورکړے وو. یوه ورځ موسی علیه السلام د مصر پهٔ یو ښار کښې دوه سړي اولیدل چې خپلو کښې پهٔ جنګ وو. پهٔ هغو کښې یو اسرائیلے او دوئېم مصرے وو. هغه اولیدل چې مصرے ډېر پهٔ زوره زوره اسرائیلے وهی. هر کله چې اسرائیلے موسی اولیدو نو د مدد طلب ئې ترې نه اوکړو. موسی علیه السلام د هغه تر مېنځه شو او د

ډېرې غصې په حالت کښې ئې مصرے په ډېر زور سره اووهلو او هغهٔ په هغه موقع (ځائې) باندې مړ شو.
موسی علیه السلام ته چې هر کله ددې خبرې احساس اوشو. چې هغه يو انسان مړ کړو. نو ډېر زيات خفه شو او د خدائې پاک نه ئې بخښنه اوغوښته.
موسی علیه السلام هغه مصرے قصداً نهٔ وو مړ کړے. هغه د خدائې پاک نه د معافۍ دعا اوغوښتله. او د هغې تر وروستو هغه پهٔ خپل بدن کښې سکون محسوس کړو. او هغه حالت ئې شو کوم چې د هغې سړی د مرګ نه مخکښې وو. ددې واقعې نه وروستو هغه د ډېر صبر او همدردۍ سرګندونه کول د خلقو سره شروع کړه.
ددې واقعې خبر چې هر کله فېصله کؤنکو ته اورسېدو نو هغوئ د موسی علیه السلام د مړ کولو فېصله (پرېکړه)اوکړه. موسی علیه السلام ته دا پته وه چې کوم مصرے چې هغه وژلے دے دهغې سزا د مرګ ده. موسی علیه السلام د مرګ د سزا نه د بچ کېدو پهٔ عرض د مصر نه د وتلو فېصله اوکړه او د مصر نه ئې د سوريا (شام) يو ښار مدين ته سفر شروع کړو. پهٔ دې سفر کښې د هغه سره د خدائې نه علاوه نور هېڅوک ملګري نهٔ وو. پهٔ دې سفر

کښې نه د هغه سره د خوراک څۀ څيزونه وو او نۀ ورسره اوبه وې. ولې چې هغه دومره پۀ تادئ سره روان شوے وو چې دې څيزونو ته ئې ښخی نۀ وو جوړ شوے.

هغه د مصر نه مدين پورې دا سفر پۀ اتۀ (8) ورځو کښې پوره کړے وو. هغه به د ورځې سفر نۀ کولو ځکه چې د فرعون کسان پۀ هغه پسې لګېدلي وو او د ورځې خطره دا وه چې که چرې د هغه د کسانو پۀ نظر کښې راغلے وی نو زيان ورته رسېدے شو.

کله چې موسی علېه السلام مدين ته اورسېدو. نو د يوې ونې لاندې ئې ډېره اووهله. هغه ډېر زيات ستړے شوے وو. او د تندې او لوږې ئې هم پۀ بدن ډېر خراب اثر وو. هغه اوليدل چې د بيزوګرو يو ټولګے خپل څاروي اوبۀ کوي. موسی چې د هغوئي خوا له لاړونو اوئې ليدل چې دوه ښځې پۀ ډېره ولاړې د خپلو څارو اوبۀ کولو انتظار کوي. موسی د هغه ښځو د څارو پۀ اوبۀ کولو کښې د هغوئي مرسته اوکړه واپس خپل ځائې ته کوم ځائې چې ئې ډه وهلې وه راغلو. هر کله چې هغه ښځې کور ته لاړې بوډا پلار ته ئې ټوله قيصه بيان کړه

هغه بوډا سړی په لونبو کښې یوه موسی علیه السلام ته د دعوت دپاره وراولېږله چې د هغه کور ته دې راشی. موسی د هغه بلنه قبوله کړه اود هغه د لور سره د هغه کور ته لاړو.

څهٔ موده وروستو هغه بوډا سړی خپله یوه لور موسی ته د وادهٔ کولو دعوت ورکړو او موسی هغه وړاندیز اومنلو او د وادهٔ نه پس ئې خوشحاله ژوند تېرول شروع کړل.

څهٔ کلونه پس موسی علیه السلام او د هغه ښځه پهٔ هغه ملک کښې دننه پهٔ سفر باندې ووچې ناڅاپه هغه ته یو غټ اور غوندې پهٔ نظر راغے. هغه خپل ښځې ته اووئېل چې تاسو پهٔ دې ځائې باندې اودرېږئ او پخپله یواځې د اورد پتې لګولو پهٔ غرض اور اړخ ته روان شو.

هر کله چې موسی علیه السلام اور ته نزدې شو نو د اور د شغلو نه یو آواز راغلو.

"اے موسی." آواز اووئېل "زهٔ الله یم. ستا خدائې. زهٔ تا خپل پېغمبر جوړوم."

"تهٔ خامخا لاړ شه خلقو ته او اووایه هغو ئې ته چې خدائې صرف یو دے۔ الله چاچې هغوئې پېدا کړي دي. پس هغوئې دې خامخا د خدائې پاک شکریه ادا کړي او د هغهٔ عبادت دې کوي او ښهٔ کارونه دې کوي.

خدائې پاک موسی علیه السلام ته اوفرمائېل چې خپل
وروړ هارون د ځان سره کړه او فرعون پله تۀ لاړ شه او هغه
ته او د هغه خلقو ته زما پېغام اورسوه. موسی علیه السلام
سره د خپل وروړ مصر ته لاړو او فرعون ته ئې اووئېل چې
"الله" چا چې ټوله دنیا پېدا کړې ده، زۀ تا ته رالېږلے یم. زۀ
د الله تعالی پېغمبر یم. او ما تا له رښتیا راوړي دي. تا له د
یوسف علیه السلام بچي ازادول پکار دي. کوم چې تا د
خپلو ظلمونو پۀ دائره کښې بندیوان ساتلي دي. دوئي آزاد
کړه او زما سره د تللو اجازت ورته ورکړه. هر کله چې
فرعون دا خبره واورېده نو سخت پۀ غصه کښې شو. او وئې
وئېل چې تۀ دروغ وائې. د دنیا خدائې صرف زۀ یم. بل
هېچوک د دنیا خدائې نۀ شی کېدے. زۀ پۀ دنیا باندې د
ټولو نه طاقتور بادشاه یم.
لېکن موسی علیه السلام د فرعون د غصې نه نۀ وېرېدو.
او هغه فرعون ته اووئېل چې زۀ به تا ته اوښایم چې خدائې
پاک د ټولو انسانانو نه طاقتور دے او ستا نه هم طاقتور
دے. موسی علیه السلام خپله همسا راواغسته او پۀ
زمکه باندې ئې غوزاره کړه. ناڅاپه د هغې نه یو غټ خامار
جوړ شو. فرعون موسی علیه السلام ته اووئېل چې تۀ غټ

جادوګر ئې. زه به په خپل مملکت کښې ټول غټ غټ جادوګران راغونډ کړم. نو بیا به اوګورم چې ته غټ جادوګر ئې او که هغوئي.
فرعون د خپل مملکت ټول غټ غټ جادوګران را اوغوښتل. هغه جادوګرانو د ځان سره ډېرې همساګانې راوړې. او په جادو سره ئې د هغې نه ډېر ماران جوړ کړل. هر کله چې موسی علیه السلام خپله همسا زمکې ته اوغورزوله. نو د هغې نه یو ځل بیا یو ډېر غټ خامار جوړ شو. او هغه خامار د نورو جادوګرانو هغه جوړ شوي ټول ماران اوخوړل.
جادوګران د موسی علیه السلام نه ډېر متاثره شول. او وئې وئیل چې مونږ په هغه الله باندې په رښتیا سره یقین لرو چا چې موسی علیه السلام خپل پېغمبر رالیږلے دے. هغوئي اووئیل چې په حقیقت کښې الله زمونږ د ټولو نه ډېر زیات طاقتور دے او هغه د ټول کائنات خالق (پېدا کوونکے) دے.
په دې خبره فرعون ډېر سخت غصه شو او وئې وئیل چې تاسو په هغه چا باندې یقین کوئ د چا نه چې تاسو ما منع کړي وئ.
هغه ټولو جادوګرانو ته دړکه (دهمکی) ورکړه. او ورته ئې اووئیل چې که چرې تاسو داسې اوکړل نو ستاسو پښې او

لاسونه به پرېکړے شي. جادوګرانو فرعون ته اووئېل چې تۀ زمونږ نه ددې خبرې بدله اخلې چې مونږه د الله پۀ نخښو باندې یقین لرؤ. خدائې پاک دې پۀ مونږ رحم اوکړی او مونږ ته دې د صبر توفیق راکړی. تۀ چې زمونږ سره څۀ کول غواړې نو اوکړه خو مونږ به بیا هم الله ته رجوع کوؤ.

پۀ دې طریقې سره هغه جادوګران کوم چې لالچیان وو د خدائې پاک ډېر ښۀ ایمانداران بندګان جوړ شول.

ددې نه وروستو موسی علیه السلام د یوسف علیه السلام وارثانو طرف ته لاړو او هغوئي ته ئې اووئېل چې تاسو تیار اوسېږئ ـ مونږ به د مصر نه چرته لرې ځؤ. هر کله چې دوئي پۀ سفر روان شول او څۀ تګ ئې اوکړو نو فرعون او د هغۀ سپاهیانو ته پته اولګېده. او د دوئي د نیولو دپاره ئې ددوئي تعاقب(ورپسې شول) شروع کړو.

موسی علیه السلام او د هغۀ خلقو خپل تګ تېز کړو او آخر دا چې یو سمندر ته اورسېدل. فرعون او د هغۀ سپاهیان موسی علیه السلام او د هغه خلقو ته نزدې شوي وو. د موسی علیه السلام خلق ډېر پۀ وېره کښې وو. خدائې پاک د موسی علیه السلام او د هغۀ د خلقو مدد پۀ دې طریقه سره اوکړو چې د سمندر اوبۀ ئې پۀ دوو برخو کښې تقسیم

کړې چې موسی علیه السلام او د هغهٔ خلق ئې پهٔ مېنځ کښې لاړ شي. هر کله چې فرعون او د هغهٔ خلق سمندر ته اورسېدل نو هغوئ هم پهٔ هغه لاره روان شول کومه چې د سمندر پهٔ مینځ کښې جوړه شوې وه پهٔ کوم سمندر کښې چې دا واقعه شوې وه. د هغې زوړ نوم بحیره قلزم دے او پهٔ نن‌ۍ زمانه کښې ورته بحیره احمر وئیلے شی. هر کله چې د موسی د قافلې اخری کس د اوبو نه پورېوتو او د فرعون د قافلې اخری کس د سمندر پهٔ مېنځ کښې جوړې کړے شوې لارې ته راکوز کړے شؤ، نو خدائې پاک پرې د دواړو اړخونو نه اوبهٔ راوستې او فرعون سره د خپلو سپاهیانو پهٔ سمندر کښې ډوب شو.

ددې واقعې نه وروستو موسی علیه السلام او د هغهٔ خلق د ډېرو کلونو پورې پهٔ صحرا کښې اوسېدل. یوه ورځ خدائې پاک موسی ته حکم اوکړو چې یو دنګ غر ته اوخېژه. موسی علیه السلام یو دنګ غر ته اوختو او هلته ئې د خدائې پهٔ حکم څلوېښت ورځې او شپې تېرې کړې. موسی علیه السلام به هغه څلوېښت ورځو او شپو کښې د خدائې پاک عبادت کولو او د خدائې پاک خبرې به ئې

اوربدې کومې چې به خدائې پاک د موسی علیه السلام او د هغۀ د خلقو پۀ حقله کولې.

موسی علیه السلام ته خدائې پاک تورات ورکړے وو. پۀ تورات کښې هغه خبرې بیان کړے شوي دي کومې چې انسان له کول او کومې چې نۀ کول پکار دي.

5-2: هندوئیزم (Hinduism) هندومت :

هندومت پۀ کال **1500** (قبل مسیح) کښې پۀ وجود کښې راغلے وو. دا مذهب د انسانانو پۀ خپله جوړ کړے شوے مذهب دے او ددې څوک خاص بانی (جوړوُنکے) یا سرپرست نشته.

د هندومت منونکي پۀ هندوستان کښې د ټولو نه زیات دي. او د هندوستان د ټولې آبادئ تقریبا **80** فیصده خلق هندوان دي. پۀ دنیا کښې تر ننه پورې د هندوانو ټول تعداد تقریبا **786** ملین دے.

پۀ هندومت کښې د ایمان لرلو څۀ خاص اصول نشته او پۀ روحانی اړه سره د یقین لرلو مکمل آزادی ورکوی. لکه یو کس پۀ یو خدائې هم یقین لرلے شی او پۀ ډېرو خدایانو

باندې هم يقين لرلے شی او داسې هم کېدے شی چې پۀ يو خدائې هم يقين نۀ لری.
د هندومت د ټولو نه زاړۀ مذهبی عبارتونه پۀ سنسکرت ژبه کښې ليکلے شوي دي او هغې ته وداس (Vidas) وئېلے شی. د وداس معنی علم ده.
د هندوانو د تاريخی کتابونو مطابق د وداس څلور کتابونه دي. او پۀ هغې کښې د ټولو نه زوړ ته رېګ ودا (Reg veda) وئېلے شی. پۀ رېګ ودا کښې د مختلفو خدايانو، کائنات او مخلوق پۀ حقله ذکر کړے شوے دے. ددې کتابونو د ليک تقريبا 1000 (قبل مسيح) ښودلے شوے دے۔
پۀ کال 200 (قبل مسيح) کښې د هندومت پۀ حقله ماها بهاراته (Mahabaharata) ليکلے شوے وو ۔ پۀ دې کتاب کښې د انسان د روح دګناهونو نه د بچ کېدو درې لارې ښودلے شوي دي۔
دهندوانو د عقيدې مطابق برهمن (کائناتی روح) د کائنات اصول او ذريعه ده ۔ دا آسمانی پوهه د هر ساه لرونکی نه تېروځی چې پکښې د انسان روح هم شامل دے ۔ د هندوانو دا هم عقيده ده چې ټول ساه لرونکي پۀ يو خدائي دائره کښې ګرځي ۔ دوئي دنيا ته راځي ۔ دلته څۀ وخت

تېـروي . بيـا مـړۀ شـي او كـوم چې مـړۀ شـي نـو د هغـوئي روحونه خدائي دائرې ته لاړ شي ـ او بيا څۀ موده پس هغه روحونه بيا د مړۀ شوو پۀ وجودونو كښې داخل شي ـ او دنيا ته يوځل بيا راشي ـ او دا سلسله همېشه دپاره جارى وى ـ

د ارتهوډاكس (Orthodax) هندوانو معاشره پۀ لاندينى پنځۀ (5) ډلو كښې وېشلے شوې وه ـ

(1) برهمن (Brahmin) ددې ډلې خلق ډېر مذهبى او پوهه وو ـ

(2) كشتريه (Kshatriya) دا ډله حكمرانى كوونكې ډله وه او پۀ فوځى كارونو كښې ډېره وړاندې وه ـ

(3) وېشايه (Vaishaya) ددې ډلې خلق د زمكو مالكان او تجارت پېشه خلق وو ـ

(4) سودرا (Sudra) ددې ډلې خلق مزدور كار وو ـ

(5) د سودرا نه لاندې ډله پنځمه ډله وه ـ ددې ډلې خلق بې تعليمه او بې هنره وو او د هغوئي سره مېلاوېدل به بد ګڼلے شول ـ

هندومت

1-6-2: بدھیزم (Buddhism) بدمت :

پۀ (560-480) (قبل مسیح) کښې د هندوستان د یو جنګ ببر بادشاه سودهودانه ګوتمه (Suddodana Gutama) ځوی سدهارتها ګوتمه (Siddharta Gutama) یو مذهب جوړ کړے وو کوم چې پۀ بدهیزم (بدمت) باندې نومېږی . چونکې ددې مذهب سرپرست سدهارتها ګوتمه او د هغه ټول خاندان پۀ اول کښې پۀ هندومت باندې وو پۀ دې وجه دبدمت پۀ جوړولو کښې سدهارتها ګوتمه د څۀ حده پورې د هندومت نه مدد اغستے وو۔

پۀ ټوله دنیا کښې د بدمت منونکې خلق تقریبا 362 ملین دي ۔ پۀ براعظم ایشیاء کښې د بدمت منونکې تقریباً (313114000) دي ۔ بدمت پۀ صدو باندې پۀ چین، جاپان او کوریا کښې یو غټ غالب مذهب وو ۔

پـهٔ بـد مت بانـدې د یقـین کولـو څلـور بنیـادی حقیقتونـه او لارې ښودلے شوې دي۔

1: څلور بنیادی حقیقتونه :

1.1: ټـول سـاه لرونکي څیزونـه متـاثره کېـدل پیژني یـا پـهٔ هغوئي بانـدې مخلتـف مشـکلات (کړمنې) راتلے شي هـېڅ څوک هم ددې نه بچ کېدے نهٔ شی۔

2.1: پهٔ ټولو ژوندونو باندې د مشکلاتو راتلو بنیادی وجه جهالت او د یوبل سره ټل کېدل یا پهٔ بل پورې انخښـتل دي۔

3.1: مشکلاتو یا اثر کېدو لره خاتمه شته دے او دا خاتمه صرف پهٔ علم باندې کېدے شی۔

4.1: د مشـکلاتو یـا اثـر کېـدو حقیقـی خاتمـه پـهٔ اتـهٔ لارو باندې کېدے شی۔

(2) اتهٔ لارې:

1.2: صحیح پوهه : د ژوندانهٔ حقیقت او رښتیاوالے پېژندل

2.2: صحیح منزل (Goal) : دا وعده کول چې داسې ژوند تېـر کـړے شـی چـې زمـونږ د ژوندانـهٔ مشـکلات (کړمنـې) ختمې شي۔

3.2: صحیح کوشش : د کار کولو جذبه جوړول او بهانې نهٔ کول۔

4.2: صحیح خبرې کول: پهٔ همدردئ او د مدد د جذبې سره رښتیا وئیل۔

5.2: صحیح سلوک کول : د خپل کلتور پهٔ دائره کښې پهٔ مستقل مزاجئ سره ژوند تېرول۔

6.2: صحیح ژوند تېرول: داسې ژوند تېرول چې د هغې نه نورو خلقو ته څهٔ زیان نهٔ رسی۔

7.2: صحیح دماغئیت : کوم ځائې کښې چې مونږ او سېږو د هغه ځائې قدر پېژندل۔

8.2: صحیح توجه : پهٔ غور او فکر سره خپل هوښیاروالے زیاتول۔

بدمت پهٔ فرد ، کس، تن یا آسمانی ذات یا خدائې باندې یقین نهٔ لری ۔ پهٔ دې کښې د آسمانی ذات نه غوښتنه کول، د هغهٔ عبادت کول یا د هغه لوئی بیانول نشته۔

پهٔ بدمت کښې بچ کېدل، معاف کېدل او د آسمان امېدونو یو حالت هم نشته۔

بـدمت پـۀ حقیقـت کښـې یـو اخلاقـی فلسـفه ده ـ کومـه چې صـرف پـۀ دې دنیـا کښـې پـۀ ښـۀ ژونـد تېرولـو بانـدې زور ورکوی۔

بدمت

2:6-2 : سدهارتها ګوتمه بدهه (Siddharta Gutama Buddah)

د بدمت سرپرست سدهارتها ګوتمه بدهه پۀ کال 560 (قبل مسیح) کښې د هندوستان پۀ سرحدی علاقو کښې پۀ یو شاهی محل کښې پېدا شوے وو ـ کومې علاقې ته چې پۀ اوسنۍ زمانه کښې نیپال وئیلے شی ۔ د هغه د پلار نوم سودهودانه ګوتمه (Suddhodana Gutma) وو ـ او هغه یو ډېر جنګ ببر بادشاه وو ۔ د بودهه د مور نوم ملکه ماهامایه(Queen Maha Maya) وو ـ د هغه مور د هغه د پېدائش نه اووه ورځې وروستو پۀ حق رسېدلې وه ۔ د

بودهـه تـرور یعنـې د ماهامایـه کشـره خـور ماهـا پجـاپتی ګـوتمی (Maha Pajapati Gutmi) هـم د سـودهودانه ګوتمـه ښځه وه

د بدهه دخپلې مور د مرګ نه وروستو د هغه ترور کومه چې د هغـۀ مېرنـۍ مـور وه د هغـۀ تربیت شروع کړو- د شـهزاده سدهارتها پۀ تعلیم باندې ښۀ توجه ورکړے شوې وه او د شـاهی معیـار مطـابق ښـۀ پوهـه اسـتاذان د هغـه د تعلـیم او تربیت دپاره مقرر کړے شوي وو-

چونکې هغه د یو جنګ ببر بادشاه ځوئې وو پۀ دې وجه هغه تـه د جنـګ کولـو طـور طریقـې هـم ښـودلے شـوې وې -د شپاړسو کـالو پـۀ عمر کښې د هغـه وادۀ د هغـه د تـرۀد لـور شــهزادګۍ یاسـودهارا سـره اوشـو -د وادۀ نـه تقریبـا د دیارلس کالو پورې هغه ډېره پۀ خوشحالۍ ژوند تېر کـړے وو - د سدهارتها دپاره درې محلونه جوړ کړے شوي وو- یو محل د ګرمۍ د موسم دپاره، بل د یخنۍ دپـاره او بـل د بارانی موسم دپاره جوړ کړے شوي وو-

دوخـت پــۀ تېریـدو سـره هغـه تـه د خلقـو د مشــکلاتو او تکلیفونـو احسـاس کېـدل شـروع شـول -یـوه ورځ هغـه د خوشحالو نه د ډک محل نه ددې احساس سره بهر ته راووتو

چې دا خلق ځنګه په مشکلاتو او تکلیفونو کښې دي. ددې احساس په وجه سره هغه د دنیا د ترخو حقیقتونو سره مخامخ شو.

هر کله چې هغه په دې خبره باندې پوهه شو چې د جسماني مزې څۀ قدر نشته نو هغه د رښتیاؤ او د نۀ ختمېدو امن په لټون کښې د وتلو فېصله اوکړه. د ډېر غور او فکر نه وروستو هر کله چې سدهارتها د شاهي محل نه د وتلو اخرې فېصله اوکړه نو هغه ته د هغه د ځوئی د پېدائش خبر راوړے شو. هغه د ځوئی په زېږون (پېدائش) ډېر خوشحاله نۀ شو او وئې وئېل چې دا یو خنډ دے. د هغه د ځوئی نوم د هغه نیکه رهوله (Rahula) کېښودو.

دا هغه مرحله وه چې د سدهارتها په خپلې ښځې او خپل ځوئی باندې بالکل څۀ پرواه نۀ وه. د هغه ټوله توجه هغه مقصد طرف ته وه د کوم په حاصلولو چې ټولو خلقو ته خوشحالي او امن مېلاوېدلے شو.

هغه خپله ښځه او خپل ځوئې ځکه یواځې پرېخودلي وو چې هغه ته پته وه چې د هغوئ د ساتنې دپاره د نوکرانو او د خوراک څښاک دپاره د څۀ څیز کمے نۀ وو.

هغه خپل د ټولو نه وفادار نوکر چهنه (Channa) د ځان سره کړو او د خپلې ښځې او ځوئی پۀ اوودو بانديې د ديدار کولو نه پس د محل نه اووتلو او د خپل مقصد حاصلولو دپاره پۀ سفر روان شو۔ پۀ هغه وخت کښې د هغه عمر یوکم دېرش کاله وو۔ هغه ډېر غټ سفر اوکړو او د انوما درياب (Anoma River) نه پورېوتو ۔او د هغې پۀ غاړه بانديې دېره شو ۔هلته هغه خپله ګیره او سر اوخرولو او خپلې ټولې هيرې او جواهرات ئې خپل نوکر چهنه له ورکړل۔ او هدايت (سپارښتنه) ئې اوکړو چې دا هيرې او جواهرات محل ته واپس يوسى۔ هغه د ځان سره صرف د ټوکی يوه نبړه ټوټه پرېښوده او پۀ خوښه سره ئې د غريبى ژوند تېرول شروع کړل۔

څۀ موده پس د سدهارتها ملاقات د الاره کلامه (Alara Kalama) سره اوشو۔ الاره کلامه د هغه وخت د خپل مذهب دپاره ډېر ساده ژوند تېرولو او د ژوند د عېش او آرام نه ئې ځان بالکل جدا کړے وو۔

سدهارتها د الاره کلامه نه ډېر څۀ زدۀ کړل ۔ددې نه علاوه هغه د نورو داسې کسانو سره ملاقاتونه اوکړل چاچې د مذهب دپاره ډېر ساده ژوند تېرولو۔

د شپږو کالو د سخت محنت او غوروفکر نه وروستو هغه یوه پوهه حاصله کړه او پۀ هغه پوهه سره ئې ټولې ګنده خبرې ختمې کړې .د لالچ عمل ئې ختم کړو او د خپلې پوهې پۀ بنیاد سره ئې هغه څیزونه اوومنل کوم چې رښتیا وو۔ددې نه وروستو هغه ته بدهه وئېل شروع شول۔د لفظ بدهه معنی ده پوهه لرونکے یا بېداری لرونکے ۔سدهارتها ګوتمه بدهه پېدا شوے نۀ وو بلکې پۀ خپل محنت سره جوړ شوے وو۔

د اتیاؤ (80) کالو پۀ عمر کښې یو اینګر(Blacksmith) کندا (Kunda) پۀ سدهاتها باندې د خنزیر غوښه خوړلې وه (پۀ بعضې کتابونو کښې لیکلے شوي دي چې خرېړې ئې وربانـدې خوړلے وو) د هغې د خوراک نه وروستو هغه سخت بیمار شوے وو او تقریبا پۀ کال (480) (قبل مسیح)کښې مړ شوے وو ۔

سدھارتھا گوتمه بدھه

پهٔ بدمت کښې بدھه خدائې نهٔ ګڼلے کېږی ځکه چې بدمت یو داسې مذهب دے چې پهٔ هغې کښې د هندومت پهٔ شانتې د بتانو عبادت نهٔ کېږی۔

بدمت د بېداری یوه فلسفه ده۔ لفظ فلسفه د دوه لفظونو نه جوړ شوے دے۔ فېلو (Philo) د کوم معنی چې محبت ده، او سوفیه (Sophia) د کوم معنې چې عقلمندی ده ۔ د لفظ فلسفې معنی د عقل مندۍ محبت یا محبت او عقلمندی کېدے شی۔ د بدھه د مرګ نه وروستو بدمت د هندوستان چې پکښې د ننۍ زمانې پاکستان ، بهارت، بهوټان، نیپال، برما ، سری لنکا او بنګله دېش شامل دي یو غالب مذهب وو۔

پهٔ بدمت کښې د هېڅ څیز یا د کس یا د ذات عبادت نهٔ کېږی بلکې د بدمت فلسفه داده چې د انسانانو او څیزونو دې پهٔ رښتیا سره عزت اوکړے شي یا د هغوئي قدر اوکړے شي نو ددې پهٔ نتیجه کښې به امن او سکون راشی .

بدهه د بدمت منونکو ته اتهٔ (8) لارې ښودلې دي ۔دا لارې د بدمت مطابق د یوې پائي پهٔ شکل کښې د آسمان نه د بدمت سرپرست بدهه ته مېلاؤ شوې وې۔
د بدمت منونکي پهٔ ښهٔ طریقې سره عبادت کولو دپاره احتراما پهٔ خپلو عبادتخانو کښې د خپل مذهب د سرپرست بدهه د پوره وجود یو تصویر یا د وجود د یوې برخې تصویر لګوی ۔پهٔ بعضې ملکونو کښې د بدهه د استعمال چې کوم څیزونه وو دهغې پهٔ شان څیزونه احتراما پهٔ عبادتخانو کښې لګولے کېږي کومې ته چې ستهوپه (Stupa) وئیلے کېږی ۔چونکې پهٔ بدمت کښې ستهوپه د یو خاص شخصیت نمائندګی کوی پهٔ دې وجه دا د قیمتی ګټو یا سرو زرو نه جوړولے شی۔

ستوپه

2-7-1: عیسائیت (Christianity):

د عیسائیت بنیاد د عیسی علیه السلام پهٔ پوهه باندې کېښودے شوے دے. پوهان وائي چې د عیسائیت سرپرست (سرپال) عیسې علیه السلام د (4 او 7) قبل مسیح پهٔ مېنځ کښې پېدا شوے وو. د عیسائیت پهٔ باره کښې لیکلې شوي کتابونه د عیسی د پېدائش ځائې بېت الحم ښائی چې پهٔ ننۍ زمانه کښې د اسرائیلو پهٔ قبضه کښې دے. پهٔ دنیا کښې د عیسایانو ټول شمېر 1 ارب 92 کروړ او 79 لاکه دي. د عیسایانو بنیادی عقیدې دادي.

1 : . خدائې پاک هغه ټول څیزونه پېدا کړي دي کوم چې پهٔ نظر راځي او کوم چې پهٔ نظر نهٔ راځي.

2 : . عیسی علیه السلام د خدائې پاک ځوئې دے.

3 : ۔ عیسی علیہ السلام د روحانی روح نمائندګی کړې وه ۔او د مریم بی بی علیہ السلام نه پېدا شوے وو۔

4 : ۔عیسی علیہ السلام د عیسایانو د ګناهونو دپاره ډېر مشکلات زغملي وو او هغه له پهانسی ورکړے شوې وه۔

5 : ۔ عیسی علیہ السلام مړ شوے وو او هغه ښخ کړے شوے وو۔

6 : ۔عیسی علیہ السلام د مرګ نه وروستو بیا ژوندے کړے شوے وو۔

7 : ۔عیسی علیہ السلام د بیا ژوندی کېدلو نه وروستو خدائې پاک آسمان ته بوتلے وو او هغه د خدائې پاک ښي لاس طرف ته ناست دے۔

8 : ۔د مړو او ژوندو د جائزې اخستو دپاره به عیسی دنیا ته واپس راځی۔

9 : ۔کوم خلق چې به د خپلو ګناهونو معافی اوغواړي هغه به معاف کړے شي۔

10 : ۔هر یو کس به معافی موندے شی یا هر یو کس به آزادی حاصلولے شی۔

د رومـن سـلطنت پـۀ مـدد سـره عيسـائيت ډېر زر پـۀ رومـن سلطنت کښې بيا پۀ يورپ کښې او بيا پۀ ټوله دنيا کښې خور شو۔

1- رومن کېتهولک (Roman Catholic)

د عيسـى علېـه السـلام د مـرګ نـه وروسـتو دا ټلـى پـۀ دارالخلافه (سر ښار) روم کښې چې کومه ګرجه جوړه شوې وه د هغې تابع عيسائيت ته رومن کېتهولک وئېلے شى۔
رومن کېتهولک خپل روحانى تاريخ د عيسى علېه السلام د اؤلنو منونکو سره تړي۔ ددې ځانګې پادريان (Popes) يا روحانى مشران ځان د ټولو اولنى پادرى پيټر (Peter) سره تړي۔
د رومـن کېتهولـک عيسـايان د ټولـو نـه زيـات پـۀ هالېنډ، پولېنډ، فرانس او سپېن کښې دي۔
پۀ څلورمه صدۍ کښې د رومن کېتهولـک نـه يـوه څانګـه د ارتهوډاکس (Orthodax) پۀ شکل کښې جدا شوه۔

2- ارتهوډاکس (Orthodax)

د ارتهوډاکس عيسايانو ګرجې زيات تر قـومى وي او د يـو خاص ملک سره تړلې شوې وي ۔ ارتهـوډاکس عيسـايان

زیات په روس، رومانیه، بلغاریه، یوکرین او امریکه کښې
دي.
3- پروټیسټنټ (Protestant)
د عیسائیت دا څانګه په شپاړسمې او ولسمې صدۍ
کښې د رومن کېتهولک نه جدا شوې وه. ددې څانګې
عیسایان په سکینډینویه (Scandinovia) انګلینډ او
نیدهرلینډ (Netherland) کښې دي.

عیسائیت

2-7-2: حضرت عیسی علیه السلام:

عیسی علیه السلام (مسیح) د نن نه تقریبا 2011 کاله وړاندې د اسرائیلو قبضه کړې شوي زمکې په یو کلی نذاریته (Nazareth) کښې پېدا شوے وو ـ هغه د دېرش (30) کلونو پورې د یهودیت منونکے وو او د رزق حاصلولو دپاره ئې د ترکاڼۍ پېشه اختیار کړې وه ـ د دېرشو کالو په عمر کښې هغه داسې کارونه/عملونه اوکړل چې د انسان عقل به پرې حېرانېدو ـ د تاریخ د کتابونو مطابق د دېرشو کالو عمر پورې عیسی د هغه ځائې نه دوه سوه میله لرې نۀ وو تلے کوم ځائې چې هغه پېدا شوے وو ـ د هغه د پوهې او عقل حېران کونکي عملونو او کارونو پۀ وجه سره د هغه شهرت پۀ ټول ملک کښې خور شوے وو ـ

د موجوده اسرائیلو ملک پۀ هغه زمانه کښې د سلطنت رومن پۀ قبضه کښې وو ـ او دا ملک پۀ مختلفو صوبو کښې تقسیم کړے شوے وو ـ د عیسی علیه السلام کلے پۀ بېت الحم صوبه کښې وو او د بېت الحم صوبې ګورنر یهودی وو ـ د ټولو نه اول د هغه صوبې ګورنر د عیسی علیه السلام کارونه او تګ راتګ کنټرل شروع کړل ـ

د عیسی علیه السلام بنیادی پېغامونه خلقو ته دا وو چې:
خدائې پاک ستاسو سره مینه کوي او ستاسو سره دے ـ

د یو بل سره مینه کوئ.

د یو بل قدر کوئ.

خدائې پاک هغه خلق معاف کوي څوک چې معافی غواړي ـ د رومانیانود تاریخی کتابونو تر مخه کوم چې پهٔ عیسی علیه السلام باندې تور لګوي (کوم چې د اسلام تر مخه بالکل صحیح نهٔ د ے) او وائي چې (عیسی علیه السلام په اول کښې څهٔ داسې بیانونه ورکړ ي وو د کومې پهٔ بنیاد سره چې هغه ځان د خدائې ځوئې او ځان خدائې ګڼلو) د سلطنت رومن د حکمرانانو او د عیسی علیه السلام او د هغهٔ د پېروکارانو پهٔ مېنځ کښې شخړه پهٔ دې وجه زیاته شوې وه .

دې خبرې د یهودیانو د قانون بالکل مخالفت کولو. پهٔ دې وجه د یهودی مذهب مشرانو د سلطنت رومن حکمرانانو ته اووئېل چې ددې سړی ژوندی پاتې کېدل به ډېر غټ اړے ګړے جوړ کړی او دهٔ له څومره زر چې کېدلے ش پهانسی ورکړئ.

د سلطنت رومن یهودی مشران د تحقیق (پلټنې) نه وروستو پهٔ دې نتیجه رسېدلي وو چې عیسی علیه السلام

د خدائي دعوه نۀ وه کړې بلکې د عيسې د بدنامۍ دپاره ځۀ نور کسان وو چاچې ځان د عيس طابع ظاهره ؤ.

بل طرف تـه د يهودی مذهب مشرانو د بيت الحم صوبې ګورنر پيلټ ته بيا بيا ا ووئيل چې د عيسې عليه السلام د پهانسۍ حکمنامه جاری کړی .د مذهبي مشرانو سره د مشورې نه وروستو پيلټ د عيسی عليه السلام د پهانسۍ حکمنامه جاری کړه .عيسی عليه السلام اول خو ډېر اووهلے شو او بيا پۀ يو لرګی پورې داسې زوړند کړے شو چې پۀ ګس او خۍ لاس ئې مېخونه ټک وهلے شول او پښې ورله پۀ پړی اوتړلے شوې.د داسې طريقې پۀ نتيجه کښې د هغه پهيپهړو تـه اکسيجن تلل بند شول او تقريبا درې ګهنټې وروستو هغه مړ شو.د عيسايانو دا عقيده ده چې عيسې پۀ بره ذکر کړے شوې طريقه باندې مړ کړے شوے دے.

د قرآن مطابق عيسی عليه السلام ته پهانسی نۀ ده ورکړے شوې او نۀ هغه مړ کړے شوے دے بلکې آسمان تـه د الله پۀ حکم سره خېژولے شوے دے۔ الله پۀ قرآن کښې فرمائی

:

"یاد کړه هغه چې اووئېل الله تعالی چې اے عیسی زۀ پوره اخلم تا لره او پورته کووم تا خپل طرف ته او پاکونکے یم تا ستا د هغه کسانو نه چې کفر ئې کړے دے۔ او ګرځونکے یم زۀ د هغه کسانو چې کفر ئې کړے دے تر ورځې د قیامت پورې بیا به زما طرف ته راتلل وی ستاسو۔ پس حکم به اوکړم پۀ مېنځ ستاسو کښې پۀ هغې چې تاسو پۀ هغې کښې اختلاف کولو۔"

قرآن۔ سورة العمران (55:3)

د عیسایانو د عقیدې مطابق د پنځه سوه (500) ګواهانو پۀ موجودګۍ کښې عیسی علیه السلام د مرګ نه درې ورځې وروستو بیا ژوندے شوے وو او پۀ څلوېښتو (40) ورځو کښې هغه د اسرائیلو د شمالی او جنوبی صوبو د مختلفو علاقو دورې کړې وې۔ پۀ آخر کښې عیسی علیه السلام یروشلم ته واپس شوے وو۔ کوم ځائې چې هغه ته پهانسی ورکړے شوې وه۔ د ډېرو ګواهانو مطابق عیسی د یروشلم ښار نه آسمان ته ختلے وو۔

2-8-1: اسلام:

اسلام د لفظ سلام نه جوړ شوے دے او د سلام معنی ده سلامتیا۔ خدائې پاک اسلام مذهب د ټولو پېغمبرانو

سردار خاتم النبیین حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ورکړے وو۔ اسلام د امن، خوشحالۍ، آرام، سکون او د سلامتۍ مذهب دے۔ اسلام نهٔ صرف د مسلمانانو بلکې د ټولې دنیا د انسانانو د حقونو پهٔ خیال ساتلو باندې زور ورکوی. پهٔ ټوله دنیا کښې د اسلام منونکو یعنې د مسلمانانو شمېر تقریبا یو ارب نهه کروړه دے۔

د اسلام پهٔ حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائی

"اسلام دا دے چې تاسو ددې خبرې ګواهی ورکړئ چې د الله نه سېوا بل هېڅوک د عبادت لائق نشته او محمد د الله رسول دے او مونځ کوئ او زکواة ورکوئ او روژې نیسئ او که د سفر وس مو کېږي نو حج کوئ۔"

(بخاری و مسلم)

اسلام هغه عالمی دین دے د کوم د خپلولو چې خدائې پاک ټولو ته حکم ورکوی او ټولو بندیانو پهٔ دې باندې ایمان راوړے دے او ددې د منلو هغوئي اعلان او اعتراف کړے دے۔ خدائې پاک فرمائی چې دا هغه دین دے چې ددې نه علاوه به بل یو دین هم د منلو جوګه نهٔ وی۔

" بېشکه غوره دین پۀ نزد د خدائې اسلام دے او اختلاف
نۀ دے کړے هغه کسانو چې ورکړے شوے دے کتاب خو
ولې پس لۀ هغې نه چې راغلو دوئي ته علم پۀ سبب د کینې
"او هغه څوک چې غواړي سېوا د اسلام نه بل دین پس د
سره به قبول نۀ کړی ددۀ نه او وي به دوئي پۀ آخرت کښې د
زیان موندونکو نه۔"

قرآن ۔سورة العمران (85:03)

ارکان اسلام

د اسلام پنځه (5) ارکان (بنیادونه) دي ۔پۀ دې پنځه واړه
ارکانو باندې دایمان راوړلو نه بغېر یو کس هم صحیح
مسلمان نۀ شي جوړېدے۔هغه پنځه ارکان دا دي۔

1- کلمه طیبه :- ددې خبرې ګواهی ورکول چې د الله نه
سېوا بل هېڅوک د عبادت لائق (جوګه) نشته او محمد
دالله رسول دے۔

2- مونځ کول۔

3- زکواة ورکول۔

4- د رمضان روژې نیول۔

5- د بېت الله حج کول۔

2-8-2: پۀ اسلام کښې د عبادت قسمونه :

پۀ اسلام کښې د عبادت ډېر قسمونه دي ۔ پۀ هغې کښې يو څو دا دي۔

1- دعا :- پۀ دعا کښې د هغه ضرورتونو غوښتنه کولے شي کوم چې د خدائې پاک نه سېوا بل هېڅوک نۀ شی پوره کولے لکه باران غوښتل، مريض له شفا ورکول، مصيبتونه لرې کول، دړد لرې کول، جنت غوښتل او د دوزخ نه پناه غوښتل۔ ارام او سکون غوښتل ، حلال رزق غوښتل۔ددې نه سېوا نور ډېر داسې څيزونه دي کوم چې د الله دذات نه سېوا بل د هېچا نه نۀ شی غوښتلے۔

" او وئېلی دی رب ستاسو چې را بلئ ما زۀ قبلووم دعا ستاسو ۔ يقينا هغه کسان چې تکبر کوي د عبادت زما نه؛ زر ده چې داخل به شي دوئي پۀ دوزخ کښې ذليله "

قرآن ۔ سورة المؤمن (40:60)

2- فرياد کول، امداد غوښتل، پناه غوښتل :- فرياد چې صرف الله ته اوکړے شی او د هغه نه امداد اوغوښتلے شی او د هغه پناه اوغوښتلے شی۔

" خاص تا لره عبادت کوؤ مونږه او خاص تا نه امداد غواړو مونږه" قرآن- سورة الفاتحه (04:01)

3- ذبحه کول ، نذر منل : - پۀ اسلام کښې د خدائې پاک نه سېوا د بل چا دپاره قرباني کول يا نذر منل بالکل جائز (روا) نۀ دی-

خدائې پاک پۀ قرآن کښې فرمائی :

"اووايه تۀ چې بېشکه مونځ زما او قرباني زما او ژوند زما او مرګ زما خاص الله لره دي- نشته شريک دۀ لره- او پۀ دې کار سره امر کړے شوے ماته او زۀ اول د مسلمانانو نه يم -" قرآن - سورة الانعام (06:162:163)

د محمد صلی الله عليه وسلم حديث مبارک دے :

" چا چې د غيرالله دپاره ذبحه اوکړه پۀ هغه دې د خدائې لعنت وی -"

(امام مسلم)

هر کله چې څوک داسې اووائی چې کۀ چرې زما فلانے کار اوشی نو فلانی له به د نذر پۀ طور باندې صدقه ورکړم يا څۀ بل څۀ څيز ورکړم داسې قسمه نذر شرک جوړ شی - ولې چې دا د مخلوق دپاره کولے شی - چونکې نذر عبادت دے

نو دا د یو مخلوق دپاره جائز (روا) نۀ دے .بلکې صرف د الله دپاره پکار دے.

4- توکل ،امېد ، د خدائې نه یرېدل :- د توکل معنی داده چې انسان د الله د ذات نه سېوا پۀ بل چا اعتبار نۀ کوی .د امېد معنی داده چې د الله تعالی د ذات نه سېوا د بل هېچا نه امېد نۀ ساتل او د الله د ذات نه سېوا د بل هېڅ څیز نه نۀ یرېدل.

پۀ ننۍ زمانه کښې ډېر خلق د ژوندو خلقو نه او د قبرونو نه خپل مرادونه غواړي .د قبرونو طوافونه کوي او د مړو انسانانو نه د خپل مرادونو د پوره کولو سوالونه کوي . داسې قسمه خلق یقینا د غیرالله عبادت کوي.

الله تعالی پۀ قرآن کښې فرمائی :

"بېشکه هغه چاچې شرک ا وکړو دالله تعالی سره .پس یقینا حرام کړے دے الله پۀ دۀ باندې جنت او ځائې د ورتللو دۀ اور دے او نشته ظالمانو دپاره څوک مددګار."

قرآن - سورۃ المائدہ (05:72)

2-8-3: اهل سنت او اهل حدیث

مسلمانان پۀ ننی زمانه کښې پۀ خپلو کښې پۀ مختلفو ټولګو کښې تقسیم شوي دي . اسلام د مسلمانانو پۀ اتحاد باندې زور ورکوی . خدائې پاک پۀ قرآن کښې فرمائی :

"او منګولې ښخې کړئ پۀ رسۍ د الله ټول او مۀ جدا کېږئ

قرآن . سورة العمران (103:03)

پۀ دې آیت مبارکه کښې د الله د رسۍ نه مراد قرآن شریف دے . قرآن د الله تعالی رسۍ ده . کومه چې ټولو مسلمانانو له کلکه نیول پکار ده . پۀ اسلام کښې پۀ ټولګو کښې تقسیمېدل منع دی . پۀ قرآن کښې الله تعالی فرمائی :

"بېشکه هغه کسان چې تار پۀ تار کړے ئې دے دین خپل او شوو دوئي ډلې ډلې ، نۀ ئې تۀ له دوئي نه پۀ هېڅ شی کښې او یقینا خبره داده، کار د دوئي چې خاص الله ته دے بیا به خبر کړي دوئي پۀ هغې چې وو دوئي، کول به ئې ."

قرآن . سورة الانعام (159:6)

نن سبا مسلمانان څوک ځان ته حنفي، څوک شافعي، څوک مالکي، څوک حنبلي او څوک اهل حدیث وائي . پۀ قرآن کښې داسې یو آیت یا د حضور داسې یو حدیث مبارک نشته چې پۀ هغې کښې دا وئېلے شوي وي چې تاسو ځان ته

حنفي ، مالکي، شافعي، حنبلي يا اهل حديث اووايئ .
قرآن وائی چې تاسو ځان ته مسلمان وايئ.
"او څوک ډېر ښۀ دے پۀ اعتبار د خبرې د هغه چا نه چې را بلی خلق الله تعالی ته او عمل ئې اوکړو نېک او وائی چې يقينا زۀ د مسلمانانو نه يم ـ"
قرآن ـ سورة السجده (33:14)
د حضور صلی الله علیه وسلم يو حديث مبارک دے .
" زما اُمتيان به پۀ درې اويا (73) فرقو کښې تقيسم شي ـ"
سنن ابوداود ـ حديث نمبر (4579)
پۀ قرآن شريف کښې ډېر واره ددې خبرې ذکر راغلے دے چې : " دالله او د الله د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت اوکړئ ـ "
اهل سنت
اهل سنت د مسلمانانو د ټولو نه لوئې ټولگے دے . ددې ټولگی عقيدې او پوهې د قرآن او د حضور صلی الله علیه وسلم د سنت مطابق دي . پۀ ډېرو حديثونو کښې حضور صلی الله علیه وسلم ددې خبرې نصيحت کړے دے چې زما د سنتو اطاعت کوئ . او زما د صحابيانو پۀ لارې باندې مضبوط اوسېږئ . خدائې پاک پۀ هر ځائې کښې د

قرآن او د حضور صلی الله علیه وسلم د سنتو مبارکو د پیروی حکم ورکړے دے ـ پۀ مسلمانانو باندې ددې دواړو اطاعت کول فرض دي ـ او د قیامت پۀ ورځ به ددې دواړو متعلق سوال کولے شی ـ

د حضور صلی الله علیه وسلم وینا مبارکه ده :

" ما د ځان نه وروستو ستاسو دپاره دوۀ څیزونه پرېښودي دي ـ تر کومې پورې چې تاسو ددې پیروی کوئ تاسو به چرې هم د صحیح لارې نه لرې نۀ شئ ـ پۀ هغې دوۀ څیزونو کښې یو د الله کتاب قرآن دے او دوېم د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت ـ "

د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروستو مسلمانانو ته ډېر زیات مشکلات راپیښ شوي وو ـ پۀ هغه مشکلاتو کښې یو مشکل دا هم وو چې څۀ قبیلو زکواة ورکول بند کړل ـ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه چې هر کله خلیفه جوړ شو نو صحابیانو د حالاتو پۀ مناسبت سره د عارضی معافۍ ورکولو مشوره ورکړه ـ حضرت ابوبکر صدیق د حالاتو د سختۍ باوجود د حضور صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروی اوکړه ـ او د صحابیانو مشوره ئې رد کړه ـ پۀ کوم وخت کښې چې د سړو دپاره د

سرو زرو ګوتې استعمالول حرام کړے شوي نۀ وو۔ نو حضور صلی الله علیه وسلم به د سرو زرو ګوتې استعمالوله۔ صحابیانو هم د حضور صلی الله علیه وسلم پیروی اوکړه او د سرو زرو ګوتې ئې ځان له جوړې کړې۔ بیا هر کله چې د سروزرو ګوتې پۀ ګوته کول د سړو دپاره حرام کړے شوو نو حضور صلی الله علیه وسلم خپله د سروزرو ګوتې غوزاره کړه۔ صحابیانو د حضور صلی الله علیه وسلم پیروی اوکړه او دز یان ئې هیڅ پرواه اونۀ کړه او خپلې ګوتې ئې غوزارې کړې۔"

د حضور صلی الله علیه وسلم وینا مبارکه ده :

"دمسلمانانو د ټولو نه د غټ ټولګي پیروی کوئ۔ هغه کس کوم چې ددې ټولګی نه جدا کیږی هغه به دوزخ ته غورځولے کیږی۔" (ابن ماجه)

اهل حدیث

د اهل حدیث مسلک مسلمانان پۀ دې خبره باندې یقین لري چې پۀ قرآن او سنت باندې د پوهېدلو نه وروستو پۀ دې کښې چې کوم قطعی حکمونه دي دهغې متن (عبارت) له اهمیت ورکول پکار دی۔

کۀ چرې پۀ قطعی حکمونو کښې څۀ شک شبه پېدا شی نو د صحابیانو د پوهې جائزه اخستل پکار دی . کۀ د صحابیانو پۀ دې مسئله باندې اجماع (یعنې چې ډېر صحابیان ئې منې) موجوده وی نو د هغوئ رائې منل پکار دی او کۀ چرې د صحابیانو پۀ دې مسئله باندې د یو بل سره اختلاف وي نو د کوم ټولګی رائې چې د قطعی حکمونو لفظونو او ترجمې ته ډېره نزدې وی نو هغې ته غوره والے ورکول پکار دی . د اهل حدیث مطابق د هر امام د پېروۍ پۀ ځائې د هر امام هغه خبرې له ترجیح ورکول پکار دی کومه چې د حدیث عبارت (متن) ته زیاته نزدې وی.

پۀ اهل حدیث مسلک کښې د یو امام رائې د څۀ دلیل نه بغېر منل او پۀ هغې باندې عمل کول ضروری نۀ دی . بلکې د کوم رائې چې قرآن او سنت ته نزدې وی هغې له د نورو امامانو پۀ رائې باندې ترجیح ورکول پکار دی.

4-8-2: سنی او شیعه

سنی او شیعه مسلک والا دواړه د اسلام بنیادی عقیدې لرونکي مسلمانان دي . پۀ دې دواړو مسلکونو کښې اختلافات پۀ شروع کښې روحانی نۀ وو بلکې سیاسی وو.

د وخت پۀ تېرېدو سره ددوئي پۀ مېنځ کښې سياسی اختلافات پۀ روحانی اختلافاتو کښې بدل شول۔

د سنی او شيعه پۀ مېنځ کښې اختلافات د حضور صلی الله علېه وسلم د وفات نه وروستو پۀ دې خبره باندې شروع شوي وو چې د حضور صلی الله علېه وسلم نه وروستو به څوک خليفه جوړېږی ۔ډېر سنی مسلمانان (صحابيان) پۀ دې خبره باندې متفق ووچې د حضور صلی الله علېه وسلم د وفات نه وروستو به ملګرو (صحابيان) کښې هغه کس خليفه جوړېږی کوم چې د خلافت مستحق وی۔ددې خبرې پۀ بنياد سره حضرت ابوبکر صديق څوک چې د حضور صلی الله علېه وسلم نزدې ملګرے او مشير وو خليفه جوړ شو۔

د بعضې مسلمانانو دا عقيده وه چې خلافت د حضور صلی الله علېه وسلم پۀ خپل خاندان کښې چا ته ورکړے شوے وے۔د کومو مسلمانانو چې دا عقيده وه هغوئ ته شيعه مسلمانان وئيلے شي۔ددوئ دا عقيده وه چې خلافت دې د حضور صلی الله علېه وسلم د وفات نه وروستو د هغه د ترۀ ځوئ او زوم حضرت علی رضی الله عنهٗ ته مېلاو شی۔د

لفظ شیعه په عربۍ ژبه کښې معنی ده "د خلقو یو ټولګے" یا امداد ورکونکے د خلقو یو ټولګے.

لفظ شیعه د شیعت علی (د علی پارټی یا ټولګے یا جماعت) اختصار دے .شیعه مسلک والا مسلمانانو ته "اهل بیت" هم وئیلے شي ـ د اهل بیت معنی ده "ټبر یا د کور خلق"ـ

یو وارې حضور صلی الله علیه وسلم حضرت علی، حضرت فاطمه، حضرت امام حسېن او خپلې بیبیانې راټولې کړې او په هغوئ د پاسه ئې یو څادر واچولو او وئې فرمائیل " هذا اهل بیتي" دا زما کور والا دي یا دا زما ټبر دے .

حضور صلی الله علیه وسلم یو وارې اوفرمائیل:

"حسین مني و انا من حسین"

حسېن زما نه دے او زهٔ د حسېن نه یم "

شیعه مسلک والا مسلمانان ددې خبرې نه دا مطلب اخلي چې په دې دنیا کښې د نبی صلی الله علیه وسلم هېچا مقابله نهٔ شوه کولے سېوا د حضرت حسېن نه .دا خبره صحیح ده چې حضور صلی الله علیه وسلم به د حضرت امام حسېن سره ډېره مینه کوله .خو د هغه د مینې دا مطلب نهٔ وو چې حضرت حسېن د هغه سره د برابرۍ قابل وو.

د حضور صلی الله علېه وسلم يو حديث مبارک دا هم دے :
"انا خاتم النبيين لا نبي بعد"
د يو نبی او خاص کر د هغه نبی چې هغه آخری نبی وی او الله تعالی ورته خپل ديدار نصيب کړےوی د هغه مقابله يو بل انسان نۀ شی کولے.
د سنّی او شيعه مسلمانانو پۀ مېنځ کښې د خلافت پۀ لړ کښې سياسی اختلافاتو روحانی بندونه هم متاثره کړي وو. او د هغې پۀ بنياد سره دواړه ټولګي د يو بل نه مختلف دي
.
د شيعه مسلک مسلمانانو دا عقيده ده چې د امام نه پۀ قدرتی توګه باندې ګناه نۀ کېږی يا هغه بې ګناه وی او د هغه اختيار يا قوت مکمل وی . ځکه چې دا هغه ته د خدائې پاک نه مېلاو شوې وی. پۀ دې وجه شيعه مسلمانان امامانو له د ولی پۀ درجه عزت ورکوي . او د هغوئ د قبرونو زيارتونه کوي او دا طمع ترې نه کوي چې د خدائې او د هغوئ پۀ مېنځ کښې د رابطې يوه ذريعه جوړه شی.
شيعه مسلمانان د حضور صلی الله علېه وسلم بعضې نزدې ملګرو (صحابيانو) ته د دښمن پۀ سترګه ګوري . پۀ خصوصی توګه هغه نزدې ملګرو ته کوم چې د خلافت پۀ

مسئله د اکثریتی ټولګی سره وو. د هغه ټولګی کسانو چې کوم حدیثونه رانقل کړي دي (چې پکښې حضرت ابوبکر صدیق ،حضرت عمر او حضرت عائشه وغېره شامل دي) هغوئ د شیعه مسلک مسلمانان بالکل رد کوي.
ددې ټولګی د کسانو د رانقل کړے شوي حدیثونو د رد کولو پۀ نتیجه کښې د شیعه او سنی ټولګی پۀ مېنځ کښې ډېر اختلافات پېدا شوي دي. ځکه چې پۀ هغه حدیثونو کښې د مانځۀ، روژوې ، او حج پۀ باره کښې حدیثونه شامل دي.
د سنی مسلک مسلمانان پۀ دنیا کښې د ټولو مسلمانانو تقریبا پنځه اتیا (85) فیصده دي . د شیعه مسلک مسلمانان زیات تر پۀ ایران، عراق، یمن، بحرېن، شام او لبنان کښې موجود دي.

خانه کعبه (بیت الله)

2-8-5:- حضرت محمد صلی الله علیه وعلی اله وسلم

کۀ صورت د محمد نۀ وے پېدا
پېدا کړې به خدائې نۀ وه دا دنیا
کـۀ رښا ده پېروی د محـــمد ده
ګنه نشته پۀ جــهان بلــــه رښا
نبوت پۀ محمد باندې تمام شۀ
نشته پس له محـــمد نه انبیا

د نن نه پۀ اربونو کاله مخکښې د ټول کائنات او پۀ دې کښې د بې ساه او ساه لرونکو څيزونو پيدا کېدل او بيا ختمېدل او د دوئ دژوند سره تړلې ټولې خبرې خدائې پاک پۀ لوح محفوظ باندې ليکلې دي ــ پوهان وائي چې د کائنات د پېدا کولو نه مخکښې به د خدائې پاک نور پۀ هغه ځائې گردش کولو پۀ کوم ځائې چې ټول کائنات پراته دي .د خدائې پاک نور پۀ هغه ځائې کښې د خدائې پاک د ذکر سره گردش کولو .يعنې د خدائې پاک نور به هم د خدائې پاک ذکر او صفت کولو۔

د کائنات د پېدا کولو نه وروستو د قيامته پورې د هر څيز پۀ باره کښې تفصيل پۀ لوح محفوظ باندې اوليکلے شو۔ چې پۀ کښې خاتم النبيين حضرت محمد صلی الله علېه وسلم بن عبد الله او پۀ هغه باندې نازل کړے شوے کتاب قرآن مجيد هم شامل دے۔

زمونږ د خوږ نبی نوم حضرت محمد صلی الله علېه وسلم د پلار نوم ئې عبد الله او د نيکه نوم ئې عبد المطلب الهاشمی القرېشی دے .هغه پۀ شلم (20) اپريل 570 عيسوی کښې پۀ مکه کښې پېدا شوے وو۔د هغه پلار عبد الله د هغه د پېدائش نه مخکښې پۀ حق رسيدلے وو.د هغه د پېدائش نه

لړه موده پس د هغه مور حضرت آمنه بی بی هم پۀ حق اورسېده ـ
پۀ وړوکوالی کښې د حضور صلی الله علیه وسلم پالنه د هغه ترۀ حضرت ابوطالب اوکړه د چا تعلق چې د عربو د یوې عزتمندې قبیلې قرېش سره وو۔ حضور صلی الله علیه وسلم چې هر کله ځوانۍ ته اورسېدو نو د ذریعه معاش پۀ غرض ئې تجارت شروع کړو ۔ پۀ هغه زمانه کښې حضرت خدیجه رضی الله عنها پۀ عربو کښې (پۀ موجوده سعودی عرب کښې) یوه ډېره مالداره ښځه وه ۔ د هغې د ګټې وټې غټه ذریعه تجارت وه ۔ پۀ هغه وخت کښې د حضرت خدیجه تجارت د ملک شام، یمن وغېره سره وو۔ حضور صلی الله علیه وسلم پۀ لږ وخت کښې پۀ خلقو کښې یو رښتونے، امانتدار او با اعتماده مشهور شو۔ د هغه د تجارت دائره هم ملک شام، یمن او اردن وغېره ته خوره شوه ۔
حضور صلی الله علیه وسلم چې به هر کله د ملک نه بهر بل ملک ته د قافلې سره د تجارت پۀ غرض سفر کولو نو حضرت خدیجې (رضي الله عنها) به د خپل مال ټوله ذمه واری حضور صلی الله علیه وسلم له ورکوله ـ ځکه چې کومه قافله چې به د یو ملک نه بل ملک ته تلله نو د

ډېرو سوداګرو مالونه به ورسره تلل راتلل او ډېرو خلقو به د حضور صلی الله علیه وسلم په لاس لېږن دېږن (اخستل اوخرڅول) وغېره غوره ګڼلو او ډېرو خلقو به ورسره خپل مالونه امانت کېښودل۔

حضرت خدیجه د حضور صلی الله علیه وسلم د ښو اخلاقو، امانتدارۍ، اخلاص او درښتیاؤ وئیلو نه ډېره متاثره وه .هر کله چې حضور صلی الله علیه وسلم د پنځویشتو (25) کالو شو نو حضرت خدیجې (رضي الله عنها) ورته د وادهٔ پېشکش (وړاندیز) اوکړو .په هغه وخت کښې د حضرت خدیجې (رضي الله عنها) عمر څلوېښت (40) کاله وو۔ حضور صلی الله علیه وسلم د خاندان د مشرانو سره د صلاح مشورې نه پس د حضرت خدیجې (رضي الله عنها) د نکاح پېشکش (وړاندیز) اومنلو او دغه شان د هغه اولنے وادهٔ د حضرت خدیجې (رضي الله عنها) سره اوشو۔

د حضور صلی الله علیه وسلم کور مبارک (مدینه)

د څلوېښتو (40) کالو په عمر کښې خدائې پاک په محمد صلی الله علیه وسلم باندې په غار حرا کښې اولنۍ وحې نازله کړه ـ د وحې نازلېدو دا سلسله د درویشتو (23) کالونو پورې جاری وه ـ کومې وحې چې په مختلفو وختونو کښې په حضور صلی الله علیه وسلم باندې نازلې شوې هغې ته په ټولیزه توګه باندې قرآن وائې ـ کوم چې د زندګۍ یو مکمل قانون دے ـ
هر کله چې حضور صلی الله علیه وسلم او د هغه یو ټولګی د قرآن په رڼا کښې خلقو ته د ښو خبرو تبلیغ شروع کړو نو د مکې مشرکانو به په دې خبره باندې ډېر بد ګڼل او حضور صلی الله علیه وسلم او د هغه په ملګرو پورې به

ئې ټوقې او خنداګانې کولې او رنګ رنګ تکليفونه به ئې ورته رسول.

حضور صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګرو (صحابیانو) د مکې د مشرکانو د ټوقو، ظلم زیاتی او سختئ باوجود د اسلام تبلیغ جاری اوساتو. د مکې د مشرکینو یو عمل هم د هغوئ د اسلام د تبلیغ پۀ لاره کښې خنډ جوړ نۀ شو. هر کله چې پۀ حضور صلی الله علیه وسلم او د هغه پۀ ملګرو باندې د مکې مشرکانو ډېر زیاتے او ظلم کول شروع کړل نو خدائې پاک حضور صلی الله علیه وسلم ته سره د خپلو ملګرو د مکې نه مدینې ته د هجرت کولو حکم ورکړو.

پۀ کال 622 عیسوی کښې حضور صلی الله علیه وسلم او دهغه ملګرو د مکې نه مدینې ته هجرت اوکړو. د مکې نه مدینې ته پۀ هجرت کولو سره هجری کال شروع شو.

مدینې ته د هجرت کولو نه وړاندې حضور صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګرو پۀ مکه کښې اسلام یو غالب مذهب جوړولو دپاره ډېرې قربانئ ورکولو ته هر وخت تیار وو. یو وارې د مکې سردارانو یو نمائنده "عتبه" حضور صلی الله علیه وسلم له راغلو او وئې وئېل :

"کهٔ ته دولت غواړې نو مونږ به درله ډېر دولت راغونډ کړو او تهٔ به زمونږ پهٔ شان مالداره شې. کهٔ تهٔ حکمرانی غواړې نو مونږ به تا خپل حکمران جوړ کړو او پهٔ یوه خبره کښې به هم ستا د اجازت نه بغېر فېصله نهٔ کوو. کهٔ تهٔ بادشاهی غواړې نو مونږ به تا خپل بادشاه جوړ کړو."

ددې ټولو پېشکشونو پهٔ بدله کښې د مکې مشرکانو صرف دا مطالبه کوله چې تهٔ خلق اسلام طرف ته مهٔ رابله او خلقو ته داسې مهٔ وايه چې خدائې يو دے او هغه بل شريک نشته.

حضور صلی الله علېه وسلم عتبه ته ځواب د قرآن پهٔ آياتونو د لوستو سره ورکړو. چې ترجمه ئې دا ده :

"نازل شوے دے (قرآن) د طرف د رحمان نه. داسې کتاب چې ښکاره بيان شوي آياتونه ددهٔ چې قرآن دے د عربۍ، د پاره د هغې قوم چې زېرے ورکونکے دے. پس مخ اوګرځؤ اکثرو ددوئي. پس دوئي نهٔ اوري."

قرآن . سورة حم السجدة (41:02- 04)

د پېغمبر پهٔ حېثيت د حضور صلی الله علېه وسلم پهٔ سر ډېرې ذمه وارياني وې ـ هغه خپلې ټولې ذمه وارياني پهٔ ډېر ښه طريقې سره پوره کولې او د هغې سره سره به هغه

نور دنياوی کارونه هم کول ـ هغه به د خپلو بيزو نه پۀ خپله پې لوشل ـ خپلې جامې به ئې پۀ خپله ګنډلې ـ خپل پېزار به ئې پۀ خپله ګنډلو ـ پۀ اخلی پخلی کښې يا د کور پۀ نورو کارونو کښې به ئې د کور والوو مدد کولو ـ څوک غريب کس چې به بيمار شو نو د هغه تپوس له به تللو ـ

د حضور صل الله عليه وسلم پڼې مبارکې

حضور صلی الله عليه وسلم د مکې مشرکانو ته د خپلې پېغمبرۍ د ثابتولو پۀ غرض څۀ معجزې هم ښودلې وې ـ د هغه معجزو تعداد تقريبا يو زر (1000) دے ـ

يو وارې د مکې مشرکانو د حضور صلی الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چې د خپلې پېغمبرۍ ثبوت اوښايه ـ حضور صلی الله عليه وسلم سپوږمۍ پۀ دوؤ برخو کښې تقسيم کړه او دغه شان هغوئ ته ئې خپله معجزه اوښودله ـ

د حضور صلی الله علیه وسلم یوه معجزه دا هم وه چې هغه ته ونې سلام کړے وو۔
د حضور صلی الله علیه وسلم پهٔ ملا باندې د نبوت مهر هم یوه معجزه وه۔
هر کله چې به حضور صلی الله علیه وسلم پهٔ غرمو کښې چرته تلو نو د وریځو یوه ټوټه به د هغه د پاسه د سپوری د پاره راتله۔
د حضور صلی الله علیه وسلم د ټولو نه غټه معجزه قرآن ده۔ د قرآن د حفاظت ذمه خدائې پاک پهٔ خپله باندې اخستې ده ۔ پهٔ قرآن شریف کښې هیڅ قسم بدلون راوستل ناممکن دی ۔ پهٔ دنیا کښې پهٔ کروړونو د قرآن شریف نسخې موجودې دي ــ او پهٔ دې ټولو نسخو کښې یوه نسخه هم د نورو نسخو نه بدله نهٔ ده ــ پهٔ دې ټولو نسخو کښې د یو حرف فرق هم نشته۔
"یقینا مونږ نازل کړے دے قرآن او ببشکه مونږ دهٔ لره ساتونکي یو۔"
قرآن۔ سورة الحجر (09:15)
د حضورصلی الله علیه وسلم یوه بله معجزه دا وه چې یو وارې د هغه ملګري تګي شوي وو۔ د هغوئ سره یو لوښے

وو او پۀ هغې کښې ډېرې کمې اوبه وې. هغه صحابيان حضور صلی الله عليه وسلم له راغلل او وئې وئېل چې زمونږ سره د څښلو او اودس کولو دپاره اوبۀ نشته ، سېوا د هغه لږو اوبو نه کومې چې پۀ لوښی کښې دی ـ حضور صلی الله عليه وسلم پۀ هغه لوښی کښې لاس دننه کړو او د هغه د ګوتو مبارکو نه اوبۀ بهېدل شروع شول ـ هغه ټولو کسانو چې شمېر ئې پنځلس سوه (1500) ووپۀ ډکه خېټه سره اوبۀ اوڅښلې او اودسونه ئې پرې اوکړل ـ

حضور صلی الله عليه وسلم او د هغه ملګرو مدينې ته د هجرت نه پس پۀ مدينه کښې ډېره موده قيام اوکړو او هر کله چې د مسلمانانو يو غټ ټولګے جوړ شو نو د مکې پۀ مشرکانو ئې حمله اوکړه او مکه ئې فتح کړه .د مکې د فتح نه وروستو حضور صلی الله عليه وسلم خپل ټول دښمنان اوبخښل ـ

حضور صلی الله عليه وسلم پۀ 28 صفر 11هـ کښې د درې شپېتۀ (63) کاله پۀ عمر کښې وفات شوے وو ـ د هغه د وفات د وخت پورې د جزيرة العرب ډېر خلق مسلمانان شوي وو ـ د حضور صلی الله عليه وسلم د وفات نه سل کاله

وروستو اسلام مغرب طرف ته د سپېن پورې او مشرق طرف ته د چین پورې خور شوے وو۔

چونکې اسلام د امن او سلامتۍ دین دے ۔ پۀ دې وجه دا تر ننه پورې د دنیا ګټ ګټ ته رسېدلے دے ۔

مسجد نبوی (مدینه)

دریم ټوک

1.3: پهٔ دنیا کښې د انسان پهٔ مختلف برخو کښې تقسیم
د حضرت آدم علیه السلام د وخت نه تر نن زمانې پورې انسان د دنیا ګټ ګټ ته رسیدلے دے. پهٔ دې دنیا کښې کومه چې تقریبا پنځه ارب کاله مخکښې جوړه شوې ده تقریبا 5850000000 انسانان اوسیږي. دا انسانان مختلفې عقیدې لري او د مختلفو مذهبونو منونکي دي. د هر مذهب منونکي ځان د نورو مذهبونو د منونکو نه غوره ګڼي. پهٔ دې دنیا کښې دداسې خلقو شمیر پهٔ لکونو کښې دے څوک چې د الله ذات نه مني. پهٔ ټولو مذهبونو کښې د عیسائیت د منونکو تعداد پهٔ دې دنیا کښې زیات دے. کوم چې تقریبا 1927953000 دے. پهٔ عیسائیت پسې اسلام د شمیر پهٔ بنیاد غټ مذهب دے. او ددې مذهب د منونکو شمیر تقریبا 1099634000 دے.
انسان د دنیا مختلفو برخو ته د خپل نسل خورولو دپاره پهٔ زرګونو کاله محنت کړے دے او نن پهٔ دنیا کښې داسې سیمې ډېرې کمې دي کومې ته چې انسان نهٔ دے رسېدلے.

ددنيا ټوله رقبه 510066000 مربع کلومیټره ده . چې پکښې 361419000 مربع کلومبټره باندې اوبهٔ دي او پهٔ کښې 148647000 مربع کلومیټره وچوبه ده۔
پهٔ دنيا کښې ټول انسانان پهٔ 148647000 مربع کلومیټره رقبه باندې ژوند تېروي . پوهانو د پوهې دپاره دا دنيا پهٔ مختلفو برخو کښې تقسیم کړې ده چې ورته براعظمونه (د وچوبې غټې ټکړې)وئيلے شي . دا دنيا پهٔ اووه (7) براعظمونو کښې تقسيم کړے شوې ده چې پکښې براعظم ایشیاء ، براعظم افريقه، براعظم یورپ، براعظم شمالی امریکه، براعظم جنوبی امریکه، براعظم استرېليا او براعظم انټارکټیکا شامل دي۔

د دنيا اووه (7)براعظمونه

3-2: براعظم اېشياء

اېشياء د دنيا پۀ ټولو براعظمونو کښې غټ براعظم دے ددې پۀ شمال کښې بحرمنجمد شمالي موجود دے. مشرق طرف ته ئې بحرالکاهل ، جنوب طرف ته ئې بحر هند او مغرب طرف ته ئې بحيره احمر او بحيره اسود موجود دي. ددې براعظم رقبه 44579000 مربع کلوميټره ده . د2003ء کال د سر شمېر مطابق پۀ دې کښې د اوسېدونکو خلقو تعداد 3701000000 دے. کوم چې پۀ دنيا د اوسېدونکو د ټولو خلقو د شمېر د نيم شمېر نه سېوا دے.

پۀ دې براعظم کښې د هېوادونو شمېر څلور څلوېښت (44) دے چې پکښې چين د رقبې پۀ لحاظ سره د ټولو نه لوئې او سنګاپور د ټولو نه وړکوټے هېواد دے . د اېشياء پۀ مېنځ کښې د غرونو غټې او اوږدې سلسلې خورې شوي دي . پۀ دې سلسلو کښې د دنيا دټولو نه دنګ غر ماونټ ايوريسټ هم شامل دے د کوم دنګوالے چې 8850 ميټر دے . پۀ دې براعظم کښې د دنيا د ټولو نه ګڼې يا زياتې ابادۍ والا هېوادونه چين او هندوستان نه علاوه

د دنیا دوه عجوبې د چین دېوال او تاج محل هم موجودې دي.

پـه اېشـیاء کښې د عیسایانو شـمېر 306762000 ، د مسـلمانانو شـمېر 760181000 ، د یهودیـانو شـمېر 4294000، د هندوانو شـمېر 775252000، د بـدمت منونکـو شـمېر 320691000، د سکهانو شـمېر 18130000 دے او باقي د نورو مذهبونو منونکي دي.

3-3: براعظم افریقه

براعظم افریقه د اېشیاء نه وروستو د دنیا د ټولـو نـه غټ براعظم دے . د افریقې مشرق طرف تـه بحر هنـد ، شـمال طـرف تـه بحیـره روم او مغـرب طـرف تـه بحـر اوقیـانوس موجود دے . د افریقې جنوبی اړخ د بحرمنجمد جنوب سره مېلاو شوے دے . ددې براعظم د شمالی برخو د براعظم اېشیاء او براعظم یـورپ سـره تعلقـات (اړیکـې) د ډېـرو صدو راسې قائم دي.

افریقې ته پۀ یوه زمانه کښې د تیارو براعظم وئېلے کېدل . د دنیا د ټولو نه غټ ریګستان (صحرائې اعظم) صحارا پۀ افریقه کښې موجود دے. کوم چې پۀ دېرش لاکه. مربع

ميل باندې خور شوے دے ـ په دې کښې د هېوادونو شمېر درې پنځوس (53) دے چې په هغې کښې د رقبې په لحاظ سره سوډان د ټولو نه غټ ملک دے ـ د کوم ټوله رقبه چې 967491 مربع ميل ده او د ټولو نه ورکوټے هېوواد په کښې مورو جزيره ده د کومې ټوله رقبه چې صرف 719 مربع ميل ده ـ

د دنيا په اووه (7) عجوبو کښې يوه عجوبه احرام مصر هم په براعظم افريقه کښې دے ـ په دې کښې د دنيا د ټولو نه اوږد درياب دريائې نيل هم دے کوم چې د دې براعظم په ښکلا او تاريخی حېثيت کښې بنيادي مقام لری ـ

د براعظم افريقه ټوله رقبه 30065000 مربع کلوميټره او ټوله ابادي ئې 807419000 ده ـ

په دې براعظم کښې د عيسايانو شمېر 346176000، د مسلمانانو شمېر 300317000، د يهوديانو شمېر 163000، د هندوانو تعداد 1535000 ، د بدمت منونکو تعداد 36000 او د سکهانو شمېر تقريبا 37600 دے ـ

په دنيا کښې اسلام په براعظمی سطح د خوربدو په ترتيب کښې براعظم ايشياء په اول او براعظم افريقه په دوېم نمبر وه ـ دغه شان د عيسائيت په براعظمی سطح د خوربدو په

ترتیب کښې اېشیاء پۀ اول او یورپ پۀ دوېم او افریقه پۀ درېم نمبر ده.

3 2 1

1- د افریقې د سن بورو موران قبیلې یوه جینۍ
2- د افریقې د ماسائي قبیلې یوه ښځه
3- د افریقې د سن بورو موران قبیلې یو سړے

4-3: براعظم شمالی امریکه

براعظم شمالی امریکه د غټوالی پۀ لحاظ سره د دنیا درېم نمبر غټ براعظم دے. ددې ټوله رقبه 24474000 مربع کلومیټره ده. دې براعظم ددنیا د زمکې 16.5 فیصده برخه نیولې ده.

ددې براعظم پۀ جنوب مشرق کښې بحراوقیانوس، پۀ شمال جنوب کښې بحیره کربئین، پۀ مغرب کښې

بحرالكاهل او پهٔ شمال کښې بحر منجمد شمالی موجود دے۔
پهٔ شمالی امریکه کښې ریاست هائې متحده امریکه، مېکسیکو او کنېډا شامل دي ـ پهٔ شمالی امریکه کښې د رقبې پهٔ لحاظ سره د ټولو نه غټ هېواد امریکه ده ـ پهٔ دې هېواد کښې دوه پنځوس (52) ریاستونه دي او ددې رقبه 3615123 مربع میل ده ـ ددې براعظم د ټولو نه ورکوټے هېواد برموډا دے او دهغې ټوله رقبه صرف شل (20) مربع میل ده۔
د براعظم شمالی امریکه ټوله ابادي 481212000 ده ـ پهٔ دې کښې د عیسایانو شمېر 249277000، د مسلمانانو شمېر5450000، د یهودیانو شمېر5942000، د هندوانو شمېر 1185000، د بدمت منونکو شمېر 920000 او د سکهانو شمېر 490000 دے۔
پهٔ شمالی امریکه کښې دهېوادونو تعداد درویشت (23) دے ـ دا براعظم کولمبس پهٔ 12 اکتوبر 1492 ءکښې ښکاره کړے وو۔ د چا تعلق چې د اټلی سره وو۔

2 1

1- د شمالي امریکې د اسي ني بوئن قبیلې یو سړے
2- د شمالی امریکې د کلیسپل قبیلې یو سړے

5-3: براعظم جنوبی امریکه

براعِظم جنوبی امریکه د دنیا څلورم غټ براعِظم دے .په دې کښې د هېوادونو شمېر دولس (12) دے۔او ددې ټوله رقبه 17819000 مربع کلو میټره ده۔

ددې په شمال مشرق کښې بحراوقیانوس، په شمال کښې بحیره کرئبین، په مغرب کښې بحرالکاهل او په جنوب کښې بحرمنجمد جنوبی واقع دے ــ په براعِظم جنوبی امریکه کښې د رقبې په لحاظ سره د ټولو نه غټ هېواد برازیل دے۔ددې ټوله رقبه 3286470 مربع میل ده۔

ددې براعِظم ټوله ابادي 349510000 ده . چې پکښې د عیسایانو شمېر 448006000، د مسلمانانو شمېر 1329000، د یهودیانو شمېر 1098000، د هندوانو شمېر 748000، د بدمت منونکو شمېر 569000 او د سکهانو شمېر 8000 دے۔

6-3: براعظم انټارکټیکا

براعظم انټارکټیکا له پهٔ 1840ء کښې د براعظم درجه ورکړے شوې وه . دا د مختلفو جزیرو(وچو ټاپوګانو) یوه مجموعه ده . ددې براعظم پهٔ 98 فیصد رقبه باندې د کال دولس میاشتې واوره پرته وی . ددې براعظم ټوله رقبه 13209000 مربع کلومیټره ده کومه چې د دنیا د ټولې رقبې 8.9 فیصده ده۔

د براعظم انټارکټیکا پهٔ مختلفو علاقو باندې ارجنټینا، اسټرېلیا، چلی، فرانس، نیوزی لینډ، ناروے او برطانیه دعوې کړي دي۔ ددې هېوادونو کړے شوې دعوې تر اوسه پورې متنازعه دي او پهٔ دې هېوادونو کښې یو هم ددې براعظم پهٔ یوه علاقه باندې هم قابو نهٔ ده موندلې۔

انټارکټیکا د دنیا د ټولو نه یخې علاقې لرونکے براعظم دے ـ په دې کښې تر ننــه پورې د ټولــو نه کــم درجه حرارت (40-) درجه سنټی ګرېډ ریکارډ کړے شوے دے ـ کوم چې په ټوله دنیا کښې تر اوسه پورې د ټولو نه کم درجه حرارت دے ـ

7-3: براعظم یورپ

براعظم یورپ د رقبې په لحاظ سره د دنیا شپږم (6) براعظم دے۔ ددې ټولــه رقبــه 9938000 مربع کلــومیټره ده ، کومه چې د دنیا د ټولې رقبې 7.6 فیصد برخه ده ـ
په دې براعظم کښې د ملکونو شمېر شپږ څلوېښت (46) دے ـ ددې په شمال کښې بحرمنجمد شمالی، په جنوب کښې بحیره روم، په مغرب کښې شمالی بحراوقیانوس او مشرق کښې بحیره اسود او روس پروت دے ـ
د یورپ ټوله ابادی 730916000 ده ـ چې پکښې عیسایان 551892000، مســـــلمانان 31975000، یهودیــــــان 2529000، هندوان 1522000، بدمت منونکي 1478000 او سکهان 490000 دي ـ

8-3: براعظم استرېليا

براعظم استرېليا تـه اوشيانا هم وئـېلے شی .دا د دنيـا پـهٔ ټولو براعظمونو کښې وړوکے براعظم دے . ددې ټوله رقبه 8112000 مربع کلو ميټره ده .دا د دنيـا د ټولې رقبې 5.3 فيصـد برخه ده .د اسـترېليا پـهٔ شـمال مشـرق کښـې بحرالکاهل، پهٔ شمال کښې بحيره ارافورا ، په مغرب کښې بحرهند او جنوب کښې بحرمنجمد شمالی واقع دے .پـهٔ دې براعظم کښې خوارلس (14) ملکونه پراته دي .

ددې بـراعظم ټولـه ابـادی 31090000 ده . پـهٔ دې کښـې عيســايان 23840000، مســلمانان 382000، يهوديــان 91000، هنـدوان 305000، بـدمت منـونکي 200000 او سکهان 7000 دي .

پهٔ دې دنيا کښې د ټولو نه زوړ هېواد سان ميرينو دے کوم چې پهٔ 301 (قبل مسيح) کښې جوړ شوے و او د ټولـو نـه نوے هېواد يعنی چاچې اوس اوس ازادی حاصله کړې ده هغـه مشـرق تيمـور دے چې پـه 2002 ءکښـې جـوړ شـوے دے

پـهٔ دې کښـې د ټولـو نـه غـټ هېـواد د رقبې پـهٔ لحاظ سـره روس دے - چې رقبه ئې 17075400 مربع کلو ميټره ده .او

د ټولو نه وړوکے هېواد ویټیکین ستې دے د کوم رقبه چې
0.44 مربع کلومیټر ده۔

4- څلورم ټوک

4-1: د انسان او دنیا د ختمېدو نخښې (د قیامت نخښې)
د حضرت موسی الاشعری رضی الله عنه نه روایت دے چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې قیامت به هله راځی چې:

1:- هر کله خلق د قرآن په حکمونو منلو باندې شرم محسوس کول شروع کړي۔

2:- هر کله چې بې اعتماده خلق اعتماد والا او اعتماد والا خلق بې اعتماده ګڼل شروع شي۔

3:- هر کله چې دروغژن خلق رښتونے او رښتونے خلق دروغژن ګڼل شروع شي۔

4:- هر کله چې ښځې د بچو سره خفه او د بچو نه بغېر خوشحاله کېدل شروع شي.
5:- هر کله چې فېصلې پۀ خیال اندازه کول شروع شي.
6:- هر کله چې زما د دین سره متعلق د خبرو قانون سازی زما د امت د یو بدترین ټولګی په لاس کېنې ورکړے شي. کۀ چرې خلق دوئ قبول کړي او ددوئ د جوابونو نه مطمئن شي بیا د دغه خلقو به د جنت خوشبو هم نصیب نۀ شي.
7:- هر کله چې بچي د مور او پلار دپاره د غم او غصې وجه جوړه شی.
8:- هر کله چې به اسلام اجنبی (ناخوښ مذهب) جوړ شی
.
9:- هر کله چې به خلقو ته زیان ورکول او نفرت پۀ خلقو کېنې عام شی.
10:- هر کله چې اسلامی تعلیم (علم) ورک شی.
11:- هر کله چې خلق په خپلو ښائسته کورونو باندې فخر کول شروع کړي.
12:- هر کله چې طاقت، حسد او لالچ د روزانه ژوند جوړ شی.
13:- هر کله چې دروغ پۀ رښتاؤ باندې برے بیا مومي.

14:- هر کله چې خلق پۀ ورکوټو وړو مسئلو باندې جنګونه شروع کړي.
15:- هر کله چې خلق ښکاره د خپل شهوت تابعداری کول شروع کړي .
16:- هر کله چې بې حیائی به بې شرمۍ کښې بدله شی او ډاګه کېدل شروع شي.
حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم یوحدیث مبارک رانقل کړے دے. حضرت عبدالله ابن مسعود فرمائی چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې د قیامت پۀ نخښو کښې دا هم دي چې هر کله :
1:- سندرې او د سندرو د سازونو آلات بۀ پۀ هر کور کښې موندے شي.
2:- خلق پۀ هم جنس پرستۍ کښې اخته شي.
3:- د حرامیانو بچو شمېر به سېوا شي.
4:- پۀ معاشره کښې بۀ د غیبت کوونکو شمېر سېوا شي.
5:- خلق بۀ د مسافرو سره اختلافات شروع کړي او د خپلو خپلوانو سره تعلقات خرابول شروع کړي.

6:- د جماتونو سینګار کول بهٔ شروع شي او د خلقو زړونه بهٔ د رهنمایئ نه خالی شي.

7:- د جماتونو غولي بهٔ ډېر ښکلي جوړ کړے شي .او اوچت ممبرونه بهٔ اودرولے شي.

8:- د جرمونو کوونکو خلقو ټولګی او د بدمعاشه خلقو شمېر به سېوا شي .

9:- د مختلف قسمه شرابونو استعمال به شروع شي او دا به ډېر پهٔ اسانۍ سره مبتلاوېږي .

د حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے هغه وائی چی زهٔ حضور صلی الله علیه وسلم له راغلم .هغهٔ د تبوک پهٔ مهم باندې وو او پهٔ یوه خېمه کښې ناست وو او ماته ئې اوفرمائېل چې د قیامت د راتلو نه وړاندې شپږ څیزونه اوشمېره :

1:- زما مرګ

2:- د یروشلم فتح

3:- ستاسو پهٔ مېنځ کښې ډېر مرګونه، داسې لکه څنګه چې پهٔ ګډو باندې وبا راشي او پهٔ غټ شمېر کښې مړې شي.

4:- د دومره حده پورې د دولت زیاتوالے چې کۀ چرې یو سړی له سل (100) دیناره ورکړې نو بیا بۀ هم هغه مطمئن نۀ وی.

5:- عام لاقانونیت او د وینې تویدل چې د عربو یو خاندان به ترې هم بچ نۀ شی.

6:- بیا د امن ژوند کوم چې بۀ ستاسو او د بنی اسفار پۀ مېنځ کښې د امن لوظ نامې پۀ نتیجه کښې وی رومانیان به دغه لوظ نامه ماته کړی او پۀ تاسو بۀ حمله اوکړی. دوئ به د یو داسې طاقت سره حمله اوکړی چې پۀ هغې کښې به اتیا (80) جهنډې وې او د هر ې جهنډې لاندې به دولس زره (12000) سړي وي.

(حدیث - صحیح بخاری)

4-2:- د امام مهدی علیه السلام راتګ (ظهور)

د امام مهدی علیه السلام خپل نوم به محمد او د پلار نوم به ئې عبدالله وی او د هغه پېدائش به پۀ مدینه کښې د قریشو پۀ خاندان کښې کېږي.

د حضرت عبد الله بن مسعود نه روايت دے چې حضور صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل :

"دنيا بۀ تر هغه وخته پورې ختمه نۀ شی تر څو چې پۀ عربو باندې زما د خاندان يو سړے حکومت اونۀ کړی د چا نوم چې بۀ زما د نوم پۀ شان وی ."

(ابو داؤد)

د امام مهدی کردار او اخلاق به د حضور صلی الله عليه وسلم پۀ شان وی . پۀ يوه شپه کښې بۀ الله هغه له د ايمانداری، قيادت او علم خاصيتونه سره سره د "مهدی" لقب هم ورکړی .

د هغه بدن به دنګ ، تندے پلن، پوزه اوږده او پۀ ښیۍ اننګی به ئې تور خال يا زخه وی .

د امام مهدی د راتګ نخښې دادې چې پۀ ټوله دنيا کښې بۀ بې انصافی او ظلم وی . غلط کارونه به پۀ غټه پېمانه باندې خوارۀ شوي وي او ټول خلق به پۀ هغې کښې ککړ وي

مسلمانان ملکونه او دهغې خلق بۀ دومره کمزوری شوي وي چې ځناور بۀ هغو ته پۀ جنګ کښې ماتې ورکولے شی .
د مسلمانانو د کمزورۍ غټه وجه به پۀ هغوئ کښې بې

اتفاقي وي ـ بل طرف تهٔ د دنيا ټول غېر مسلمه قوتونه بهٔ د يو ليډر لاندې يو موټے وي ـ د هغوئ حکمراني به پهٔ ټوله دنيا باندې قائمه وي ـ پهٔ ټوله دنيا کښې به بيا بيا زلزلې کېدل شروع شي ـ بې ګناه خلق به مړه کول شروع شي ـ

پهٔ داسې حالاتو کښې به يو سړے چې نوم به ئې حارث وي ښکاره شي او د هغه نه مخکښې به يو بل سړے وي چې نوم به ئې منصور وي ـ اولنے سړے حارث به د خلقو ذهنونه د امام مهدي منلو ته د تيارولو کوشش کړے وي ـ د حارث پهٔ هغه عمل کښې به منصور د هغه پوره پوره مرسته کوي ـ پهٔ مکه کښې به د درېو کسانو د مسلمانانو پهٔ قيادت کولو باندې جنګ وي ـ پهٔ هغه درېو کسانو کښې هر يو کس بهٔ د بادشاه (خليفه) ځوئې وي ـ پهٔ هغوئ کښې به يو هم بادشاهي حاصله نهٔ کړے شي ـ د عربو د مشرق طرف نه به يو فوځي لښکر راشي ـ پهٔ مشرق کښې به هغه فوځي لښکر د خراسان (افغانستان) نه راتګ کوي ـ هغه فوځي لښکر به د امام مهدي د سلطنت جوړولو پهٔ لاره کښې ټول خنډان ختم کړي ـ د هغه فوځي لښکر سره به تورې بېرې وي او تور پټکي به ئې وهلي وي او هېڅوک به هم هغوئ د مخ پهٔ

وړانـدې د تـګ کولـو نـه منـع نـۀ کـړے شـي او دوئ بـه د یروشلم پۀ زمکه باندې خپله جهنډه ښخه کړي .

د امام مهدی نه مخکښې چې کوم خلیفه وی د هغه د مرګ نه وروستو به پۀ خلقو کښې د نوی خلیفه د انتخاب (چوڼ) پۀ لړ کښې ډېر اختلاف رائې وی . امام مهدی به د مدینې نه مکې ته تګ اوکړی او هلته د خراسان (افغانستان) نه چې کوم لښکر راغلے وی هغه او د مکې نور کسان به پۀ یوه شـپه کښـې د امـام مهـدی د خلیفـه جوړېـدو تـول تیـارے اوکړی او هغه به دې خبرې ته تیار کړے شی چې د خلافت اخستلو عمل پۀ ښۀ توګه سره اوکړے شی ـ هغـه کسـان بـه امام مهدی پۀ حرم شریف کښې د حجر اسود خوا تـه بـوځی او هلته به پۀ اول کښې درې سوه او دیارلس (313) کسان د هغـه خلافت اومنـي او د وفـادارۍ سوګند بـه پورتـه کړي . دلتـه دا خبـره د یـادونې وړ ده چې پـۀ جنـګ بـدر کښـې چې کومـو صـحابیانوبرخه اخسـتې وه د هغـوئ شـمېر هـم درې سوه او دیارلس وو.

د امام مهدی عمر به څلوېښت کاله وي . هر کله چې هغـه د مسلمانانو خلیفه جوړ شی . د خلیفه جوړېدو نه سمدستی وروستو به هغه ته د الله تعالی امداد پۀ نظر راشی .

د امام مهدی د خلیفه جوړېدو نه مخکښې به د شام په دارالحکومت (سربښار) دمشق کښې یو سړے د چا نوم چې به سفیانی وی په خلقو باندې بې حده ظلمونه کوي .هر طرف ته به بې ګناه وینې تویوی او وارۀ ، ښځې ،بوډاګان او سړي به لکه د ځناورو حلالوی .د هغه د ظلم او زیاتی نه به یوه قبیله هم بچ نه شي ـ هر کله چې سفیانی ته به دا پته اولګی چې په مکه کښې د مسلمانانو خلیفه امام مهدی جوړ شوے دے نو هغه به سمدستی د خپل فوځ یو لښکر د امام مهدی د مقابلې دپاره مکې ته روان کړي .د امام مهدی فوځ به هغې لښکر ته ماتې ورکړي .بیا به سفیانی په خپله د امام مهدی سره د جنګ کولو دپاره د سوریا یعنې شام نه مکې طرف ته روان شی ـ هر کله چې د سفیانی لښکر بېده ته اورسي نو د هغې ورستنۍ حصه به خدائ پاک د یوې غټې زلزلې سره تباه کړی .کوم خلق چې به د هغې لښکر په مخکښې حصه کښې وي نو هغوئ به ددې کتلو دپاره راواپس شي چې د وروستنو خلقو حال اوګوري .هر کله چې هغوئ راواپس شي نو د هغوئ سره به هم خدائ پاک په یوې غټې زلزلې سره هغه چل اوکړی کوم ئې چې د ورستنۍ حصې د خلقو سره کړے وی.

پۀ هغه ټول لښکر کښې به صرف يو سړے بچ پاتې شى او هغه به د هغې تباهۍ ټول خبر ملک شام ته اورسوى.

هر کله چې پۀ مسلمانانو کښې د امام مهدى د اسمانى مدد مېلاوېدو خبر خور شى نو د شام او عراق نېکان او غټان خلق به د امام مهدى سره د وفادارۍ سوګند پورته کړي او د هغه سره به مېلاؤ شي.

دغه شان به د مدينې او خواؤ شا نه د مسلمانانو فوځى لښکرونه مکې ته راشي او د امام مهدى لښکر سره به شامل شي او د وفادارۍ سوګند به پورته کړي.

امام مهدى به بيا پخپله سره د خپل لښکر شام طرف ته مخه اوکړى او د سفيانى او د بنى کلب قبيلې پاتې کسانو ته به ماتې ورکړى او ملک شام به د يوې ظالمې بادشاهۍ نه ازاد کړى.

امام مهدى به د ټول مسلمان امت يو غټ ليډر جوړ شى او د مسجد اقصى پناه ګاه به بيا جوړه کړى کومه چې به د هغه نه مخکښې يهوديانو ورانه کړى وى.

هغه به پخپله د حضور صلى الله عليه وسلم د سنتو غټ منونکے او پۀ هغې عمل کوؤنکے وى او د خلقو قيادت به هم د حضور صلى الله عليه وسلم د سنت طريقې مطابق

کوی ـ هغه به پۀ ټوله دنیا کښې انصاف خور کړی او د دنیا نه به د ظلم ختم کړی.
هغه به پۀ مکمل انصاف سره د اووۀ نه تر نهه کالو پورې خلافت اوکړی او پۀ هغه وخت کښې به اسلام د دنیا یو غالب مذهب وی. د هغه د بادشاهۍ پۀ وخت کښې به د دنیا ټول مسلمانان پۀ مالی لحاظ سره ډېر مارۀ وي.
پۀ هغه وخت کښې به د څۀ څيز کمے نۀ وی او زمکې به ډېرې ښېرازه وي ـ د زمکو پېداوار به ډېر زيات او د لوړې درجې وي. ټول مسلمانان به ډېر زيات خوشحاله ژوند تېروي او د هغوئ ژوند به دومره پۀ ارام سره تېرېږي چې د هغې به چرته بيا هغوئ پۀ دې دنيا کښې سوچ هم اونۀکړي.
امام مهدی به زمکه پۀ ټولو خلقو باندې برابر تقسيم کړی.
د خلقو زړونه به د مال اودولت نه دومره ازاد او پۀ الله باندې دومره انحصار کونکي شي چې يو اعلان به اوشی چې ضرورت مند وړاندې راشئ. صرف يو سړے به وړاندې راشی. هغه سړی له به دولت پۀ دومره زيات تعداد کښې ورکړے شی چې هغه به اوشرمېږی او دا هيله به ښکاره کړی چې هغه مال واپس کړی خو د هغه د هيلې په ځواب

کښې به ځواب دا وی "مونږه واپس نۀ اخلو څۀ چې تاته درکړے شوي دي دا ټول هر څۀ ستا دي."
د یروشلم او د استنبول قبضه کولو نه وروستو به رومانیان پۀ مدینه حمله اوکړي او مدینه به تباه کړی. پۀ هغه وخت کښې به امام مهدی او د هغۀ د فوځ زیاته برخه پۀ دمشق کښې وي. رومانیان به د مدینې قبضه کولو نه وروستو د امام مهدی سره د جنګ کولو پۀ غرض د مدینې نه شام طرف ته تګ شروع کړي. د رومانیانو به یو غټ لښکر وي چې پۀ هغې کښې به اتیا (80) جهنډې وي او د هرې جهنډې لاندې به دولس زره (12000) فوځیان وي. پۀ هغه لښکر کښې به ټول فوځیان 960000 وی او هر کله چې به هغه لښکر شام ته نزدې اماق / دبیق علاقې ته نزدې شی نو امام مهدی به د خپل فوځ نه د تکړۀ او تېزو فوځیانو یو لښکر د دوئ د مقابلې دپاره روان کړی.
د امام مهدی لښکر او د رومانیانو لښکر به مخامخ جنګ اوکړی او د مهدی لښکر به د رومانیانو لښکر ته غټه ماتې ورکړی. دا جنګ به څلور ورځې جاری وی. پۀ هره ورځ به د امام مهدی فوځیان دا وعده کوي چې مونږه به تر هغې پورې نۀ واپس کېږو تر څو چې مونږه فتح نۀ وی بیاموندې

ـ پۀ هغـه جـذبې سـره بـه هغـوئ پـۀ څلورمـه ورځ د دنیـا د مختلفو هېوادونو نه راجمع کړے شوی هغه غټ لښکر لـه ماتې ورکړی۔

ددې جنګ نه وروستو چونکې ترکی (استنبول) بـه د امـام مهدی د حکومت د دائرې نه وتلے وی نو د هغې د بیا قبضه کولـو دپـاره بـه امـام مهـدی د بنـو اسـحاق قبیلـې 70000 فوځیان ترکی ته واستوي او ترکی به د رومانیـانو د قبضې نه ازاد کړی۔

رومانیان به دومره وېرېدلي وي چې هر کله د بنو اسحاق قبیلې هغه 70000 فوځیان ترکی ته اورسېږي نو هغـوئ بـه بغېر د جنګ نه ترکی پرېږدي ۔هر کله چې فوځی لښکر استنبول ته ور ننوځي نو یو فوځی به هم د وسلې استعمال اونۀ کړی ۔ پۀ لښکر کښې شامل ټول فوځیـان بـه "لاالـه الله " او "الله اکبر" اووائي ۔ چې پۀ هغې سره بـه د ښـۀ ښـۀ زور ورو رومانیـانو حوصلې کمزورې شي او هېڅ بـه هم اونۀ کړے شي۔ پۀ ټول استنبول ښار کښې به پنځه وخته بانګونه وئېل شروع شي۔

امام مهدی به بیا پخپله استنبول تـه راتـګ اوکړی او هلتـه به د خپل اسلامی حکومت جوړولو لارې نېغې کړي ۔ هغـه

به هلته د اسلامی قانون د نفاذ کولو ټول انتظامات اوکړي
او هلته به اسلامی حکومت چلونکي واکداران مقرر کړي.
امام مهدی او د هغه خلق به په ترکی (استنبول) کښې
مصروف وي چې یوه افواه به راشی چې دجال په شام کښې
ستاسو په خلقو کښې فتنې خورول شروع کړي دي. په دې
خبر سره به امام مهدی ډېر پرېشانه شی او سمدستی به د
استنبول نه شام ته روان شی. امام مهدی به د ځان نه
مخکښې لس کسان اولېږی چې د هغې خبر د دروغو او
رښتیاؤ حقیقت معلوم کړی.
د هغه لسو کسانو په حقله حضورصلی الله علیه وسلم
فرمائی:
"زهٔ د هغوئ نومونه او د هغوئ د پلارانو نومونه پېژنم،
هغوئ به په هغه زمانه کښې د ټولو نه غوره جنګ کونکي
وي."
په هغه لسو کسانو کښې به یو امام مهدی له خبر یوسی
چې هغه خبر بالکل غلط. دا شیطان د مسلمانانو د ترقۍ
په لار کښې د خنډ اچولو دپاره یو دروغ خبر جوړ کړے وو.
امام مهدی به بیا خپل سفر، کوم چې به هغه د استنبول نه
شام ته شروع کړے وی ډېر په ارام سره جاری اوساتی. هغه

به ځائې پۀ ځائې پۀ مختلفو ښارونو کښې قیام کوی او هلته به د انتظامی امورو جائزه اخلی.
د امام مهدی سفر به استنبول نه دمشق طرف ته جاری وی. او پۀ هغه دوران کښې به د هغۀ فوځیان د استنبول نه د یورپ مغرب طرف ته پۀ یونان او اټلی حمله اوکړي او پۀ تکبیر او کلمې سره به ملکونه او د هغې خواؤ شا علاقې قبضه کړي او د امام مهدی د سلطنت لاندې به ئې راولي.
امام مهدی چې به هر کله د استنبول نه دمشق ته راورسېږی د هغې نه یو څو هفتې وروستو به دجال پۀ رښتیا پۀ دنیا کښې ښکاره شی او خلقو کښې به د فتنې او فساد خورولو شروع د عراق او شام د مېنځ علاقې نه اوکړی.
د دجال سره به د یهودیانو او حرامیانو خلقو شمېر ډېر زیات وی. مسلمانان به د امام مهدی پۀ مشرۍ کښې د دجال خلاف د جنګ کولو تیاری شروع کړی. د سحر پۀ وخت کښې به هغوئ د خپلو فوځیانو پۀ ترتیب کولو کښې مصروف شی.
دا به د یمن پۀ ښار (عدن) کښې د سحر د مانځه د جمعې اودرېدو نه لږ ساعت مخکښې وخت وی چې حضرت عیسی علیه السلام به د اسمان نه راکوز شی. هغه ته به

امـام مهـدی د امـامتیٔ کولـو دعـوت ورکړی خـو د حضـرت عیسی علېه السلام جواب به دا وی چی امـام بـه ستاسو نـه وی. بیـا بـه د امـام مهـدی پـهٔ امامت کښـې حضرت عیسـی علېه السلام او نور لښکریان د سحر مونځ اوکړي. حضرت عیسی علېه السلام به د مسلمانانو د لښکر ستر مشر شی او د سحر د مونځ کولو نه وروستو بـه د دجال سره د جنګ کولو دپاره روان شی.

دجال به پهٔ هغه وخت کښې د شام د سرحدی (پـولې) لیکې سره نـزدې وی او هـر کلـه چې عیسـی علېـه السلام سره د لښـکر هغـه ځـائې تـه نزدې شی نـو دجال سره د خپـل ټـول لښکره به واپس تختېدل شروع کړی. هغـه بـه د اسرائیل د "لـود" ښـار پـورې اوزغلولے شی او پـهٔ هغـه ښار کښـې بـه هغه سره د خپلو لښکریانو مړ کړے شی.

ددې خبرې ذکر د یهودیانو او عیسـایانو پـهٔ کتـابونو کښـې هـم شـوے دے چې دجال بـه د اسرائیلو د لـود ښـار پـورې رازغلولے شی او هلته به مړ کړے شی.

پهٔ دې غرض سره چې هر کله دجال لود ښار ته اورسی او مړ نهٔ کړے شی د هغه ځائې نه د هغـه د تختېدو دپاره پـهٔ لـود ښار کښې یوه غټه هوائی اډه جوړه کړے شوې ده.

3-4:- د دجال راتلل

دجال د لفظ دجل نه جوړ شوے دے او دجل معنی ده دهوکه .

د دجال معنی داسې کېدے شی چې هغه کس کوم چې دهوکه کوی .د شریعت پۀ رڼا کښې د دجال معنې ده هغه کس کوم چې پۀ دین کښې دهوکه کوی.

پۀ قرآن شریف کښې د دجال پۀ حقله هېڅ څۀ ذکر نشته تر دې پورې چې دجال ته د اشارې پۀ طور باندې هم څۀ لفظونه نۀ دی استعمال شوي .البته پۀ حدیثونو مبارکو کښې د دجال ذکر کړے شوے دے .پۀ حدیثونو کښې هغه دجال کوم چې به د عیسی نه مخکښې ښکاره کېږی د دجال مسیح پۀ نوم ذکر کړے شوے دے.

دجال مسیح ته (اکبر دجال) یا غټ دجال هم وئیلے شی.

ځینې علماء وائي چې دجال یو کس کېدے شی اوځینې علماء وائي چې دجال یوکس سره د خپل قوم یا ملک کوم چې به د هغه مکمل پۀ قابوکښې وی ، هم کېدے شی.

د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے :

"د حضرت آدم علیه السلام او (پهٔ دنیا کښې) د آخری ګهېنتې پهٔ مېنځ کښې به د دجال نه علاوه بل هېڅ څيز یا کس ډېر سخت (خطرناک) رااوچت نهٔ شی."

(مسلم)

ځينې عالمان وائي چې دجال ته دجال مسيح ځکه وئېلے شی چې د هغه مذهب به عيسائيت وی. يعنې دجال چې هر کله دنيا ته ښکاره کېږی نو هغه او د هغه قوم يا ملک خلق به ټول د عيسائيت مذهب منونکي وي. ځينې عالمان وائي چې دجال ته دجال مسيح ځکه وئېلے شی چې د هغه سره به دومره طاقت وی چې هر څيز لره به مسح کوی نو چې هغه څهٔ کول غواړی نو د هغه سره به کېږی.

ځينې عالمان وائي چې دنيا ته د ښکاره کېدو پهٔ وخت به د هغه څهٔ مذهب نهٔ وی. د وخت پهٔ تېرېدو سره به هغه د عيسائيت پهٔ لاره روانېږی او عيسائيت به اختياروی. د هغه سره به ډېرې معجزې او ډېر طاقت وی او خلق به د هغه نه دومره متاثره شي چې ټول به عيسايان شي.

دجال چې به هر کله پهٔ دنيا کښې ښکاره کېږی پهٔ هغه وخت کښې به هغه ځوان وی. د هغه سينه به پلنه او غاښونه تېره وي. د هغه وېښته به ګونجی او تند ے پړقند ے وی او د

دوا ړو سترګو پۀ مېنځ کښې به ئې ک ، ف ، ر ليکلے شوي وي . ټول ايمانداران خلق کۀ هغه خوانده وي او کۀ ناخوانده، به هغه حروف لوستے شي او هر يو کس ته به ډېر ښکاره پۀ نظر راځی.
د هغه د ګسې سترګې کاکې به پړسېدلې وی خو هغه پرې ليدل کولے شی او ښی سترګه به ئې بالکل ړنده وی. هغه به پۀ تلو کښې ډېر چاق وی.
دجال به د عراق او شام پۀ مېنځ کښې ښکاره کېږی. هغه به د اس پۀ شان پۀ يو ځناور باندې سور وی. د هغه ځناور رنګ به سپين وی او د هغه غوږونه به ځلوېښت لاسه اوږده وي. اويا زره 70000 يهوديان به پۀ هغه ورپسې وي او د هغوئ سرونه به د حفاظت پۀ غرض پټ کړے شوي وي. د هغه سره به د شېطانانو او جادوګرانو ټولګے هم وی.
دجال به اول د پېغمبرۍ او بيا به د خدائۍ دعوی اوکړی. د هغه د يو ملک نه بل ملک ته تګ به ډېر تېز وی او کوم ملک ته چې ځی هلته به قتلونه ، لوټل او تباهی کوی.
د دجال سره به دوه داسې فرښتې هم وي کومې چې به د دوؤ پېغمبرانو پۀ شان وي. د خلقو د امتحان دپاره به هغه دوؤ فرښتې د دجال سره ملګرې کړے شوي وي. د ټولو خلقو او

د هغه دوارو فرښتو په موجودګۍ کښې به دجال اووائی چې زۀ ستاسو خدائې نۀ يم ؟ ما تاسو له ژوندون نۀ دے درکړے ؟ پۀ دؤ فرښتو کښې به يوه ځواب ورکړی چې تۀ دروغژن ئې . ددې فرښتې اواز به نور خلق وانۀ وربدے شی سېوا د هغه دوېمې فرښتې نه . دوېمه فرښته به اولنۍ ته مخاطب شی او اوبه وائی چې تۀ رښتيا وائې . ټول خلق به د دوېمې فرښتې اواز واوری او هغوئ به دا اوګڼې چې دوېمه فرښته د دجال د خبرې تصديق کوی .

دجال به د يو بدو سړی خنګ ته لاړ شی د چا مور او پلار چې به مړۀ شوي وي . هغه به بدو ته اووائی کۀ چرې زۀ ستاسو مور او پلار ژوندي کړم نو ته به ماخپل خدائې اومنې ؟ بدو به ځواب پۀ ښۀ کښې اوکړی . شېطانان کوم چې به د هغه سره ملګري وي ، به د هغه بدو سړی د مور او پلار شکلونه اختيار کړي او هغه ته به اووائی چې اے ځويه! پۀ ده باندې باور اوکړه . ددۀ تابعداری اوکړه . دے ستا خدائې دے . هغه بدو ته به غلطه لار اوښودلے شی او پۀ هغه باندې به زور راوستلے شی چې پۀ دجال باندې باور اوکړه .

د دجال سره به اور او اوبۀ وي ـ کومې چې به خلقو ته اوبۀ ښکاری ـ پۀ حقیقت کښې به هغه اور وی کوم چې به سېزل کوی او کوم چې به خلقو ته اور ښکاری ، پۀ حقیقت کښې به هغه یخې اوخوږې اوبۀ وی ـ

د حضور صلی الله علیه وسلم نصیحت دے :

"څوک چې د دجال سره مبتلا وېږي او اور او اوبۀ وینی هغه له پۀ اور کښې ارتاوېدل پکار دی پۀ اوبو کښې نۀ ـ ولې چې دغه اور پۀ حقیقت کښې اوبۀ دی او اوبۀ پۀ حقیقت کښې اور دے ـ"

(مشکواۃ)

دجال به خلقو ته اووائی چې هغه (دجال) خدائې دے او خلق به پۀ هغه باندې باور اوکړي ـ د هغه پۀ حکم سره به اسمان باران راوروی او زمکه به د خلقو دپاره فصلونه پېدا کوي ـ د خلقو څناور به د هغه پۀ زمکه باندې څرېږي او هر کله چې به ماښام کورونو ته واپس راځي نو د هغوئ تشې به د خوراک نه ، اوتې به ئې د پئو نه ډک وي ـ د هغه پۀ حکم به زمکه پټې خزانې ښکاره کوي ـ

"هر کله چې به هغه د کنډرونو پۀ خوا تېرېږی نو هغه به هغوئ ته حکم ورکړی چې پټه خزانه ښکاره کړئ ـ زمکه به

سمد ستی خزانه ښکاره کړی او دجال چې چرته ځی خزانه به پۀ هغه پسې ځی لکه څنګه چې د ګبين مچۍ پۀ هغوئ کښې پۀ يوې مشرې مچۍ پسې ورپسې ځي-"

(مسلم)

يو ايماندار سړے به د دجال پۀ حقله واوری نو هغه به د ملاقات پۀ غرض دجال طرف ته روان شی خو پۀ لاره کښې د دجال سپاهيان هغه اودروی او تپوس به ترې نه اوکړی چې هغه چرته د تلو اراده کړې ده. هغه به ځواب ورکړی چې زۀ د هغه سړی ليدو له ځم چا چې د خدائۍ دعوه کړې ده. سپاهيان به پۀ هغه باندې شک اوکړی او د هغه نه به تپوس اوکړی چې تۀ زمونږ پۀ خدائې دجال باندې باور نۀ لرې. هغه به ځواب ورکړی چې زمونږه د خدائې الله پۀ حقله څۀ پټ نشته- زۀ څنګه دجال خدائې ګڼلے شم. هغه سپاهيان به پۀ دې ځواب باندې ډېر غصه شي او د هغه د مرګ فېصله به اوکړي خو پۀ هغوئ کښې به يوکس ناڅاپی اووائی چې زمونږ خدائی مونږ بغېر د هغۀ د اجازت نه د چا د مړ کولو نه منع کړي يو.

هغه سپاهيان به هغه ايماندار سړے دجال له بوځی. هر کله چې هغه دجال اووينی نو چغې به کړی چې دا هغه دجال

دے د چا پۀ حقله چې حضور صلی الله علیه وسلم وئیلی دی او ایمانداران ئې خبردار کړي دي.
دجال به د هغه د مرګ حکم ورکړی. هغه به پۀ پرمخې سملولے شی او ډېر زیات به اووهلے شی. د هغه نه به تپوس اوکړے شی "تۀ اوس هم پۀ هغه دجال باندې یقین نۀ لرې" هغه به ځواب ورکړی چې نۀ. تۀ دروغژن ئې. هغه ایماندار سړے به بیا دوه ټوټې کړے شی. دجال به بیا د هغه دۀ ټوټو مېنځ ته لاړ شی او اوبه وائی چې پاسه. هغه ایماندار سړے به بیا ژوندے شی او دبدن یوه ټوټه به ئې اودرېږی. بیا به د هغه نه تپوس اوکړے شی "تۀ اوس پۀ ما باندې یقین لرې" هغه به ځواب ورکړی چې ستا پۀ حقله زما دننه دا خبره ده چې تۀ دجال ئې.
هغه ایماندار سړے به بیا د خلقو پۀ مخکښې اووائی "اے خلقو هغه (دجال) به زما نه وروستو د هېڅ یو سړي سره د څۀ کولو قابل نۀ وی." دجال به د هغه پۀ انکار باندې غصه شی او هغه به اونیسی او پۀ مرۍ به ورله د حلالولو پۀ غرض چاقو کېږدی خو هغه به ناکامه شی ځکه چې خدائې پاک به د هغه پۀ مرۍ باندې تانبه کېږدی او چاقو به دننه تلو دپاره څۀ لارا ونۀ مومی.

دجال به د هغه پښې او لاسونه اونيسي او اور ته به ئې غوزار کړی - خو هغه اور به د هغه دپاره يو ښکلے باغ جوړ شي - هغه ايماندار سړے به د خدائې په نظر کښې د هغه د اولنی مرگ په وجه د شهادت ډېره غټه درجه حاصله کړی په کوم کښې چې د هغه بدن دوه ټوټې شوے وي -

(مسلم)

تر اوسه پورې داسې يو ډاکټر يا يو سرجن نه دے پېدا شوے کوم چې د ړوند پېدا شوی کس په سترگو کښې نظر راوستلے شی - دجال به د ړندو پېدا شوو کسانو په سترگو کښې نظر رواستے شی او د چا نظر چې د پېدائش نه وروستو په ورکوټوالی، ځوانۍ يا بوډاوالی کښې ختم شوے وی هغه به بيا واپس روستے شی - هغه به د جزام د مريضانو کامياب علاج هم کولے شی -

دجال به په دنيا کښې د څلوېښتو (40) ورځو پورې وی - د هغه څلوېښتو ورځو اولنۍ ورځ به د کال هومره اوږده وی، دوېمه به د يوې مياشتې هومره، درېمه د يوې هفتې هومره اوپاتې اووه دېرش ورځې به د عامو ورځو برابرې وي -

په دې وخت کښې به هغه ملک په ملک گرځی او په خلقو کښې به فتنه او فساد خوروی - په اخر کښې به هغه مکې او

مدینې طرف ته مخه اوکړی خو هغه به دې دواړو ښارونو او مسجد اقصی او مسجد طور ته د داخلېدو جوګه نۀ وی. هره پېره به هغه دې برکت والا ځایونو ته د داخلېدو هسه کوی خو د تورو پۀ لاس فرښتې کومې چې به ددې ځایونو حفاظت کوي ،به هغه لرې زغلوی او د احد نه شاته به ئې پرېږدی . پۀ هغه وخت کښې به پۀ مدینه کښې درې واره زلزله اوشی او پۀ ټولو دهوکه بازانو او فسادیانو باندې به زور راوستلے شي چې مدینه پرېږدئ .

هر کله چې د دجال مکې او مدینې ته د داخلېدو امید ختم شی نو هغه به شام طرف ته روان شی . امام مهدی به د یمن پۀ ښار عدن کښې یو غټ فوځی لښکر تیار کړے وی . د سحر د مانځه د امامتی نه لږ ساعت مخکښې به عیسی علیه السلام د اسمان نه راکوز شی او د مانځه نه وروستو به د هغه لښکر سره د دجال د مړ کولو دپاره روان شی . دجال به د شام (سوریا) نه د اسرائیلو د ښار (لور) پورې اوزغلولے شی او هلته به مړ کړے شی .

4-4:- د حضرت عیسی علیه السلام بیا دنیا ته راتلل

د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چې حضورصلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې " قسم دے پهٔ هغه ذات باندې د چا پهٔ لاسونو کښې چې زما ژوند دے یقینا دمریم ځوئې عیسی علیه السلام به ستاسو پهٔ مینځ کښې یو صحیح حکمران راکوزیږی . هغه به صلیب تباه کړی، خنزیر به مړ کړی او ټیکس به ختم کړی.

(بخاری شریف)

حضرت عیسی علیه السلام چې هر کله یو ځل بیا دنیا ته راشی نو د هغه مخې ته به درې غټ کارونه وي.

1- د ټولو نه اهم او غټ کار به داوی چې هغه به دجال تباه کړی.

2- هغه به مسلمانان د یاجوج ماجوج د ظالمو قبیلو نه بچ کړي . هغه به مسلمانان کوه طور ته بوځي او هلته به د یاجوج ماجوج د تباهۍ سوال اوکړی.

3- هغه به د یوبادشاه پهٔ حیث د قرآن اوسنت مطابق حکومت اوکړی او د اسلام پر مختګ به اوکړی.

حضرت عیسی علیه السلام به د یمن پهٔ ښار عدن کښې د یو جومات پهٔ مینار باندې راکوزیږی . هغه به نارنجی زیړ

بخنې جامې اغوستې وی او لاسونه به ئې د دوو فرښتو پۀ سانګونو باندې ایښودي وي.
کوم خلق چې به هلته موجود وي هغوئ به هغه پېژني ځکه چې هغه به هغه شان وی څنګه چې حضور صلی الله علیه وسلم بیان کړے وی.
"د هغه د څرمنې رنګ به سورچکے سپین وی "
(بخاری)

"هغه به ډېر ښۀ جوړ وی او د هغۀ ویښته به پاستۀ او غوړونو ته رارسی."
(مسلم)
پۀ هر یو کافر باندې چې به د هغه د خولو بوئی لګی هغه به مړ کیږی.
هر کله چې امام مهدی حضرت عیسی علیه السلام اووینی نو هغه به یو څو قدمه راروستو شی چې عیسی علیه السلام امامتی اوکړی. عیسی علیه السلام به د امام مهدی پۀ اوګو باندې لاس کیږدی او اوبه وائی چې وړاندې لاړ شه او امامتی اوکړه. امام مهدی به بیا د ټولې جمعې امامتی اوکړی.

هر کله چې مونځ ختم شی نو عیسی علیه السلام به سره د مسلمانانو د لښکر د دجال د اووه زره (7000) فوځیانو د لښکر سره د جنګ کولو دپاره روان شی. دجال ته چې هر کله پته اولګی چې حضرت عیسی علیه السلام د اسمان نه راکوز شوے دے او د مسلمانانو د لښکر سره راروان دے نو د هغه نه به وار پار خطا شی او د عیسی علیه السلام نه به پټېدل شروع کړی. هغه به د شام د سرحدی علاقې نه د اسرائیلو ښار (لود) طرف ته تښتېدل شروع کړی او په (لود) ښار کښې به هغه لاندې کړی او عیسی علیه السلام به په خپله هغه مړ کړی.

مسلمانان به د دجال فوځ له ماتې ورکړی. په هغه ورځ باندې به یهودیان د ځان د بچ کولو په غرض د څۀ څیز شاته ځان نۀ شی پټولے. کله چې هغوئ ځان د ګټې، ونې یا د دېوال شاته پټوي نو خدائې پاک به هغه څیزونو له د خبرو کولو طاقت ورکوی او په هغوئ کښې هر یو به مسلمانانو سپاهیانو ته وائی چې اے د الله نوکرانو زما شاته یهودی پټ شوے دے. راشئ مړ ئې کړئ.

د یهودیانو دا عقیده ده چې هغوئ عیسی علیه السلام مړ کړے دے. الله به د دنیا د ختمېدو نه مخکښې هغه دنیا ته

راولېږی چې یهودیانو ته ثابته شی چې هغه مړ کړے شوے نۀ وو او دا چې هغه ژوندے دے . هغه به عیسی علېه السلام وی ځوک چې به یهودیان او د هغوئ مشر یا سردار دجال مړ کړی ـ ځینې عالمان وائي چې عیسی علېه السلام پۀ بائېبل کښې د حضورصلی الله علېه وسلم د تابعینو ډېر خاصیتونه موندي وو ـ پۀ دې وجه هغه د خدائې نه سوال اوکړو چې هغه ته دې د حضور صلی الله علېه وسلم د امتیانو درجه ورکړی .خدائې پاک د هغه سوال قبول کړو او دغه شان هغه به د حضور پاک صلی الله د یو امتی پۀ حېث دې دنیا ته راتګ کوی ـ

د خدائې پاک دا قانون دے چې هر هغه ځیز کوم چې پۀ دې دنیا کښې پېدا شی هغه به پۀ اسمانونو کښې نۀ بلکې پۀ دې دنیا کښې ختمېږی . حضرت عیسی علېه السلام چونکې پۀ اسمان کښې دے او ژوندے دے هغه به دې دنیا ته یو ځل بیا راځی .دجال به مړ کوی او د هغې نه وروستو به د څۀ وخت پورې ژوندے وی او بیا پۀ خپل مرګ (قدرتی مرګ) باندې مړ کېږی او د حضور صلی الله علېه وسلم سره نزدې به پۀ مدینه کښې ښخولے شی ـ

5-4:- ياجوج او ماجوج

د ياجوج ماجوج دواړو غټو قبيلو د خلقو ښكاره كېدل د قيامت يوه غټه نخښه ده . خدائ پاک پۀ قرآن كښې فرمائى
:

"د هغې پورې كله چې پرانستے شي ياجوج او ماجوج او دوئى به د هرې غونډۍ نه پۀ تېزۍ سره راكوزېږي -"
قرآن- سورة الانبياء (21: 96)

ياجوج او ماجوج هغه دوه غټې ظالمې قبيلې وې چاچې به پۀ دنيا كښې ظلمونه او زياتي كول . هغوئى به د خدائې نه يرېدونكي خلق مړۀ كول او د هغوئ خوراكونه او باغونه به ئې تباه كول-

پۀ زرګونو كاله مخكښې ذوالقرنين يو داسې بادشاه تېر شوے دے چا چې پۀ ټوله دنيا باندې بادشاهى كړې ده . پۀ دنيا كښې پۀ ټوله دنيا باندې تر اوسه څلورو كسانو بادشاهى كړې ده . چې پۀ هغې كښې ذوالقرنين، حضرت سلېمان علېه السلام، نمرود او بخت نصر شامل دي.

ذوالقرنين يو عرب مسلمان وو. هغه يو انصاف كونكے او ډېره پوهه لرونكے بادشاه وو . هغه مشرق بعيد ، مغرب بعيد ، شمال او جنوب طرف ته سفر كړے وو او كوم اړخ ته

چې به تلو نو هلته به ئې د خدائې پاک قانون نافذ کولو۔ هغه چې شمال طرف ته په سفر باندې وو نو هغه د دوو دنګو غرونو مېنځ ته اورسېدو۔ هلته هغه د يوې قبيلې سره ملاقات اوکړو ۔د هغې قبيلې خلقو هغه ته شکايت اوکړو چې دوه غټې او ظالمې قبيلې ددې غرونو شاته اوسېږي ـ د هغه قبيلې خلق زمونږ اړخ ته راځي ۔دلته لوټ ل ، قتلونه او تباهئ کوي او بيا واپس ددې غرونو شا اړخ ته تختي۔

د هغې قبيلې خلق چې د ذوالقرنين په طاقت پوهه شول نو هغوئی ورته سوال اوکړو چې د ياجوج ماجوج قبيلو د ظلمونو نه د بچ کېدو دپاره د هغې قبيلې او د ياجوج ماجوج په مېنځ کښې داسې دېوال اووهلے شي په کوم چې نه هغوئی دپاسه راختلے شي او نه په هغې کښې سورے کولے شي۔

ذوالقرنين د هغې قبيلې د خلقو په بدنی مرسته سره د اوسپنې يو داسې دنګ او مضبوط دېوال جوړ کړو چې د ياجوج او ماجوج قبيلوخلقو نه په هغې کښې سوري کولے شوو او نه په هغې باندې دپاسه راوړېدلے شوو۔ خدائې پاک په قرآن کښې فرمائی :

"تر دې چې ورسېدو د ے مېنځ د دواړو غرونو ته، نو بیا مونډو دۀ نزدې دې دواړو غرونو ته یو قوم ، چې نۀ وو دوئی چې پوهېده پۀ خبره . اووئېل دوئی چې اے ذوالقرنین ! بېشکه یاجوج او ماجوج فساد کوي پۀ زمکه کښې - پس ایا نۀ مقرره وو مونږ تا لره خرچ پۀ دې کار چې جوړ کړې ته پۀ مېنځ زمونږ او پۀ مېنځ ددوئی کښې دېوال - اووئېل دۀ چې هغه څۀ چې طاقت راکړے دے ما لره پۀ هغې کښې رب زما ، غوره دے - پس امداد اوکړئ ماسره پۀ قوت خپل - چې جوړ کړم پۀ مېنځ ستاسو کښې او پۀ مېنځ ددوئی کښې دېوال - راوړئ مالره تختې د اوسپنې - تر دې پورې چې برابر شو دېوال پۀ مېنځ د دوو غونډو کښې - اووئېل چې پوکئ بنی، تر دې چې اوګرځولو ئې هغې لره اور - وئې وئېل چې راکړئ مالره چې واړووم پۀ دې باندې تانبه ویلې کړے شوې - پس طاقت بۀ نۀ وی د دوئ د هغې د سوری کولو -"

قرآن - سورة الکهف (18: 92-97)

ذوالقرنین چې کوم د اوسپنې دېوال جوړ کړے وود هغې پۀ ننی زمانه کښې لیدل یا شمال طرف ته د هغه ځائې صحیح ځائې پېژندل ډېر ګران دی - ځینې خلق وائی چې

هغـه دېـوال شـمال اړخ تـه د چـین غـټ دېـوال کېـد ے شـی ۔
ځینې وائی چې داغستان روس کښې چې کوم ډرېنټ نومې
دېـوال د ے هغـه کېـد ے شـی ۔ځینـې وائـی چـې پـهٔ مرکـزی
اېشـیاء کښـې د بخـارا سـره نـزدې چـې کـوم دېـوال د ے هغـه
کېـد ے شی۔

ددې ټولو بیان کړے شوي دېوالونو پهٔ حقله څهٔ داسې پوخ
ثبوت نشته د کومې پهٔ بنیاد سره چې پهٔ دې کښې یو هم د
ذوالقرنین جوړ کړے شوی دېوال سره سمون خوری۔

د ذوالقـرنین دجـوړ کـړے شـوی دېـوال پـهٔ حقلـه د مولانـا
الوسی رائې د څهٔ حده پورې صحیح کید ے شی۔هغه وائی
چې مـونږ د هغـه دېوال د ځائې پـهٔ حقلـه څهٔ نهٔ پېژنو۔ددې
خبرې هم لـوئې امکـان د ے چـې زمـونږ او د هغـه دېـوال پـهٔ
مېنځ کښې او د یاجوج ماجوج او باقی دنیا پـهٔ مېـنځ کښـې
غـټ سـمندرونه او غرونـه ولاړ وي ۔دیـاجوج او مـاجوج پـهٔ
حقله خلق ډېرې عجیبه خبرې کوي ۔څوک وائی چې یـاجوج
مـاجوج بـه واړهٔ بـد شـکله ځنـاور وي کـوم چـې بـه پـهٔ غټـه
پېمانه سره تباهی کولے شي ۔څوک وائی چې هغه به تېز تلو
والا او جنګیان ځناور وي کوم چې به ټول انسانان، ځناور،

ونې، بوټي، اوبۀ او نور ډېر سا ه لرونکي ځناور ختمولے شي.

پۀ حقيقت کښې د ياجوج او ماجوج قبيلې خلق بـه د عـامو انسانانو پۀ شان وي او د هغوئی شمېر به ډېر زيات وي.

"ياجوج او ماجوج د حضرت آدم علېه السلام بچي دي او پۀ هغوئ کښې به يو تر هغې پورې نۀ مری تر څو چې زر پېدا شوي نۀ وي."

(فتح البارى)

حضرت ابو سعيد خضری رضی الله عنه وائی چې حضور صلی الله علېه وسلم اوفرمائېل چې :

"د قيامت پۀ ورځ به الله حضرت آدم علېه سلام ته اووائی چې د خپل نسل نه دوزخيان رااووچت کړه. حضرت آدم علېه السلام به تپوس اوکړی چې اے الله ! هغۀ څوک دي ؟ خدائې پاک به اووائی چې پۀ زرو کښې نهه سوه نهه نوی (999) دوزخيان دي او يو جنتی دے. ددې پۀ اورېدو سره صحابيان اوېرېدل او تپوس ئې اوکړو چې هغه يو جنتی به څوک وی ؟ حضور صلی الله علېه وسلم ځواب ورکړو وېرېږئ مۀ ،(999) به ياجوج ماجوج او يو جنتی به تاسو يئ" (مسلم / بخاری)

د یاجوج او ماجوج د ظاهری وجود په حقله ډېر حدیثونه رانقل کړے شوي دي. د هغې ټولو په رڼا کښې د یاجوج او ماجوج ظاهری وجود په دوه قسمه دے.
1- په یاجوج او ماجوج کښې به څوک شپږ شلې (120) فټه دنګ وی.
2- څوک به څلور لاسه دنګ او څلور لاسه پلن وی.
د دجال د مړ کولو نه لږه موده وروستو به حضرت عیسی علیه السلام ته خبر ورکړے شی چې یاجوج او ماجوج ازاد کړے شوي دي. د خدائې پاک په حکم سره به عیسی علیه السلام ټول مسلمانان کوه طور ته بوځي او هلته به د هغوئ حفاظت د یاجوج او ماجوج نه اوکړي. ولې چې یو کس به هم د یاجوج او ماجوج مقابله نۀ شی کولے.
یاجوج او ماجوج به د هرې غونډۍ نه راکوزېدل شروع کړي او هر چرته چې ځي هلته به تباهی او وینه تویول شروع کړي. په هغوئ کښې اولنے ټولګے به د اوبو یو غټ ډنډ ته راشي او د هغې ټولې اوبۀ به اوڅښي. اخرنے ټولګے چې هغې ډنډ ته راشي نو وائی به چې په دې ډنډ کښې هم چرته اوبۀ وې ؟ هغوئ به مخ په وړاندې روان وي او هر طرف ته به تباهی او قتلونه کوي ـ هرکله چې هغوئ د یروشلم سره نزدې یو غر

(خمر) تـه اورسي نـو او بـه وائـي چـې مـونږ خـو د زمکـې اوســپدونکي خــتم کــړل .راځــئ چــې اوس د اســمان اوسپدونکي ختم کړو.

بیا بـه هغـوئ اسمان طرف تـه غشي ویشـتل شـروع کـړي . خدائې پاک به په خپل حکم سره د هغوئ هغه غشي د وینې لامده کړي او واپس بـه ئې هغـوئ طرف تـه راغـوزار کـړي . هغوئ به دا اوګڼي چې هغوئ د اسمان اوسپدونکي هم مړهٔ کړل.

حضـرت عیسـی علیـه السـلام او د هغـه ملګـري مسـلمانان کوم چې به په کوه طور کښې په حفاظت سره وي ، بـه د الله نه د یاجوج او ماجوج د تباهۍ دعا اوغواړي. خدائې پاک به د هغوئ دعا قبوله کړي او پـهٔ شپـه کښـې بـه د هغـوئ پـهٔ مـرو بانـدې وارهٔ چینجي اولګي او هغـه ټـول بـه سـحر مـړهٔ پراتهٔ وي

پهٔ هغه سحر پهٔ کوم چې بـه د یـاجوج او مـاجوج قبیلو ټـول خلق مړهٔ شوي وي ، مسلمانان به د هغوئ شور محسوس نـهٔ کړے شي . هغه سحر به مسلمانانو ته مخاطب شي اوا وبه وائـي چـې پـهٔ تاسـو کښـې بـه څـوک د خپـل ژونـد قربـانی ورکړی او بهر به اوګوری چې حالات څنګه دي . پـهٔ هغـوئ

کښې به يو مسلمان پۀ رضامندۍ سره د کوه طور نه راکوز شی او پۀ زړۀ کښې به ئې دا وېره وی چې هغه به ژوند ے واپس لاړ نۀ شی خو هر کله چې هغه اووينی چې ياجوج او ماجوج ټول مړۀ شوي دي ، هغه به چغې کړی چې زمونږه دښمن مړ د ے۔ حضرت عيسی عليه السلام او نور مسلمانان خلق به د کوه طور نه راکوز شي۔
پۀ هغه وخت کښې به د ياجوج او ماجوج د بدنونو نه سخا بوئی خپرۍ او پۀ ټوله هوا کښې به هغه بدبو خوره شوې وي
حضرت عيسی عليه السلام او د هغۀ ملګری به بيا خدائې پاک طرف ته توجه شي او دعا به اوغواړي چې هغه بدبو ختمه کړی ۔خدائې پاک به د هغوئ دعا قبوله کړی او اوږدو مرو والا مرغئ به راولېږي کومې چې به هغه بدنونه هغه ځائې ته يوسی چرته چې به خدائې غواړی۔ بيا به خدائې پاک باران را اوورَوی او زمکه به پۀ هغې سره صفا کړے شی۔

4-6:- د نمر د مغرب اړخ نه راختل

حضرت خذيفه رضی الله عنه د حضور صلی الله عليه وسلم يو حديث مبارک رانقل کړے د ے۔هغه وائی چې مونږ د يو

بل سره په خبرو اترو کښې لګیا وو چې ناڅاپه حضور صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو او وئې وئېل :

"تاسو څۀ خبرې کوئ ؟ . هغوئی ځواب ورکړو چې مونږه د اخرنۍ ګهېنټې په حقله بحث کوو . بیا حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائېل "هغه به تر هغې پورې رانۀ شی تر څو چې تاسو د هغې نه مخکښې لس څیزونه ا ونۀ وینئ .

هغه بیا بیان کړل :

لوګے، دجال، غټ ځناور، د نمر د مغرب د اړخ نه راختل، د عیسی علیه السلام راتګ، د یاجوج او ماجوج ښکارۀ کېدل، د زمکې په درېو ځایونو مشرق ، مغرب او دعرب په علاقه کښې چاؤدل ، د هغې په اخر کښې به د یمن نه اور راروان شی او خلق به په مخه کړي او د هغوئ د غونډې د ځائې پورې به ئې اورسوي .

(مسلم)

4-7 :- د لوګی راتلل

د اسمان نه د لوګی راتلل د قیامت یوه غټه نخښه ده ـ هغه لوګے به په ټوله دنیا کښې خورېږی او د هغې به په مسلمانانو او غېر مسلمانانو دواړو باندې اثر وی ـ هغه لوګے به تر د څلوېښتو ورځو پورې په دنیا کښې وی .

د هغه لوګی اثر به پۀ مسلمانانو باندې کم وی او پۀ غیر مسلمانانو باندې به ډیر زیات وی. هغه به د غیر مسلمانانو پۀ مازغو کښې ننوځی او هغوئ به بې هوشه کوي.

خدائې پاک پۀ قرآن شریف کښې فرمائی:

"پس انتظار کوه تۀ د هغه ورځې چې راوړی اسمان لوګے ښکاره، چې پټ به کړی خلق. دا عذاب دے دردناک."

قرآن. سورة الدخان (44: 10. 11)

حضرت وسیله بنت اسقه رضی الله عنها فرمائی چې ما د حضورصلی الله علیه وسلم دا خبره واوریده چې "اخرنۍ ګهینته به تر هغه پورې رانۀ شی تر څو چې تاسو لس څیزونه اونۀ وینئ. (پۀ هغه لسو څیزونو کښې هغه لوګے هم بیان کړو"

(مسلم)

4-8:- د زمکې چاؤدل

پۀ دنیا کښې به پۀ دریو ځایونو (طرفونو) کښې پۀ ډیره غټه پیمانه سره زمکه اوچوی. پۀ هغې کښې به یوه چاودنه پۀ مشرق، بله پۀ مغرب او بله به د عربو پۀ علاقه باندې وی

ـ زمکه به هغه ټول څیزونه هغه کۀ انسانان ، ځناور ، غرونه، ونې بوټي ، سمندرونه او کۀ نور ساه لرونکي دي ، به د ځان د لاندې کړي ـحضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چې ما د حضورصلی الله علیه وسلم نه دا خبره واورېده چې زما نه وروستو به پۀ مشرق کښې د زمکې چاودنه وی، پۀ مغرب کښې به د زمکې چاودنه وی او پۀ جزیره نما عرب کښې به د زمکې چاودنه وی ـ ما تپوس اوکړو اے د الله پېغمبره صلی الله علیه وسلم ! زمکه به معافی ورنۀ کړی (یا زمکه به چاودېدل منع نۀ کړی) ولې چې ددې د پاسه به پرهېزګاران خلق وي ـ

حضور صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړو:

هر کله چې پۀ دې اوسېدونکي غلط کارونه او ګناهونه سېوا کړي ـ" (طبرانی)

پنځم ټوک

5-1:- د قیامت ورځ

د انسان په ذهن کښې چې دو برې څومره سوچ او فکر د ے د قیامت د ورځې وېره به د هغې نه ډېره زیاته وی .دا هغه ورځ ده چې په دې کښې به سترګې د وېرې نه اوچوي او زړونه به اولټه شي . اینې به د خېټې نه خلې ته راا وخېژي . د ډېرې زیاتې وېرې او فکر نه به ماشومان بوډا ګان شي .

"سړي چې نهٔ مشغولوي دوئی تجارت او نهٔ خرڅول ،د ذکر د الله تعالی او د ودرولو د مانځه او د ورکولو د زکواة نه . وېرېږي دوئی د هغې ورځې نه چې اوړی به په هغې کښې زړونه او سترګې."

قرآن - سورة النور (24:37)

په دې ورځ باندې به د حمل والا ښځو حمل غورزار شي . انسان به خپل نزدې او خوږو خپلوانو لره دوزخ ته غورزارولو او د خپل ځان د بچ کولو خواهش کوی.

په دې ورځ به د چالاکو خلقو چالاکی او د دهوکه بازانو او مکر کوونکو خلقو دهوکه بازی او مکر هېڅ کار اونهٔ کړ ے

شی ـ په دې ورځ باندې به مال دولت ، عزت ، عهده او غټې غټې شفارشونه هېڅ اونه کړے شی ـ
"او نه پوهېدم چې څه دے حساب زما
اے ارمان دے چې وے مرګ فېصله کوونکے زما
هېڅ ګټه رانه کړه ماته مال زما ، نه بادشاهۍ او سلطنت او حکم به ورکړے شی چې ا ونیسئ، پس زولنۍ واچوئ په څټ دده کښې ـ"

قرآن ـ سورة الحاقة (69 :25-26)

د قیامت ورځ ډېره سخته او د بربادۍ ورځ ده ـ په دې ورځ به د پېښېدو هېڅ څه ځائې نه وی ـ غرونه به د شګې د ذرو په شان خواره شي او د وربځو په شان به په هوا کښې الوځي ـ د دریابونو او د سمندرونو د اوبو نه به اور راخېژی ـ زمکه به رقېدل شروع شی او د خدائې دو برې نه به رپېږی ـ زمکه به رانښکودے شی او داسې به خوره کړے شی چې یو صفا مېدان به جوړ شی ـ زمکه به خپلې ټولې خزانې بهر ته راغوزارې کړي ـ نمر، سپوږمۍ او ستورې به بې رڼا شي ـ اسمان به اوچوی او د سرې ځرمنې په شان به شی ـ
"پس هغه وخت چې ا وچوی اسمان ، پس شی به سور په شان د ځرمنې ـ"

قرآن۔ سورة الرحمن (55 :37)

د قیامت شروع به د حضرت اسرافیل علیه سلام د صور (شپېلۍ) د وهلو نه کېږی ۔ حضرت اسرافیل علیه السلام چې کله پېدا شوے دے د هغه وخت نه تر اوسه پورې ئې هغه صور پۀ خلۀ کښې نیولے دے او هر کله چې هغه ته د الله د طرف نه حکم ورکړے شی نو هغه به صور پوکی یعنې اووهی۔

د صور شکل به د ځناور د ښکر پۀ شان وی ۔ حضرت اسرافیل علیه السلام به دوه پېرې صور پوکی ۔ د صور پوکلو پۀ وخت کښې به د هغه ښۍ اړخ ته حضرت جبرائیل علیه السلام او ګس اړخ ته به حضرت میکائیل علیه السلام وي ۔ پۀ اولنی صور پوکلو سره به پۀ خلقو باندې ډېره وېره راشی او څومره چې د صور اواز زیاتېږی نو د خلقو وېره به هم ورسره زیاتېږی او دغه شان خلق به مړۀ کېدل شروع شي۔

"او پوکے به ورکړے شی پۀ شپېلۍ کښې ، پس بې خود به شي هغه څوک چې پۀ اسمانونو کښې دي او هغه څوک چې پۀ زمکه کښې دي ۔ مګر هغه څوک چې خوښه شی د الله تعالی۔"

قرآن۔ سورة الزمر (39:68)

د اولنی صور د وهلو اورېدوالے، د اولنی او دوېم صور پۀ مېنځ کښې وخت او د دوېم صور د وهلو د اورېدوالی پۀ وخت باندې خدائې لره علم دے۔

حضرت عبد الله بن عمر وائی چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائېل :

"شپېلۍ به اووهلے شی او څوک چې به دا واوری مرۍ به یو طرف ته ټیټه کړی او د بل طرف نه به ئې راوچته کړی ۔ (یعنې بې هوشه به شی او لاندې به راغوزار شی) ۔ د ټولو نه مخکښې چې به کوم کس د صور اواز اوری هغه به هغه سړے وی کوم چې به د خپلو اوښانو حوض صحیح کوی۔ هغه چې څنګه اواز واوری نو راارتاؤ به شی او خلق به هم چې اواز اوری نو راارتاوېږي به۔"

(مسلم)

صور (شپېلۍ) به د جمعې پۀ ورځ باندې وهلے شی ۔ د جمعې پۀ ورځ باندې ټولې مقربې فرښتې، زمکه، اسمان، هوا، غرونه او دریابونه ډېر پۀ وېره کښې وي چې چرته نن صور اونۀ وهلے شی۔

حضرت ابو لبابه بن عبد المنذر وائی چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دی:

"جمعه د ټولو ورځو سرداره ده او خدائې پاک ته نزدې عظمت والا ده. الله تعالی ته د عید الاضحی (لوئې اختر) او د عید الفطر (وړوکی اختر) نه هم ډیره غوره ده. ددې ورځې پنځه خاص خبرې دي.

1- په دې ورځ الله تعالی خاص ادم علیه السلام پیدا کړے وو.

2- پۀ دې ورځ الله تعالی ادم علیه السلام پۀ زمکه باندې راکوز کړو.

3- پۀ دې ورځ الله تعالی حضرت ادم علیه السلام له وفات ورکړو.

4- پۀ دې ورځ کښې یو داسې وخت دے چې پۀ هغې وخت کښې که چرې بنده د الله نه څۀ څیز اوغواړی نو الله تعالی ئې ورله ورکوی. تر څو پورې چې بنده د حرام شی سوال اونۀ کړی.

5- د جمعې پۀ ورځ به قیامت راځی ددې کبله ټولې مقربې فرښتې، اسمان، زمکه، هوا، غرونه او دریابونه د جمعې پۀ ورځ باندې و یریږی.

(ابن ماجه)

هر کله چې اولنۍ صور (شپېلۍ) اووهلے شی نو پۀ زمکه او اسمان کښې چې څومره مخلوق دے هغه ټول به مړۀ شي او صرف د الله تعالى ذات به پاتې شی.

" هر څوک چې پۀ زمکه باندې دے ، پناه کېږی او پاتې به شی ذات د رب ستا چې خاوند د لوئې عزت دے."

قرآن۔ سورة الرحمن (55:26-27)

هر کله چې پۀ دوېمه پېره صور اووهلے شی نو ټول مخلوق به راپورته شي (ژوندے به شي) . خلق به د قبرونو نه راپاسی او د خدائې پاک پۀ عدالت کښې به د ټولګی ټولګی حاضرېدل شروع شی .د ټولو نه اول به حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خپل قبر نه راپاسی او بیا به نور خلق راپاسي.

کوم کس چې به پۀ قبر کښې نۀ وی ښخ کړے شوے او ځناورو خوړلے وی نو هغه به د ځناور د خېټې نه راپاسی. کوم سړے چې پۀ اوبو کښې ډوب شوے وی هغه به د اوبو نه راپاسی. کوم کس چې سېزلے شوے وی او د هغه ایره پۀ هوا کښې الوتلې وی هغه به د هوا نه راپاسی. خلق به د قبرونو نه پۀ بربنډ بدن پښې ابله پښې او ناسنته راپاسي.

حضـرت عـائشــه رضـی الله عنهـا د حضـور صـلی الله علېـه وسلم نه پۀ و ېره سره تپوس او کړو.

"اے د الله رسول صلی الله علېه وسلم ټول انسانان ښـځې او سړي به د يو بل اړخ ته نۀ ګوري ؟ (يعنې انسانان به د يـو بل شرمګاه ته نۀ ګوري)

حضور صلی الله علېه وسلم اوفرمائېل يو بل ته د کتو نه به ډېر زيات د قيامت خطرناک منظر وی ـ د ښځو، سړو طرف ته او د سړو ښځو طرف ته د کتلو نه ډېر زيات خطرناک به د قيامت منظر وی ـ يوې مور لـه د خپـل بچی پـۀ حقلـه يـا يـو ځوئی له د خپل پلار پۀ حقله د سوال کولو نه زيات دو ېرې به د قيامت منظر وی."

دقبـر نـه د راپاسـېدو نـه وروسـتو بـه د ټولـو نـه مخکښـې حضرت ادم علېه السلام ته جامې واغوسـتولے شی ـ د هغـه نه وروستو به حضـور صلی الله علېـه وسـلم تـه ، او بيـا بـه نـورو پېغمبرانـو او ايمانـدارانو تـه وار پـۀ وار جـامې واغوستولے شي.

5-2:- د حساب کتاب ورځ

د قيامت پهٔ ورځ به ټول خلق د حشر پهٔ مېدان کښې راټول کړے شي. د ملک شام زمکه به د حشر مېدان وی. د شام زمکه او اسمان به د قيامت پهٔ ورځ داسې نهٔ وی لکه څنګه چې پهٔ ننۍ زمانه کښې دي. خدائې پاک به پهٔ خپل حکم سره د ملک شام پهٔ علاقه باندې بله زمکه او اسمان پېدا کړي.

حضرت معاويه بن حيده رضی الله عنه وائی چې حضور صلی الله علېه وسلم اوفرمائېل :

"تاسو ټول به راټول کړے شئ . (څوک) پيادهٔ (څوک) سوارهٔ او (څوک) به پړمخ دې اړخ ته رابنکلے شئ"

او حضور صلی الله علېه وسلم پهٔ خپل لاس مبارک سره شام اړخ ته اشاره اوکړه. د حشر پهٔ مېدان کښې به هر سړی ته ډېره پهٔګرانه سره د دوو قدمونو ځائې مېلاوېږی. د حشر پهٔ مېدان کښې به خلق د ګرمۍ ، خولو او د وخت د اوږدوالی نه ډېر تنګ شي او دالله نه به دا دعا اوغواړي چې مونږ د حشر نه خلاص کړې ،هغه کهٔ مونږ دوزخ ته ولې ا ونهٔ لېږې. د حشر پهٔ مېدان کښې به نمر د يو ميل فاصلې پورې راشی. خلق به د خپلو عملونو مطابق پهٔ خولو کښې

ډوب وي . د ځینې خلقو به خوله صرف د پوندو پورې وي .
دځینې خلقو به د پنډو پورې ، دځینې خلقو د زنګونانو
پورې ، د ځینو خلقو د شاګانو پورې ، دځینو خلقو د ملا
پورې ، دځینو خلقو د اوږو پورې ، دځینې خلقو د خلې
پورې اوځینې خلق به پهٔ خولو کښې لامبو وهي .
د حشر پهٔ مېدان کښې به اووهٔ قسمه خلق د الله د عرش د
سیورې لاندې وي .
1- عادل بادشاه .
2- پهٔ ځوانئ کښې عبادت کوونکے .
3- پهٔ جمات کښې زړهٔ لګوونکے .
4- د الله دپاره د یو بل سره محبت کونکے .
5- هغه ښکلې ښځه کومې ته چې د ګناه بلنه ورکړے شي
او هغه د الله دو برې نه انکار اوکړی .
6- پهٔ پټه سره صدقه کوونکے .
7- پهٔ یواځې والی کښې خدائې پاک یادوونکي او ژړا
کوونکي .
د حشر پهٔ مېدان کښې به ښو اخلاقو والا کسان حضور
صلی الله علیه وسلم ته د ټولو نه نزدې وی او د بانګ
ویونکو خلقو مرئ به اوچتې وي . د حشر پهٔ مېدان کښې به

د حساب کتاب پۀ ورځ د هر کس سره بېل بېل حساب کېږی

" پۀ دغه ورځ به راوګرځي خلق ډلې ډلې ، دې د پاره چې اوښودلے شي ورته اعمال د دوئی ۔ "

قرآن۔ سورة الزلزال (99:06)

الله پاک به د ټولو نه مخکښې د حضور صلی الله علیه وسلم د امت سره حساب کوی او بیا د نورو پېغمبرانو د امتیانو سره۔

پۀ حقوق الله کښې به د ټولو نه ړومبے حساب د مانځه کېږی او پۀ حقوق العباد کښې به د ټولو نه ړومبے حساب د قتل کېږی ۔د حقوق د حساب نه مخکښې به نۀ جنتی جنت او نۀ دوزخی دوزخ ته لاړ شی ۔د قیامت پۀ ورځ به الله تعالی د هر سړي سره د حساب کتاب اخستلو پۀ وخت د ترجمان او پردې نه بغېر نېغ پۀ نېغه سوال و ځواب کوی۔

"حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د خلقو پۀ مېنځ کښې به د ټولو نه مخکښې د وینې فېصله کېږی۔"

(بخاری)

د قيامت پهٔ ورځ به ټول ځناور هم بيا ژوندي کړے شي . کهٔ چرې يو ځناور د بل ځناور سره زياتے کړے وی نو د هغې به هم حساب اخستے شی .

د انسان سره به پهٔ هغه ورځ د مختلفو نعمتونو ، صحت، طاقت، عزت، دولت، عهده، غوږونو، سترګو، اولاد ، جائداد ، ځوانی، وخت، ښځې وغيره به هم حساب کيږی .

حضرت ابو هريره وائی چې حضور صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل :

"د قيامت پهٔ ورځ به دخلقو نه د نعمتونو پهٔ لړ کښې چې د کوم څيزرومبے تپوس کيږی ، هغه به دا وی ، ايا مونږ ستا بدن له صحت نهٔ وو ورکړے ؟ او ته مو پهٔ يخو اوبو سره نهٔ وې موړ کړے ؟"

(ترمذی)

د قيامت پهٔ ورځ به د حساب کتاب نه مخکښې چې کومو کسانو ته عمل نامه پهٔ ښئ لاس کښې ورکړے شي نو د هغوئ سره به پهٔ اسانئ سره حساب کتاب کولے شي .

کومو کسانو له چې به عمل نامه پهٔ ګس لاس کښې ورکړے شي د هغوئ سره به پهٔ سختئ سره حساب کتاب کولے شي .

کومو کسانو چې خپل ژوند پـه دې دنیا کښې د الله د پېغمبرانو پهٔ سنت طریقې سره تېر کړے وي او د الله تعالی حکمونه ئې منلي وي او نور ښهٔ ښـهٔ کارونـه ئې کړي وي او خلق ئې نېکو کارونو طرف ته رابللي وی او د بدو کارونو نه ئې د منع کولو کوشش کړے و ی نو د هغه کسانو بـه پـهٔ هغه تله کښې پهٔ کومې سره چې به د ښو او بدو عملونو تول کېږي د نېکو چابړے ښکته وی۔ (یعنې نېکئ بـه ئې سـېوا وي) او د بدو چابړے بره وی۔ (یعنې بدئ به ئې کمې وي) دغه قسمه خلق به پهٔ پل صراط کوم چې د وېښته نه نرے او د تـورې نـه تېره دے او پـهٔ دوزخ دپاسه باندې جوړ کړے شوے دے ،دبجلۍ د برېښنا پهٔ شان پورېوځي او جنت ته به داخلېږي ۔هغه کسان به یو داسې ژوند شروع کوي کوم چې به د خوشحالو، ارامونو، ښکلا او د الله د رحم او کرم نـه ډک یـو نـهٔ ختمېدونکے ژونـد وی۔ پـهٔ کائنات کښې د نېکانو خلقو دا نېک مرغی (خوش نصیبی) ده چې اول خدائې پاک پهٔ هغوئ باندې رحم او کرم اوکړو چې هغو ئی ئې نېکان انسانان جوړ کړل او بیا د هغوئ د نېکو پـهٔ وجه به د هغوئ حقیقی مرام (منزل) جنت وی۔

کومو کسانو چې د الله ذات او د هغه حکمونه نۀ وي منلي او د هغـه د پیغمبرانـو د عـزت او احتـرام پـۀ ځـائې ئـې پـۀ هغـوئ پـورې ملنـډې کـړې وي -پـۀ دنیـا کښـې ئـې د بـدو کـارونو نـه مـخ نـۀ وی اړولـے او د انسـان دجـوړ کـړے شـوی دیـن طـابع وي -د دغـه قسـمه خلقـو بـه د عملـونـو د تـول پـۀ وخت د بدو عملونو چابړے ښکته وی (یعنې بد عملونه بـه ئې زیات وي) او د ښو عملونو چابړے بـه ئې بره وی.دغـه قسمه خلق به پۀ پل صراط نۀ شی پوربـوتلے، او ښـکته بـه ګـذار کـړے شـي -پـۀ دوزخ کښـې بـه ډېـرې غټـې غټـې سزاګانې هغـوئ لـه ورکـولے شي -کوم کسان چې پـۀ دنیـا کښــې د الله د ذات او د هغــۀ دحکمونــو خــلاف چلېــږي د هغوئ پۀ کائنات کښې حقیقی مرام (منزل) دوزخ دے.

"پس هغه څوک چې درنه شی تله ددۀ.پس دے بـه پـۀ ژوند ښـۀ کښـې وی او هغـه څـوک چې سپکه شی تلـه ددۀ ، پـس ځائې ددۀ به هاویـه وی، او څـۀ خبر کـړے ئـې تـه چې څـۀ ده هاویه.دا اور دے ګرم."

قرآن- سورۃ القارعة (101:06-11)

کامیابی پۀ دوه قسمه وی.

1- دنیاوی کامیابی

2- د اخرت کامیابی

دنیاوی کامیابی مختلف خلق پۀ مختلفو طریقو سره حاصلوي خو د اخرت کامیابی کومه چې د انسانیت د وجود اصلی راز دے ،پۀ حقیقت کښې هله ممکن کېدے شی هر کله چې د الله تعالی او د هغه د رالېږلے شوی پېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پوره تابعداری اوکړے شی .پۀ دې دنیا کښې ډېر داسې خلق شته ، څوک چې د دنیا پۀ فانی کامیابۍ باندې د اخرت کامیابی قربانوي .د حضور صلی الله علیه وسلم هر امتی جنت ته د داخلېدو خواهش مند دے او بېشکه دا د هر مسلمان اولنے خواهش پکار دے.

ځینې مسلمانان پۀ بد قسمتۍ سره د خپلو عملونو پۀ وجه سره جنت ته د تلو نه پۀ خپله انکار کوي .لکه د حضور صلی الله علیه وسلم پۀ ارشاداتو باندې پخپله جوړې کړے شوې خبرو له غوره والے ورکوی او د حضور صلی الله علیه وسلم وینا او کارونه د نظر نه غورځوی.

حضرت ابو هرېره رضی الله عنه وائی چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائېل.

"زما د امت هر کس به جنت ته داخلیږي ـ مګر هغه کس (بـه جنت ته نهٔ داخلیږي) څوک چې پخپله هلته د تلو نه انکار کوی ـ صحابیانو تپوس اوکړو چې اے د الله رسوله صلی الله علیه وسلم ! داسې به کوم کس وی څوک چې به جنت ته د تلو نه انکار کوی ـ حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چا چې زما تابعداری اوکړه هغه جنت ته داخل شو او چا چې زما نافرمانی اوکړه هغه جنت ته د تلو نه انکار اوکړو"

(بخاری)

3-5: جنت

جنت د عربۍ ژبې تورے (لفظ) دے او ددې معنی ده باغ ـ د جنت جمع جنات / جنان (باغونه) ده ـ
خدائې پاک د جنت پهٔ حقله پهٔ قران پاک کښې فرمائی :
"او تادی کوئ بخښنې د رب خپل ته او هغه جنت ته چې پلنوالے د هغې اسمانونه دي او زمکه ده چې تیار کړے شوے دے دپاره د پرهېزګارانو."
قرآن ـ سورة العمران (03 : 133)
د جنت د غټې والی پهٔ حقله الله لره حقیقی علم دے ـ د جنت پهٔ حقله د مختلفو قراني ایاتونو او حدیثونو د لوستې نه

وروستو دا وئيلے کيدے شی چې مونږ چې پۀ کومه دنيا کښې او سېړو ددې نه پۀ اربونو ، کهربونو درجې به جنت غټ وی۔
د جنت اتۀ (8) دروازې دي -ديوې دروازې پلنوالے تقريبا دولس سوه (1200) يا ديارلس سوه (1300) کلوميټرو برابر دے -باب ريان، باب ايمن،باب الصلات، باب الجهاد ، باب الصدقه د جنت د دروازو نومونه دي۔
د ټولو نه ړومبے به د جنت دروازه د حضور صلی الله عليه وسلم دپاره پرانستے شی۔ حضرت انس بن مالک وائی چې حضور صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل :
"د قيامت پۀ ورځ به د ټولو نه زيات امتيان زما وي او زۀ به د ټولو نه مخکښې د جنت دروازه ټکوومه۔"
(مسلم)
د حساب کتاب نه بغير به چې کوم اويازره (70000) خوش قسمته خلق جنت ته داخلېږي پۀ هغوئ کښې به نۀ څوک وروستو وي او نۀ مخکښې ، بلکې ټول به پۀ غونډه پۀ "باب ايمن " باندې جنت ته داخلېږي۔
د جنت سل (100) درجې دي او د هرې درجې پۀ مېنځ کښې فاصله د زمکې او اسمان پۀ مېنځ کښې د فاصلې برابر ده۔

(ترمذی)

پـهٔ جنت کښـې بـه د ټولـو نـه غـوره درجـه "وسـيله" حضـور صلی الله علېه وسلم ته مېلاوېږی۔ د ټولـو نـه اوچتـه درجه جنت الفـردوس ده ۔د کـومې نـه چې د جنت څلـور (4) ولـې سیحان، جیحان،فرات او نیل جاری کېږي۔ پهٔ قـران شریف کښې خدائې پاک د جنت مختلف نومونه ذکر کړي دي۔

1- دارالسلام 2-دارالمتقین 3-دارالقرار 4-مقام امـین 5-دارالاخره 6-جنت النعیم 7-جنت العدن

پهٔ جنت کښې د نهر سیحان، جیحان، فـرات، او نیـل (کـوم چې د جنت الفردوس نه جاری کېږي او د جنت پهٔ نوروبرخو یا درجو کښې خورېږی) نه علاوه نهر کوثر او نهر حیات هم دي۔ د نهر کوثر اوبهٔ د پئـو نـه زیاتې سپینې او د ګبین نـه زیاتې خوږې دي ۔دا نهر الله تعالی حضـور صلی الله علېـه وسلم لـه پـهٔ ډالـۍ کښـې ورکـړے دے ۔جنتیـان بـه پـخپلـه خوښــه ســره د اوبو،ګبینــه، پئــو، او شــرابو د غـټــو ولــو (نهرونو) نه ورېږې ولې خپلو محلونو ته بوتلے شي۔

حضرت حکیم بـن معاویـه رضی الله عنـه د خپـل پـلار نـه دا حدیث مبارک رانقل کړے دے چې حضـور صلی الله علېـه وسلم اوفرمائېل:

“پهٔ جنت کښې د اوبو، ګبین، پئو، او شرابو نهرونه دي او د هغه نهرونو نه به واړهٔ واړهٔ نهرونه اوځي (کوم چې به جنتیانو محلونو ته ځي)

(ترمذی)

پهٔ جنت کښې ”تسنیم“، ”سلسبیل“ او ”کافور“ نومې چینې د جنتیانو دپاره موجودې دي. پهٔ دې چینو کښې به د کافور نه اصلی اولوړ معیار والا شراب او د سلسبیل نومې چینې نه به هغه قسمه شراب راوځی، پهٔ کومې کښې چې به د زنجبیل ګډون شوے وی. د تسنیم نومې چینې نه به اوبهٔ راووځی کومې چې به د الله نزدې خلقو ته ورکولے کېږی. ددې نه علاوه به نورې چینې هم وي پهٔ کومې کښې چې به ځینې چینې داسې وي چې د فوارو پهٔ شان به اوبهٔ راولي او د ځینو چینو نه به سپین او خوارهٔ شراب راووځی.

”دغه کسان چې دي، مقرر کړے دے دوئي لره رزق معلوم (قسما قسم) مېوې به وي او دوئی لره به عزت ورکړے شوے وي، پهٔ جنتونو د نعمت کښې به وي، پهٔ تختونو به وي، یو بل ته مخامخ ګرځولے به شي پهٔ دوئی باندې کاسې د شرابو جاری نه.“

قرآن ـ سورة الصفت (37: 41-45)

د جنتیانو عمرونه به دېرش (30) یا درې دېرش (33) کاله وي او د هغوئی سترګې به قدرتی طور داسې وي لکه په رانجو باندې چې تورې شوې وي ـ د هغوئ په بدن به د سر نه علاوه بالکل وېښتهٔ نهٔ وي ـ (ګیره او برېت به ئې هم نهٔ وی) د هر جنتی بدن به خواوشا نهه(9) فټه دنګ وی ـ

د حضرت معاذ بن جبل نه روایت دے چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائېل:

"جنتیان چې به جنت ته داخلېږي نو د هغوئ په بدن باندې به وېښته نهٔ وي او نهٔ به د هغوئ په مخ باندې ګیره او برېت وي ـ سترګې به ئې تورې غوندې وي او عمرونه به ئې دېرش (30) یا درې دېرش (33) کاله وي ـ"

(ترمذی)

په جنت کښې به یو جنتی هم بې وادهٔ نه نهٔ وی او د هر جنتی به د کم نه کم دوه (2)ښځې وي ، کومې چې به د بنت ادم نه وي ، کومې ښځې چې به د بنت ادم نه وي او هغوئ به جنت ته داخلې شوې وي ـ خدائې پاک به هرې یوې له دومره ښائست ورکړے وي چې هرې یوې به اویا (70) جوړې اغوستې وي او هغه جامې به دومره ښکلې وي چې په هغې

کښې دننه بدن پۀ نظر راځی ـ د هغه جنتی ښځو به خپله ښکلا دومره وي چې پۀ هډوکو کښې دننه مغز به د هغوئ پۀ نظر راځی ـ هغه جنتي ښځې به د ښځو د بیماریانو نه پاکې وي او غصه او حسد به پکښې بالکل نۀ وي ـ د خپلو جنتیانو خاوندانو سره د مېلاوېدو نه وروستو به هغوئ همېشه دپاره پۀ داسې حالت کښې وي لکه بې وادۀ چې وی ـ د هغوئ عمرونه به د خپلو خاوندانو نه زیات وي او نۀ کم، او د هغوئ حسن اوجمال او کړۀ وړۀ (سیرت) به مثالی وي ـ د هغوئ مینه او محبت به د خپلو خاوندانو سره بې حده وي ـ د هغۀ ښائسته جنتي ښځو ودونه به د هغوئ د مرضۍ مطابق د هغوئ د دنیاوی خاوندانو سره کېږی خو پۀ شرط ددې چې هغه دنیاوی خاوند هم جنتی وی ـ کۀ چرې هغه جنتی نۀ وی نو الله پاک به د هغوئ ودونه د نورو جنتیانو سره کوي ـ

حضرت ام سلمه وائی چې ما عرض اوکړو چې یا رسول الله پۀ مونږ کښې ځینې ښځې پۀ دنیا کښې دوه (2) ، درې (3) یا د ځلورو (4) خاوندانو سره پرله پسې نکاه کوي او د مرګ نه وروستو جنت ته داخلېږي او هغه ټول سرې هم جنت ته داخلېږي نو بیا به کوم سړے د هغې خاوند جوړېږي ـ

حضـور اوفرمائيـل : "اے ام سـلمه ! هغـه ښـځه بـه پـۀ هغـه سړو کښې د يو چو ڼ (انتخاب) کوی او يقينـا هغـه بـه ښـو اخلاقو والا سړے خوښوی ـ ښځه به الله تعالى ته خواست اوکړی اے زما ربه ! دا سړے به زما سره پۀ دنيا کښې ډېر پـۀ اخلاقـو سـره مېلاوېـدو ددې دپـاره زمـا ددۀ سـره وادۀ اوکړه ـ اے ام سلمه ! ښو اخلاقو پۀ دنيا او پۀ اخرت کښې پۀ ټولو کارونو باندې برې اوموندو ـ "

(طبرانی)

پۀ جنت کښې به د جنتيانو دپاره د دنيـاوی ښـځو نـه عـلاوه بې مثاله ښکلا لرونکې حورې اوغلمان هم وي ـ د انسـانانو دپاره چې کومې حورې دي هغه يو جنتي تـه د مېلاوېدو نه مخکښې هغـوئ تـه بـه يو انسـان لاس هم نۀ وی وروړے ـ دغه شان کومې حورې چې د جنات (پېريان) دپـاره دي هغـه يو جـن (جنتـی جـن) تـه د مېلاوېـدو نـه مخکښـې يـو جـن بـه هغوئ ته لاس هم نۀ وی وروړے ـ

"او دوئی سره به زنانه وي ، ښکته ساتونکې د نظر به وي ـ غټو سترګو والا ګويا که د دوه اګئ دي پټې ساتلے شوې ـ"

قرآن ـ سورة الصفت (37 : 48 ـ 49)

جنتی حورې به ډېرې حیاداري وي او د هغوئ توجهٔ به صرف پهٔ خپلو خاوندانو وي. د هر جنتی به باقاعده د حورو سره نکاح کیږی. د جنتی انسان او د حورو عمرونه به برابر وي. د ایمادارانو خلقو دپاره یقینا د الله تعالی د طرف نه حورې مقرر کړے شوې دي.

پهٔ جنت کښې به د جنتیانو دپاره مختلف قسمه میوې او ونې وي. انسان چې پهٔ دنیا کښې کوم قسم مېوې خوړلې یا لیدلې وي او هغه د هغه قسمه مېؤوغوښتنه اوکړی نوسمدستی به ورته وړاندې کړے شي لیکن د هغه مېؤو خوند به د دنیاوی مېؤو د خوند نه ډېر زیات مزېدار وی. ددې نه علاوه هغه مېوې کومې چې خدائې پاک پهٔ دنیا کښې نهٔ دي پېدا کړي او انسان نهٔ خوړلی او نهٔ لیدلی دي، به د جنتیانو دپاره پهٔ جنت کښې موجودې وي. کومې چې به بېشکه پهٔ خوند ډېرې زیاتې خوږې وي او پهٔ رنګ به ډېرې زیاتې ښائسته وي.

پهٔ جنت کښې د هر موسم مېوې پهٔ لوئې شمېر کښې موجودې وي او هغه به د سخا کېدو نه بچ وي. کهجوره، انار او کور جنتی مېوې دي او کېله او بېره د جنت ونې دي.

حضرت ابو درداء رضی الله عنه نه روایت دے چې د حضور صلی الله علیه وسلم پۀ خدمت کښې د اينځر يو تالے وړاندې کړے شو حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل " اوخورئ ؛ پخپله ئې هم د هغې نه اينځران اوخوړل او وئې فرمائیل کۀ چرې زۀ د يوې مېوې پۀ حقله اووايم چې دا د جنت نه نازله کړے شوې ده نو هغه دا ده ، ولې چې د جنت مېوې به د تخم نه بغیر وي . بیا اوخورئ ؛ اينځر د بواسير د ختمولو دپاره او د جوړونو د درد دپاره ګټه ور (مفید) دے

(ابن قیم- طب نبوی)

پۀ جنت کښې به د هرې جمعې پۀ ورځ باندې بازار لګی . پۀ هغه بازار کښې به صرف سړي ګډون کوي . پۀ هغه جمعه بازار کښې پۀ ګډون سره به د جنتي سړو پۀ ښکلا کښې دړومبی نه زیاتوالے کېږي . ښځې به پۀ هغه جمعه بازار کښې ګډون نۀ کوي او پۀ کورونو کښې به قیام کوي خو خدائې پاک به پۀ هغه ورځ د هغوئ پۀ کورونو کښې د هغوئ پۀ ښکلا کښې زیاتوالے کوي . پۀ جنت کښې د هر قسمه سهولت، ارام، او سکون نه وروستو به د هر جنتی داهیله (خواهش) وی چې هغۀ ذات (الله) اووینی څوک

چې د ټول کائنات پیدا کوونکے او قابو لرونکے دے .
خدائې پاک به د جنتیانو دا هیله (خواهش) هم پوره کړی.
او خپل دیدن (دیدار) به ورته پیرزو کړی. جنتیان چې هر
کله د خدائې پاک دیدن (دیدار) کوي نو د هغوئ مخونه به
د خوشحالۍ نه پړقیږي.

"ځیني مخونه به په دغه ورځ تازه وي ،طرف د رب خپل ته
به کتونکي وي."

قرآن. سورة القیامه (75:22-23)

حضرت مهیب نه روایت دے چې حضور صلی الله علیه
وسلم اوفرمائیل "هر کله چې به جنتیان جنت ته لاړ شي نو
الله تعالی به ارشاد اوفرمائی: تاسو له بل څۀ څیز پکار دے
؟ هغوئ به اووائی: اے الله! ایا تا زمونږ مخونه روښانه نۀ
کړل؟ ایا تا مونږ په جنت کښې داخل نۀ کړو؟ ایا تا مونږ له
د اور نه خلاصے رانۀ کړو؟ (نور څۀ پکار دي) .بیا به
ناڅاپه (د جنتیانو او د الله په مینځ کښې) پرده اوچته شی
او جنتیانو ته به خپل رب طرف ته کتل د هر هغه څیز نه ښۀ
لګی کوم چې به هغوئ ته په جنت کښې ورکړے شوې وي
."

(مسلم)

کومو لسو (10) خوش قسمته کسانو ته چې پهٔ دنیا کښې د جنت زیرے ورکړے شوے دے هغوئ ته (عشره مبشره) وئیلے شي .د هغهٔ خوش قسمته کسانو نومونه دا دي حضرت عبد الرحمن بن عوف وائی چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل "ابو بکر صدیق پهٔ جنت کښې دے . عمر پهٔ جنت کښې دے . عثمان پهٔ جنت کښې دے . علی پهٔ جنت کښې دے . طلحه پهٔ جنت کښې دے . زبیر پهٔ جنت کښې دے . عبد الرحمن بن عوف پهٔ جنت کښې دے . سعد بن ابی وقاص پهٔ جنت کښې دے . سعد بن زید پهٔ جنت کښې دے . او ابو عبیده بن جراح پهٔ جنت کښې دے ."
(ترمذی)

4-5: دوزخ

دوزخ ته پهٔ عربۍ ژبه کښې " جهنم " وئیلے شی . د قران شریف خوا وشا پهٔ هره پاڼه باندې پهٔ څهٔ نه څهٔ صورت کښې د جنت او دوزخ ذکر کړے شوے دے . د قران شریف پهٔ یو سل څوارلس (114) سورتونو کښې زیات سورتونه د حشر (د حساب ورځ) نشر (بیا ژوندی کېدل یا کول) ، حساب

كتاب او جنت دوزخ پهٔ مضمونونو باندې اړانه (مشتمل) دي.

دوزخ يو داسې ځائے دے کوم ته چې خدائې پاک يو خراب د اوسېدو ځائې وئېلے دے. الله تعالى دوزخ د کافرانو ، مشرکانو او گناهگارانو دپاره جوړ کړے دے. کافران او مشرکان به همېشه همېشه دپاره پهٔ دوزخ کښې وي او گناهگاران به د څهٔ مودې دپاره پهٔ دوزخ کښې وي او د خپلې گناهگارۍ د سزا ختمېدو نه پس به د دوزخ نه جنت ته لېږلے شي.

د دوزخ اووه (7) دروازې دي او ټول دوزخيان به د خپلو خپلو گناهونو مطابق پهٔ مخصوص دروازو باندې دوزخ ته داخلېږي.

"نو بيشک دوزخ چې دے خامخا وعده د دوئ ده دټولو دغه (دوزخ لره) اووهٔ (7) دروازې دي د هرې يوې دروازې دپاره د دوئ نه برخه ده مقرر."

قرآن. سوره الحجر (15:43-44)

د دوزخ ژور والے د زمکې او اسمان پهٔ مېنځ کښې د فاصلې نه زيات دے. کهٔ چرې دوزخ ته يو ه گټه گذاره کړے

شـی نـو هغـه بـه د دوزخ بـېخ تـه پـۀ اویـا (70) کالـه کښـې اورسېږی۔

حضرت ابـو هرېره وائـی چې یـو واري مـونږه د حضورصـلی الله علیـه وسـلم سره ناست وو چې ناڅاپـه د یـوې چـاودنې (دهماکې) اواز راغـے۔ حضـور صـلی الله علیـه وسـلم تپـوس اوکړو: تاسو پېژنئ چې دا څۀ دے ؟ حضرت ابـو هرېره وائـی چې مـونږ عـرض اوکـړو چې الله او د هغـۀ رسـول صـلی الله علیـه وسـلم ښـۀ پېژنـی ۔حضـور صـلی الله علیـه وسـلم اوفرمائیـل : (دا یـوه ګټـه وه کومـه چې د نـن نـه اویـا کالـه مخکښې دوزخ ته ګذاره کړے شوې وه او هغـه د دوزخ پـۀ اور کښـې بـېخ تـه روانـه وه او اوس هغـه د دوزخ بـېخ تـه رسېدلې ده۔"

(مسلم)

د دوزخ مختلفـې درجـې دي او د هـرې درجـې مخصـوص عذابونه دي۔هر دوزخی ته به د هغه د ګناهونو مطابق درجه مېلاوېږی۔د دوزخ پـۀ درجو کښـې بـه د ټولـو نـه پـۀ لاندې درجه کښې ډېر زيات سخت عذاب وی او د ټولو نه دپاسه درجه کښې به نسبتا کم عذاب وی۔د دوزخ پـۀ درجو کښـې

"ســعیر"، "زمهریــر"،لظــی"، "الجهــیم"، "ســقر"، "هاویه" او" الحطمه" شامل دي.

"پس هر هغه چا چې سرکشی کړې او غوره کړے ئې وی ژوند د دنیا، پس یقینا دوزخ ځائې د ورتلو ددهٔ دے."
قرآن - سورة النزعت (79:37-39)

د حضرت ابو هریره نه روایت دے چې حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:

"اور به د ابن ادم ټول بدن اوخوری لیکن سجدې والا ځائې به نهٔ خوری. الله تعالي پهٔ اور باندې سجدې والا ځائې لره خوړل حرام کړی دی." (ابن ماجه)

هغه ګناهونه کوم چې د مسلمانانو دوزخ ته د تلو سبب جوړیدے شي او ورته غټ ګناهونه وئیلے شي هغه دا دي.

1- شرک کول.
2- زنا کول.
3- ناحق قتل کول.
4- مونځ پریښودل.
5- د یتیم مال خوړل.
6- جادو کول.
7- د مور او پلار نافرمانی کول.

8- زکواة نهٔ ورکول.

9- د حاکم پهٔ پخپله رعایه باندې ظلم کول او هغوئ له دهوکه ورکول.

10- بغیر د عذر نه د رمضان روژې نهٔ نیول.

11- د قوم لوط عمل کول. (هم جنس پرستی کول)

12- د مال لرلو باوجود حج نهٔ کول.

13- سود اخستل ، ورکول ، د سودی معاملې لیک (کتابت) کول.

14- قطع رحمی کول.

15- د جهاد د میدان نه تښتېدل.

16- خیانت کول.

17- خود کشی کول.

18- جواری کول.

19- پهٔ دروغه گواهی کول.

20- تکبر او غرور کول.

21- غلا کول.

22- حرام خوړل.

23- دروغ وئېل.

24- رشوت اخستل.

25- شراب څښل.

26- پهٔ یوې نېکې ښځې باندې الزام لګول.

27- د کتاب (قران) او سنت خلاف فېصله کول.

28- ډاکه اچول.

29- پهٔ مال غنیمت کښې خیانت کول.

30- چغل خوری او غیبت کول.

31-د غیرالله پهٔ نوم باندې ځناور حلالول .

32- د غلام ، وینزې ،او ښځې سره بد سلوکی کول.

33- پهٔ دروغه سره قسم خوړل.

34- پهٔ ناپ تول کښې کمے کول.

35- غیر شرعی وصیت کول.

36- د حضور صلی الله علیه وسلم صحابیانو ته کنځل کول

37- خپل ګاونډی ته تکلیف رسؤل.

دا بره بیان کړے شوي ټول غټ ګناهونه دي او پهٔ دې کښې کهٔ چرې یو هم دا نسان نه اوشی نو دوزخ ته د تلو سبب جوړېدے شی.

هغه مسلمانان د چا نه چې دا سې غټ ګناهونه اوشی نو هغوئ له سمدستی توبه ویستل پکار دی او دا د خپل ځان سره لوظ کول پکار دی چې دا سې ګناه به بیا اونهٔ کړی.د

دوزخ اور د دنیا د اور نه یو کم اویا (69)درجې زیات دے
او د هغـه اور رنـگ د دنیـا د اور پشـان نـهٔ دے بلکـې د
تـارکولو پـهٔ شـان تـور دے . پـهٔ دوزخ کښـې بـه سـل (100)
فیصده تیاره وی او پهٔ هغه تورو تیـارو کښـې بـه د تـور اور
تـورې تـورې لمبې وي .د دوزخ اور بـه داسې اور وی چې
هغه به کافرانو لره ژوندي نهٔ پرېږدي او نهٔ به ئې مړهٔ کوي.
"او کناره به شي لـه پـند (نصیحت) نـه هغـه (ډېـر) بـد بخـت
،هغه چې داخل به شي اور لوئې (د جهنم) ته. بیا به نـهٔ مـري
پهٔ هغې کښې او نهٔ به ژوندي وي."
قرآن. سورة اعلی (87:11-13)
د دوزخ د اور اولنـۍ لمبـه بـه د کـافر د بـدن ټولـه غوښـه د
هډوکو نه بېله کړی. پهٔ هغه حالت کښې به هغه ژوندے وی
او چغـې بـه اوباسـی او فریادونـه بـه کـوی .د هغـه د چغـو
اوازونه به پهٔ دنیا کښې د انسان د چغو پشـان نهٔ وي بلکې
د خر د اواز پهٔ شان به اواز لری او چغې به اوباسی.
"وي به دوئی لره پهٔ هغې کښې چغې (او فریاد) او دوئـی بـه
پهٔ هغې کښې هېڅ نهٔ اوري."
قرآن. سورة الانبیاء (21:100)

د دوزخيانو وجودونه به غټ کړے شي او د هغوئ مخونه به تور وي. د دوزخي کافرانو وجودونه به دومره غټ کړے شي چې د دؤ (2) اوګو په مېنځ کښې به ئې دومره فاصله وي څومره چې يو تېز په اس سورلی کوونکے يوه فاصله په درې ورځو کښې وهي.

د ځينې دوزخی کافرانو د ژامې غاښونه به د احد د غر هومره غټ وي او د څرمنې پېړ والے به ئې څلوېښت لاسه (63 فټه) وي. د يو دوزخی کافر د ناستې ځائې به د مکې او مدينې په مېنځ کښې د فاصلې (410 کلوميټر) برابر وی د دوزخی کافرانو جامې به د اور نه جوړې وي او د هغوئ د اوسېدو ځائې به هم اور وی.

"او زورور دے او وينې به ته مجرمان په دغه ورځ چې تړلي شوي به وي په زنځيرونو کښې، قميصونه د دوئی به د تارکولو (تنزړو) وي او پټوي به مخونه د دوئی اور."

قرآن. سورة ابراهيم (14:49-50)

د دوزخيانو خوراک به "غسلين" (د دوزخيانو د زخمونو نه بهيدونکې ګنده ماده)، "زقوم" (تهوهر، بدبودار، تراوۀ او غنو والا خوراک)، "ذاغصه" (په حلق کښې انختونکے خوراک) او "ضريع" (غنې غنې واښۀ) وی.

"يقينا ونه د زقوم چې ده خوراک د ګناهګار د ے (وي) پـﺉ شان د تـانبې ويلې کړے شوې ،جوش بـه وهی پـﺉ خېټو کښې پﺉ شان د جوشېدلو اوبو ګرمو."

قرآن۔ سورة الدخان (44:43-46)

حضرت عبد الله بن عباس وائی چې حضور صلی الله علېـه وسلم اوفرمائېل :

"کﺉ چرې د تهوهرو يوه قطره دنيا ته راارتاؤ کړے شی نو د دنيا د ټولو ساه لرونکو د ژوند اسباب (يعنې د خوراک څښاک څيزونه) به تباه کړي۔ بيا د هغه کس به څﺉ حال وی د چا خوراک چې تهوهر وي۔"

(ابن ماجه۔ ترمذی)

دوزخيانو ته به د بره بيان کړے شوي خوراکونو نه علاوه د څښلو دپاره ډېر بدبودار او ګرم مشروبات ورکولے شي۔ دوزخيـانو تـه بـه د تنـدې ختمولـو دپـاره "مـاء حمـيم" (وېشـېدلې اوبـﺉ)، "طينـه الخبـال" (د دوزخيـانو خولـه)، "غسـاق" (تـور او زهـرو والا بـدبودار مشـروب)، "مـاء صـديد" (د زخمونـو نـه بهيـدونکے نـو او وينـه)، "مـاء کاالمهل" (د تېلو پﺉ وېخ کښې کښېناستلو والا مـادې پـﺉ شان وېشېدونکے مشروب)

"چې وروستو ددۀ دوزخ دے او څښولے به شی دۀ ته د اوبو د زۀ نه چې ګوټ ګوټ به اخلی او نۀ به ئې شی تېرولے او راځی به دۀ لره اسباب د مرګ د هر طرف نه او نۀ به وی دے مړ کېدونکے او مخکښې ددۀ به وی عذاب ډېر سخت."

قرآن. سورة ابراهيم (14:16-17)

فرښتو به ځينې کافرانولره پۀ زنځيرونو باندې تړلې وي او پۀ دوزخ کښې به ئې راکاږي. ځينې دوزخيانو کافرانو ته به زولنئ اچولے شوې وي او د تارکولو جامې به ئې اغوستې وي. د ځينې کافرانو پۀ مخونو باندې به د اور شغلې ورولے کېږي او دځينې پۀ مرو کښې به د غټو زهرژنو مارانو امېل جوړ کړے شوے وي.

د کافرانو او مشرکانو پۀ سرونو باندې به دومره ګرمې اوبۀ واچولے شی چې د هغوئ څرمن، وازګې او پۀ ګېډه کښې دننه کولمې، اينه، زړۀ، ګردې او هر څۀ به اوسېزلے شي.

"دا واړه ډلې جګړه کوونکي دي چې جګړې اوکړي پۀ باره د رب خپل کښې، پس هغه کسان چې کافران دي جوړې به شي دوئی لره جامې د اور نه، اړولے به شي دپاسه د سرونو د دوئی اوبۀ ګرمې، ويلې کولے به شي پۀ دې سره هغه څۀ چې پۀ ګېډه د دوئی کښې دي او پوستکے د دوئی."

قرآن۔ سورۃ الحج (22:19-20)

پۀ دوزخ کښې د اور یو غر دے د کوم نوم چې "صعود" دے۔ کافرانو او مشرکانو له به پۀ هغه غرۀ باندې د ختلو عذاب هم ورکولے شی۔ پۀ صعود نوم غر باندې به یو کافر پۀ اویا (70) کاله کښې خېژی او د هغې نه به ښکته رارتاوېږی او بیا به پۀ اویا کاله کښې خېژی او د عذاب دا سلسله به جاری وی۔

(ختـــــم شـــــده)

د مېلاوېدو درکونه

◄ اکرام برادرز بکسېلرز اېنډ سپورټس سنټر اودهیانه مارکیټ مینګوره سوات	725530
◄ ملاکنډ بکسېلرز اېنډ سټېشنرز ګلشن چوک مینګوره سوات	720319
◄ کالج بکسېلرز اودهیانه مارکیټ سوات	720638
◄ شعیب سنز پبلشرز اېنډ بکسېلرز مینګوره	722517

سوات	
◄بک پیلس نشاط چوک مینگورہ سوات	720542
◄ثناء بکسیلرز اینڈ شپورٹس سنٹر گرین چوک مینگورہ سوات	816066
◄اسلام بک سٹور نشاط چوک مینگورہ سوات	725835
◄ایف ودود بکسیلرز اینڈ سٹیشنرز مدین سوات	780329
◄ حبیب برادرز بکسیلرز خوازہ خیلہ سوات	744332
◄عبد الوھاب بکسیلرز اینڈ سٹیشنرز کالام سوات	830535
◄سید بکسیلرز اینڈ شٹیشنرز مٹہ سوات	792123
◄المینار بُک ایجنسی۔بٹ خیلہ۔ملاکنڈ ایجنسی	
◄الشمس بُک ایجنسی۔زمان مارکیٹ۔درگئی بازار ملاکنڈ ایجنسی	

◄جمیل برادرز بُک سېلرز ۔ بټ خېله بازار
ملاکنډ اېجنسی

◄ماسټر محمد امین بُک اېجنسی ۔ سخاکوټ ۔ ملاکنډ
اېجنسی

◄الازهر بُک اېجنسی ۔ درګی بازار ملاکنډ اېجنسی

◄یو نیورسټی بُک اېجنسۍ ۔ خیبر بازار ۔ پېښور

◄پښتو اکېډمی بُک شاپ پېښور یونیورسټی ۔ پېښور